


www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تحقیق په رڼا کښې د راغلي لیکونو د تولو نه غټه خوبي د محقق نیك نیتي ده. د هغه رویه (*Approach*) صحیح او د تحقیق هدف او مقصد يې مثبت دے. وکیل شاه په تحقیق کښې د نیمګړتیا او د ناپوره خبرې قائل نه دے، خپله نظریه او نکته به په اعتماد وړاندې کوي خو د خپلې زیر تحقیق نکتې، نظرئې، او مسئلې په سلسله کښې د ترلاسه شوي معلوماتو د وړاندې کولو نه پس کم او زیات د خپل هر تحقیقي لیك په ختمېدو په دغې موضوع د مزید لټون، ذمه واري د لوستونکو په غاړه کوي. د دې هر څه په رڼا کښې زه به په ډاډ وئیلے شم چې میاں وکیل شاه فقیرخېل د روان وخت د خپلو همځولو په ډله کښې د تحقیق د شعبې يو مثبت فکره محقق او د هغه کتاب د تحقیق په رڼا کښې د خپل نوعیت يو معلوماتي کتاب دے

**پروفیسر ډاکټر محمد همایون هما**

**هسکه مېنه، شېخ ملتون، مردان**

چاپخی: دانش کتابتون، قصه خواني بازار، پېښور تلیفون ۲۵۶۴۵۱۳

www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحقیق په رڼا کښې

میاں وکیل شاه فقیرخېل

د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ : www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټول حقونه د ليکوال سره خوندي دي

د کتاب نوم ——— د تحقيق په رڼا کښې

ليکوال ——— مياں وکيل شاه فقيرخيل

د چاپ کال ——— ۲۰۰۲ء

کتابت ——— محمد رسول "پښتو اکېډمي"

د چاپ ځاى ———

بيه ............ (۶۰) روپۍ

ناشر ——— سيد طاهر شاه، محمد آصف
سلامت شاه

www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# تړون

د خپل مور پلار په نوم
په ګور يې نُور شه
د چا په دُعاګانو چې زهٔ دَ
دنيا په ښون يم

میاں وکیل شاه فقیرخېل

د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ : www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library


| مخ | لیکه | شمیر |
| --- | --- | --- |
| ٦ | د تحقیق په دنیاکښې - یو عمومي تأثر او نورې خبرې<br>ډاکټر محمد همایون هماؔ | ١ - |
| ٢٣ | د کریمداد الف نامه او د هغې شرح | ٢ - |
| ٣٦ | د سعید خټک یو شعر | ٣ - |
| ٤٦ | صدیق څوک دے | ٤ - |
| ٦٥ | ابراهیم څوک دے | ٥ - |
| ٨٠ | نوم ورکے شاعر محمد سعید او د هغهٔ قلمي اثار | ٦ - |
| ٩٦ | پښتو کښې وړومبے منظوم طبيّ لغت | ٧ - |
| ١١٢ | خوشحال خان خټک او حکمت | ٨ - |
| ١٢٨ | فقیر جمیل بېګ (جمال خان رح) د شاعر په حېث | ٩ - |
| ١٤٧ | په تحقیق کښې د ماخذ اهمیّت | ١٠ |
| ١٩٠ | پښتو نثري ادب | ١١ - |


www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحيم



د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ : www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَ تحقيق په رڼا کښې

## يو عمومي تأثر او نورې خبرې

زه د خپلې ذاتي تجربې په رڼا کښې وايم او ددې فن ماهرانو هم د خبرې بنه په وثوق سره کړې ده چې تحقيق د ادب يوه کوچنۍ شعبه او يوه ډېره ګرانه لاره ده په دې کې کوچنۍ لار د تنګ درې پاره ډېره لويه سينه او زړه چاودون غواړي کله ناکله يو محقق په مودو مودو ديوې نکتې په لټون وي او څه وخت چې ديو اوږد منزل نه پس خپل ځان هدف ته نږدې او ګڼي نو يو ناساپه د هغه د مفروضې په ضد ديوې نوې نکتې په انکشاف د هغه ټوله خوارې او ستړياوې په اوبو لاهو شي او هغه چې د کوم ځائے نه ورومبے ګام اخستے وي په بېرته هم په هغه ځائے ولاړ ښکاري نو ځکه خو د تحقيق دې ګران کار ته هم هغه بنيادم زړه نيوے شي چې ځړې ناشونې ته د وړاندې نه په ذهني توګه تيار وي دَ تحقيق دلارې خنډونو ته زړه نهٔ بائيلي، دَ حوصلې خاوند وي او د تحقيق په لاره ډېر تيارهٔ ګټې ته بنهٔ په دونې تندې وړاندې کيږي- ما په خپل کتاب د تحقيق فن کښې دا حقيقت په ګوته کړے دے چې د تحقيق د کار د ګران والي سره



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

دا بېخي يو تکنيکي عمل هم دی د تحقيق کار هله کټور ثابتېدی شي چې دا عمل د دې د پاره د جوړولو په رڼا کښې سرته ورسولی شي ځکه چې د تحقيق (دا)نه په کوټلي دليلونو، قلمي مسودو، دستاوېزاتو او په زړو چاپي موادو ولاړه وي د يو محقق د ژورې مطالعې په رڼا کښې د زړو نظريو رد مقصد وي هغه نوې نظريې وړاندې کول غواړي او د دې لارې د نوو لارو د پاره د غور او فکر نوې نوې نکتې را منځ ته کوي په څه موضوع يو تحقيقي کار چرې هم قطعي او حتمي نه شي ګڼلی کېدی د تحقيق سره هميشه نوې مسئلې را پيدا کېږي او د زړو مسئلو حل را اوځي د حال تحقيقي کار د ماضي په حواله د مستقبل د محققينو د پاره د يوې رابطې کار ورکوي ډېره هم تکنيکي کار که چرې د تحقيقي رسمياتو د پوره کولو نه بغېر وکړی شي نو دا رنګ نورو محققينو ته د دغې تحقيق د استناد د پاره اساسي ماخذونو ته په رسېدو کښې ګرانې پېښېږي او يا ورته بېخي او نه رسي او په نتيجه کښې د دغه تحقيقي کاوش يو بې اعتباره دستاوېز وګرځي -

زموږ د پښتو په ادب کښې د تحقيق د لارې سواره ډېر لږ کسان دي او که چا په دې صنف کښې څه کار کړی دی نو د هغې ډېره لږه برخه د تحقيق د اصولو سره سمون خوري زموږ تحقيق کارانو د سرکاري ادارو د پښتنې او د لاس امداد نه بغېر په يوازې سر او ښه په نېک نيتي د مقدار



(c) ketabton.com: The Digital Library
www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لحاظ ډېر درانه کارونه کړي دي. بې شمېره ورک قلمي نسخې يې مدون کړي او د پښتو ادبي تاريخ کې تيارهٔ کونجونه يې رڼا کړي دي خو کم او زيات د غه ټول تحقيقي کاوشونه د تحقيق د پاره د ټاکلي شوي اصولو او د د سيستم په کتلو ډېره په گرانه پوره ختلي نو ځکه د عالمي سطحې د تحقيق معيار سره سمون نهٔ خوري او په دغې لحاظ زمونږ د پاره ډېرې کړه ترل لوکوتې گرانه پرېوزي -

زمونږ په تحقيقي ادب کښې د داسې غير معياري تحقيق کښې مثالونه بيا مونده شي - زهٔ دلته د دغې مثالونو د يو په يو ذکر په ځای د دغې څه ځلقه دا مجموعي تأثر وړاندې کوم چې په دغې تحقيقي کاوشونو کښې ځنې خود وړاندې نه د يو ټاکلي شوي مفروضې په بنياد په هرهٔ طريقه بنهٔ په منصوبه بندۍ د پرخوانۍ نظريې رد مقصد وي په تحقيق کښې دا رويه دد غې کار د بنيادي اصولو په ضد گڼلې کيږي ځکه چې تحقيق د نيتونو تيرې نهٔ مني - د تحقيق په لاره د زړو نظريو رد څهٔ شجر ممنوعه نهٔ ده، خو د دې رد د پاره نېک نيتې بنيادي غوښتنه ده - دغه ترديدي نکتې کهٔ چرې د تحقيقي سفر په دوران کښې په عمومي ډول منځ ته راشي او د تحقيق د يو زوړ عمارت د پاره د نوې ردې بنياد کړځي نو د څهٔ مصلحت کوششي له مخه د هغې نه ډډه د بنيادي اصولو نه خلاف خبره ده -
په تحقيق کښې دستاويزي ثبوت د اهميت وړوي او عقلي



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

دلائل ثانوي درجه لري - کهٔ چرې د انصاف په نظر ورو کتے شي او زموږ درانهٔ تحقیقي کاوشونه د تحقیق د دغې بنیادي اصولو په رڼا کښې او سنجولې شي نو په دغې پیمانه به زموږ د تحقیقي ادب یوه لویه برخه غیر معیاري ثابته شي-

زموږ د پښتو د تحقیقي ادب یوه لویه برخه په روایتونو ولاړه ده - په تحقیق کښې د روایتونو اهمیت په څېر ځائے ځکه چې په اسلامي طرز تحقیق کښې د روایت د منلو د پاره نهٔ کوم اصول منضبط کړي شوي دي هغه دُمره کلک ټور او دا دي چې په هغې د عمل نه پس د تحقیق په نتیجو د شک و شبې هیڅ ګنجائش نهٔ پاتې کیږي د حدیثونو په سنجولو او قبلولو کښې د علم حدیث ماهرانو د روایت هم دغه پاخهٔ اصول د نظر لاندې ساتلي دي، او د ثقه او مستند احادیثو یوه لویه برخه ئې راغونډه کړې ده چې د اسلامي فقې د پاره د بنیاد کار ورکوي نو کهٔ چرې په ادبي تحقیق کښې د روایت د سنجولو هم دغه بنیاد او ګرځولې شي نو د تحقیق پرې معیاري کیږي هم او مستند کېدے پرې هم شي خو زموږ په تحقیقي ادب کښې یکار راوستے روایتونه نهٔ سند لري او نهٔ تسلسل او د دغې رویې زموږ د تحقیقي ادب یوه لویه برخه غیر معیاري کړې ده - د ډېرو دیوانونو ترتیب و تدوین او بیا په هغې لیکلې شوې مقدمې د دغې رنګ مثالونه دي چې د تحقیق د اصولو په معیار د دغې اثار سنجول د وخت یو اهم ضرورت دے-

د پښتو د تحقیقي ادب د دغې نیمګړې او ناپوره کارونو د سرته رسولو ، زمونږ تحقیقي کارونه د تحقیق د عالمي اصولو په معیار د سنجولو او نوي تحقیق د معیاري کولو د پاره په انقلابي بنیادونو کار ډېر ضروري دے او د دغې اهم کار د پاره ، د داسې زړو ضرورت دے چې هغوي په یوه لېونۍ جذبه تحقیق د خپل ژوند مشن اوګڼوي او د پښتو د فخر وړ قامي تاریخ ، د پښتو شته من کلاسیکي ادب او د دغې ادب ارزښتناک آثار ، دنیا ته په داسې ډول وړاندې کړي چې د تحقیق د منلي شوي اصولو په کتنه پوره کېدو په بنیاد هر ځائے او هر چاته قبول وي او د هغې په نتیجه خپل پردو هیچا ته د شک و شبهې ګنجائش نه پیدا کیږي -

زما په خیال میاں وکیل شاه فقیر خیل هم د غه رنګ زړو څخه یو کېدے شي - ځکه چې ما په ابتدا کښې ویلي دي چې تحقیق د پاره ، د زړه زور ،، بنیادي شرط دے نو وکیل شاه لخپره زلمے دے د هغه د تحقیقي کاوشونو اندازه لګي چې د زړه زور ئې هم ښه زیات دے او هغه دغه توانائي د تحقیق نوعو نډې زړه سترې کار ته په کومه لېونۍ جذبه وقف کړې ده هغه به په دغه میدان کښې د هغه د ناموري سبب اوګرځي او دې سره سره به ئې تحقیقي کاوشونه د پښتو د معیاري تحقیقي ادب هم شته من کړي د هغه یو غټه خوبي دا هم ده چې د خپل کول د نورو لیکوالو پشان ئې په یو وخت د ادب په

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښیار لسو بېړوپېښي نهٔ دي ایښي او په یوه خله د تحقیق،
تنقید شاعرۍ افسانې او ډرامې په تورۍ کښې یو کې نهٔ
وهې سبکه د خپل طبعي رجحان له مخه صرف د تحقیق میدان
خوښ کړے دے او د خپل ادبي ژوند د ابتدا نه هم په دغې
صنف کښې ئې خپلې هلې ځلې جاري ساتلي دي د خپل دغې ذهني
استقامت په داد ئې په کال ۱۹۹۲ کښې د میاں حمد الله فقیرخېل
دیوان چې د ژوند زمانه ئې ۱۲۱۰ هـ نه ۱۲۹۳ هـ تو منتخب انتاز
کړې ده مدون کړو او د تحقیق په اصولو یو ښه د خپلې یوې
درنې معلوماتي مقدمې سره چاپ کړو د میاں وکیل شاه د غه مقد
کهٔ یو پله د میاں حمد الله د ژوند او کار په حقله بنیادي معلومات
فراهم کوي نو ورسره د هغهٔ د وختونو په هغې پېښو هم رڼا
غورزه وي چې د لوستونکو د پاره ډېر زیات تاریخي ارزښت
لري -

په روانو وختونو کښې د علم و فن حدونه، د انساني فکر
امکاني بورجلونو ته رسېدلي دي او بیا په هغې کښې د هر علم
او فن ډېره کښې شعبې او د هغې دومره بې شمېره برخې جوړې
شوې دي چې په مجموعي توګه په یو علم او فن دره پوهه کار
ممکن شوے نهٔ دے. د علم و فن د دغې خو ډو ورو دا تو له مخه،
تخصیص د نن صبا د وختونو یو بنیادي ضرورت دے یو هم خلق
یو روغ علم، یا په مجموعي توګه ټول فن ته د لاندې وتو په ځای
د کار د پاره د هغې یوه برخه خوښه کړي او په هغې کښې ټول عمر



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

څپې هلې ځلې جاري ساتي. میاں وکیل شاه فقیرخېل د وخت په دې ضرورت ډېر ښه پوهېدی نو ځکه هغه د تحقیق و تدقیق په عمومي شعبه کښې د ځان د پاره د ختکو په قامولۍ کښې د خپل جدّ امجد میاں جمیل بېګ (۱۰۲۳ھ - ۱۱۱۶ھ) او د هغه کورنۍ چې په فقیرخېل میاں کانو یادېږي د تاریخي او ادبي کارنامو په حلقه کښې د پلټنې او برسېرنې خصوصي، ذیلي څانګه (SUB — BRANCH) خوښه کړې ده. - د میاں حمدالله فقیرخېل د دیوان، تدوین او په هغې مقدمه، د وکیل شاه د دغې رنګ د تحقیقي کاوش د لومړۍ نمونه ده او اوس دا دے د تحقیق په رڼا کښې د هغه یو داسې څخه ده چې د هغې په اسویکو نو کښې شپږ مضمونو ته د سعید ختک یو شعر، صدیق څوک دے، ابراهیم څوک دے، فقیرجمیل بېګ د شاعر په حیث، خوشحال خان ختک او حکمت او په پښتو کښې بعضې منظوم طبّي لغت هم د هغه د خوښې د تحقیق د دغه ذیلي څانګې سره تعلق لري. - میاں وکیل شاه په دې حلقه زه ډېر خوش بخته کېنم چې هغه د تحقیق د طبعي رجحان سره د پښتو دېوې درنې علمي کورنۍ سره تړون لري او بیا هغه خپل صلاحیتونه د یو نسلي تفاخر د احساس لاندې او د قام ولۍ په یوه لیونۍ جذبه د خپل قام د پیاوړو شخصیتونو د تعارف او د هغوي د علمي او ادبي کارنامو لټون ته وقف کړي دي -

پکار دا ده چې د وکیل شاه د نظر لاندې تحقیقي څخه ډېره ډایا ندې د نوستونکو مخې ته راغلي وے، ځکه چې هغه د دې کتابت



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شوې مسوده زما د تاثراتو د پاره پوره یو کال آګاهو نه کړې وه. څو زه په دې دوران کښې د خپلې یوې اوږدې ادبي تحقیقي منصوبې په تکمیل کښې بوخت وم او په منځ منځ کښې د یک لوست څخه نور هنګامي کارونه هم دا پېښ اګېدل نو ځکه د دې کتاب اشاعت په دې زما د تاثراتو زما د خواهش په ضد دَ هسیارتیا په وجه ډیل شو، دا د وکیل شاه حوصله او په خپله دې د دنه تحقیقي څخه زما د یک اختتو څخه اراده بلکه فیصله وه چې هغه د خپل ناقلاره خوئ او حساس طبیعت باوجود — تر ډېره اوږدې مودې پورې سا دا بنسکله او په یو برخوردارانه احترام یې په زغم زما یک ته انتظار اوکړو — سره د ډېره هسیارتیا زه نه شم وېلې چې زما دا تار تارین تاثرات به د هغه د دې ډېره زور او په خوارۍ یکلې علمي او تحقیقي کاوش د پېش ند کښې د هغه د ډېره اوږد انتظار څخه حق ادا کړي او که نه خو دا په یقین سره وېلې شم چې زما دا نیمګړې شان یک به د تحقیق په ډګر د هغه د خوارۍ او د شوا خون نه ډک زړه ستړي مزل یو بې پلوه منشه ضرور او منلې شي -

د تحقیق په رڼا کښې — کومه کتابت شوې مسوده ما ته دا کړې شوې ده په دې کښې تر دې وخته لس تحقیقي یکونه شامل دي په تحقیق کښې د ماخذ اهمیت د کریم داد الف نامه او د هغې شرح او د پښتو نثري ادب په سر خطونو د درې عمومي موضوعاتو یکونونه پرته لکه چې وړاندې د کراوش شپږ مضمونونه



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د فقیرخېل میاں کانو د علمي کورنۍ د ځنې شاعرانو د اثارو ند د پېلتنې او د ادبي کارونو د توضیح او تشریح د هغې سلسلې کړۍ دي چې د وکیل شاه د خپل ژوند د مشرانو په حقله د تحقیقي کارونو مرکزي او بنیادي نکته وي -

د تحقیق په دنیا کښې د ډیکونو په بنیاد موږ د وکیل شاه په حقله ښه په ډاډ و ویلی شو چې هغه د خپل کول په تحقیق کارانو کښې یو داسې خواري کښ محقق دے چې د خپلې هرې تحقیقي هڅې د پاره ، د بنیادي معلوماتو را غونډولو نه پس هغې ته په ډېر شو خوند یو منطقي ترتیب ورکړي او بیا د دغې معلوماتو په ډاډ خپله تحقیقي مفروضه ښه په پخو دلیلونو او د دستاویزي حوالو په ذریعه یو داسې مثبت نتیجې ته اورسوي چې د هغې په تلو کښې تر هغې هیڅ څه باک نهٔ ښکاري تر څو چې د بل یو محقق له اړخه د هغه نه په زیاتو پخو دلیلونو او په مستند دستاویزي حوالو د هغې رد ممکن شوے نهٔ وي -

د تحقیق په دنیا کښې دا غونډ کړي شوي کم او زیات تول ټکو نه وخت په وخت د پښتو په مجلو کښې چاپ شوي دي او په دې کښې د وړاندې شوې د تحقیقي نتیجو په ضد تر اوسه هیڅ څه یک نهٔ دے راغلے نو ځکه د وکیل شاه د غه څېړنې تر دې وختونو قطعي ثابتې شوي دي - او زما په خیال نوموړی شاعر محمد سعید او د هغه قلمي آثار ، د سعید خټک یو شعر - صدیق څوک دے ابراهیم څوک دے او په پښتو کښې یو بېبې



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

منظوم طبي لغت د وکیل شاه د اسې تحقیقي کاوشونه دي چې د مفروضو د اثبات او د ناویاته انکشافاتو په وجه د تحقیق په ډګر یو تاریخي ارزښت لري -

انکشاف د نوو تحقیقي مفروضو پیشکش، د هغې بیا په منطقي ډول اثبات او د پخوانو تحقیق شوې نکتو په حقله د نوي ترلاسه شوي معلوماتو په رڼا کښې مدلل بحث او مثبت نتیجه زما په خیال د تحقیقي کار بنیادي هدفونه دي - د وکیل شاه د اکوشش وي چې هغه د خپل تحقیق د پاره نوې نوې مسئلې ولټوي - د تحقیق په بنیاد د پخواني ادب تیاره کټونه روښانه کړي او د کلاسیکي دور د نوم ورکو شاعرانو په حقله د شوي تحقیقي کار په باب له نوې نکتې رامنځ ته کړي -

د نظر لاندې کتاب کښې هغه په زړه شخوند نه دي وهلي بلکه بنه په شعوري ډول ئې د اکوشش کړے دے چې د تحقیق په ډګر د ادبي انکشافاتو نوی پشکي بل کړي په دې لړکښې هغه د ځنو زړو شاعرانو په حقله شوي تحقیق ته په خپل کوشش ترلاسه کړي د نوي معلوماتو په رڼا کښې کتلي دي-

دکریم داد الف نامه او د هغې شرح - د سرخط لاندې یک په دې انکشاف اړوانه د ے چې دکریم داد ابن انځون دروېزي د واصلتاً تحقیق نومې الف نامې شارح حافظ عثمان نو میږي د چا په حقله ډېر نوي تحقیق کاران د څهٔ مصدّقه معلوماتو په ورانديې کولو کښې پاتې



د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ : www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

راغلي دي ـ زموږ زلمي محقق د ذکرشوي الف نامې د يوې خطي نسخې په بنياد ستاپښلے شارح په ورومبي ځل د مجهوليت د تيرو نه په راښکاره کولو د اخون درويزه د اولاد ځنې ثابت کړے دے ـ

"د سعيد خټک يو شعر" د سرخط لاندې په خپل يوه کښې وکيل شاه د پښتو د سترو تحقيقي کارونو همېش خليل او صديق الله رښتين د هغه د يو شعرنه اخذ کړې دا نتيجه چې په دې کښې د خوشحال بابا نه علاوه د هغه د زامنو ذکر دے نبغ په نيغه په رد کولو د قرائنو نه دا ثابته کړې ده چې سعيد خټک د دې شعر

خان که اطلس دا شعارو اودلي دي
دد پو د رپو ورو نو تو کي هم بښکلي دي

په دويمه مصرعه کښې د خوشحال د ورونو ذکر دے ـ
د وکيل شاه په خيال د خان نه مراد لکه چې ښکاره ده خوشحال خان خټک دے چې د خپلې کورنۍ ټولو شاعرانو په خپل کلام کښې په خان ياد کړے دے خو په دويمه مصرعه کښې د هغه زامنو ته اشاره نه ده بلکه دا د هغه د دې ورونه ميان جميل بېګ، شمشېر خان او مير باز خان ياد کړي شوي دي ـ د ميان جميل بېګ نه پرته تر اوسه د خوشحال خان خټک د دوه نورو ورونو د ادبي حيثيت په حقله څه دستاويزي ثبوت منځ ته نه دے راغلے خو زموږ د زلمي محقق قياس د هغه د دليلونو په رڼا کښې د يقين بريد ته ورنږدې شوے دے او دا رنګ هغه په



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

دې لیک کښې د تحقیق د مروجه اصولو له مخه ډېرې نظرېې په رد یوه نوې نکته راوړاندې کړې ده او دهغه دا نوې نکته خصوصًا دخوشحال خان خټک د وروڼو شمشېر خان او میر باز خان دَ شاعرانه حیثیت په حقله دهغه یقیني لهجه د تحقیق کارانو دپاره دَ غور و فکر نوې لارې پرانیزي -

صدیق څوک دے، او ابراهیم څوک دے - دیو نوعیت دوه جُدا جُدا تحقیقي لیکونه دي زلمي محقق ددغې دواړو خوانو نوم ورکو شاعرانو دپېژندګلو دپاره د تحقیق یو شان تکنیک خپل کړے دے - دَ صدیق او د ابراهیم په نومونو ددغې دواړو شاعرانو دَژوند حالات او زمانه، د وختونو په تېرو کښې ورک پاتې شوې دي نو ځکه دپښتو تحقیق کارانو دهغوي په حقله خپلو لیکونو کښې دیو بل نه متضاد رائے وړاندې کړې ده او په دوې کښې یو هم دڅه کوتلي تحقیق په رڼا کښې ددغې شاعرانو د ځائے ځائیدو او د قام قبیلې په حقله په یقین سره څه نه دي ویلي وکیل شاه ورومبے محقق دے چې ډېر په شوانځون او د خپل قام ددغې دواړو شاعرانو د مونږ د لټون په یوه جذباتي هڅه د هغوي دکلام دداخلي شهادتونو په مدد که هغه ورته هم څو دخپلې علمي خاکسارۍ په وجه حتمي او قطعي نتیجه وانۀ یوه کوتلي رائے قائمه کړې ده او د بنهٔ پخو دلیلونو په بنیاد ئې دا ثابته کړې ده چې صدیق او ابراهیم دهغهٔ د حبیب امجد میاں جمیل بیګ زامن دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پښتو روبېه منظوم طبتي لُغت د سرخط لاندې ليک کښې دا انکشاف شوے دے چې د هغه په لاس را غلے د مفردات افغاني د نامې نسخه د پښتو په ادبي تاريخ کښې وړومبے منظوم طبتي لُغت دے او دا لُغت مياں تجمّل شاه فقيرخيل تصنيف کړے دے څوک چې د پښتو د يو صاحب ديوان شاعر مياں حمد الله فقيرخيل زوئ دے -

نوم ورکے شاعر محمد سعيد او د هغه قلمي آثار، د ابک خيل مياں کانو د يو گمنامه شاعر محمد سعيد (۱۲۶۳ھ تا ۱۳۱۱ھ) چې د مردان د کاټلنگ په علاقه کښې د اوديگرام نومې کلي او سيد و نکے وُ د ژوند او کار په حقله يو ډېر معلوماتي مضمون دے، په دې ليک کښې مياں وکيل شاه، دا انکشاف کړے دے چې مياں محمد سعيد ابک خيل د خوشحال خان خټک نه پس د پښتو دويم شاعر دے چې منظومه سفرنامه ئې تصنيف کړې ده د ا مضمون، د نوم ورکو شاعرانو دَ د لټون دَ جذبې او په هغوئ د کار يوه ارزښتناله نمونه ده.

د تحقيق په رڼا کښې را غلي چې د کومو ليکونو ذکر او شو په دغې هر يو کښې د څهٔ نوې خبرې کوشش شوے دے او څهٔ داسې نظريه مسئله او نکتّه راوړاندې کړې شوې ده چې په هغې دَ مزيد تحقيق امکانات شته دے - په کتاب کښې څنې داسې ليکونه هم شته د ذکرشوې مضمونونو د عمومي مزاج، او رنگ نه قدرې بدل ښکاري - په داسې نمونه ليکونو کښې دَ پښتو نثرې ادب دَ موضوع په اعتبار يو معلوماتي ليک دے



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

څو اندازې تدریسي دے. د موضوع د غوښتنې له مخه د معلوماتو په پېشکش کښې قدرې تفصیل او د خوشحال خان خټک نه پس د جدید دور د نثر په ذکر به دا لیک لږ هم وقیع شوے وُ.

په تحقیق کښې د ماخذ اهمیت د ثانوي مضمون کښې د تحقیق د فن دیو بنیادي توکي په حقله به د دې موضوع لیکلي شوي کتابونه ډېرې معلوماتي خبرې راټولې کړے شوي دي ددې لیک نه اندازه لګي چې وکیل شاه د تحقیق د فني غوښتنو څخه پخپله هم ښه خبر دے او غواړي چې د تحقیق د لارې نوي لاروي په دې لارو د تګ نه وړاندې د دې فن په ضرورتونو ځان پوهه کړي.

خوشحال خان خټک او حکمت او فقیر جمیل بېګ" د شاعر په حیثیت د تحقیق د رنګ سره د موضوعاتي اندازیکونه دي او په دې کښې د موضوع په مناسبت زمونږ د پښتو د ادبي تړکه د دې دواړو ستورو ستهو د کار په خصوصي اړخونو ډېر اهم او بنیادي معلومات وړاندې شوي دي، د میاں جمیل بېګ" په حقله لیکلے شوے مضمون کښې زمونږ د دې غوره پیاوړي شوي شخصیت په ادبي اړخ د وړاندې کار د پاره ډېر اهم مواد بیا موندے شي.

اوس یو څو خبرې د دې تحقیقي لیکونو د ژبې په حقله او بیا به د هغې په رڼا کښې د وکیل شاه د بیان د اسلوب د قدرونو د کوشش کوُم. د تحقیقي لیکونو د پاره د بیان اسانه، د شاعرانه



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

اړه پېچ نه عاري صفا ژبه او د معلوماتو د پېشکش براه راست طریقه ضروري وي. د تحقیق ژبه رنګین بیاني نه، زغمي او نه د شاعرانه صنعتونو پاتنه داره وي ځکه چي داسې د ژبي نو معنويت او صنعت ګري د تحقیق مقصد ته په رسېدو کښې ګرانوالې پیدا کوي او اهداف يې ګړوديا پس منظر ته لاړ شي نو ځکه د تحقیقي نوعیت هغه یکونه زیات اثري وي چي په کښې په ژبه د لوستونکو د مرعوب کولو په ځاے تحقیق ته پاملرنه شوي وي په تحقیق کښې د هغې تیقن بنیادي اهمیت ضروري ځکه چي د محقق تذبذب د هغه په خپل کار د یې یقینیت تاثر ورکوي. البته په تحقیق کښې د هم چوما دیګرې نیست په شان فرعون رنګه دعوې او یوه تحکمانه رویه هم د تحقیق په نتائجو منفي اثر پرېباسي. تحقیق کښ هر څو یو زړه سترې او پیچیده عمل دے نو د تحقیق موادو د پېشکش دپاره مناسب یک ډول (PROSE STYLE) ځان ته یوه ګرانه مسئله ده او د دغې چل د را لاندې کولو دپاره یوه اوږده تجربه ډېره ضروري ده -

میان وکیل شاه فقیر خېل ذلمے دے، د تحقیق کوکښېنه لار هغه ځان ته په خپله خوښه کړې ده په دغې صنف کښې د نوي نوي موضوعاتو په لټون خپل تحقیق ته د خلقو د پام راګرځولو شوق او جذبه لري. او د دې دپاره چي هغه کوم یک ډول خپل کړے دے هغه ساده او روان دے او د وخت د تېرېدو سره

به نور هم صفا او ساده شي. زمونږ ددې محقق د یک بنیادي تکنیک د تمهید طوالت دے چې په کښې هغه دیوې خبرې په تکرار او دیو تکي د متن او د فاتو په پر له پسې راو ستو د اکوشش کوي چې د ښیل تحقیق بنیادي نکته د لوستونکو زړه او ذهن ته پر پساسي، کله ناکله د هغې د یک په تکراري اسلوب د تکو په معنویت کښې فرق پیدا شي خو د تحقیقي نکتې د اهمیت په وجه مفهوم ئې بیا هم ذهن واخلي. د تحقیق په دنیا کښې دا غلي یکونو د تپولونه غتېه خوبي د محقق نیک نیتي ده. د هغه دوېته ( approach ) صحیح او د تحقیق هدف او مقصد ئې مثبت دے. وکیل شاه په تحقیق کښې د نیمګړتیا او دَ ناپوره خبرې قائل نهٔ دے، خپله نظریه او نکته بنهٔ په اعتماد وړاندې کوي خو د خپلې زیر تحقیق نکتې، نظر ئې، او مسئلې په سلسله کښې د ترلاسه شوي معلوماتو د وړاندې کولو نه پس کم او زیات د خپل هر تحقیقي یک په ختمیدو په د ئې موضوع دَ مزید لټون، ذمه واري د لوستونکو په غاړه کوي. ددې هر څه په دنیا کښې زهٔ بنهٔ په داډه و ویلے شم چې میان وکیل شاه فقیرخېل د روان وخت د خپلو همځولو په ډله کښې د تحقیق د شعبې یو مثبت فکره محقق او د هغه کتاب د تحقیق په دنیا کښې د خپل نوعیت یو معلوماتي کتاب دے.

پروفیسر ډاکټر محمد همایون هما
هسکه مینه شیخ ملتون. مردان



(c) ketabton.com: The Digital Library
www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کریم داد الف نامه او د هغې شرح

پښتو ادب کښې په مختلفو دورونو کښې لوے لوے عالمان شاعران محققین مؤرخین تېر شوي او په دغه مختلفو دورو نو کښې ئې ځان له ستر مقامونه موندلي په دغه دورونو کښې دوېم دور دے چې په یولسمه او دولسمه صدۍ هجري پورې پاندې محیط دے په دغه دوېم دور کښې موږ د دوو ډلو سره مخامخ یو چې یوه ډله د ستر صوفي او پیر بایزید روښان ده چې په روښاني ډله یادېږي او بله ډله د اخوند درویزه او د هغه د پیر سید علي ترمذي ډله ده چې د دې روښاني ډلې په مخالفت کښې په وجود کښې راغله او دا په هغه وخت کښې جوړه شوه چې هرکله ستر صوفي بایزید روښان د تصوف طریقت وحدت الوجود علمبردار جوړ شو او د روښاني تحریک بنیاد ئې کېښود او بیا ئې د خپل نصب العین سرګندولو د پاره په پښتو ژبه کښې خیرالبیان نومې کتاب ولیکلو چې په هغې سره د پښتنو په سیمه په دیني او مذهبي حلقو کښې هلې ځلې او بې آرامي پېدا شوه او پیر روښان پیر تاریک نوم سره یاد کړے شو او د دې کتاب په رد کښې د دویمې ډلې ستر عالم اخوند درویزه بابا د مخزن په نوم په پښتو کښې کتاب ولیکلو او د دغه دواړو کتابونو په پښتو ادب کښې لوړ مقام وموندلو او په دغه دور کښې د پښتو نثري او منظوم ادب په



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ذريعه موږ ددين د مختلفو اړخونو او اصطلاحاتو نه متعارف شو او د شريعت - طريقت - معرفت - قربت - وصلت - وحدت - سکونت لار ښودنه يې راته په خپله پښتو ژبه کښې اوکړه او پښتو ادب په ديني او عرفاني لحاظ په دغه دورکښې وده اوکړه په دغه دورکښې د اخوند درويزه زوے اخوند کريمداد هم لوے علميت او حيثيت لرلو په ۹۶۵ هـ کښې زيږيدلے وُو د خپل پلار تصنيفات او تاليفات يې هم را جمع کړي او ورسره د خپلو کښو تصنيفاتو او تاليفاتو خاوند هم وو په ۱۰۷۲ هـ کښې شهيد کړے شو او په کالجو سوات کښې يې مزار دے چې په شهيد بابا شهرت لري هسې خو د دوئ ډير تصنيفات دي چې په هغې کښې د دوي ديوان هم شامل دے خو په پښتو ادب کښې يې "الف نامه" زيات شهرت موندلے اخوند درويزه بابا هم الف نامه ليکلې د غه شان د دوي په کورنۍ کښې مصطفیٰ محمد او عبدالحليم هم الف نامې ليکلي خو ددې نه علاوه کښې د الفنامو روښاني شاعرانو بنياد ايښودے دے چې په هغې کښې دارزاني - مرزا انصاري - علی محمد مخلص - دولت لواڼي غوندې لوې لوې شاعران شامل دي - اخوند کريمداد چې کومه الف نامه ليکلې دا يې د مخزن سره يوځائے کړې ده - د الف نامې په باره کښې د افغانستان سر محقق ګران او محترم زلمي هيواد مل صيب په خپل کتاب "په هند کښې د پښتو ژبې او ادبياتو د ايجاد او ودې پړاؤ نه" په صفحه ۱۸۲ باندې ليکي -

په الف نامه کښې شاعر له خپل مشرب سره سم د الف با



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرتوري په یو بېت یا بېتونو کښې تشریح کوي د حروفو دغه ډول اسرارو ته توجه لرل په ځینو مذهبي او عرفاني لارو کښې یو اصل ګڼل کېږي -

د شال په توګه موږ دلته دکې یمداد د الفنامه د بیلو بیلو حروفو دیو یو شعر نمونه وړکوو. لکه

الف :- اے طالبه الف یو ګوره له فیمه
ددې دواړو معنیٰ هیمه
ب وجود ظاهر په بې شه
عین هغه عکس هوئے شه
ت توحید دې ته ګوره
چې جلوه کا نور د لوده
ث ثبوت دے د ذات دے
کل دا غیر ثبوت دلات دے

دغه شان په دې حساب سره د هر حرف لاندې یو تفصیلي کلام لیکلے شوے دے دکې یمداد د الف نامې شرح لیکلې شوې ده چې دریو کسانو لیکلې یوه شرح د حاجي عبدالله قصوري رح "کلمات الوافیات" ده دویمه د حاجي بهادر کوهاټي رح مفتاح الدقائق ده او دریمه شرح د عثمان ده ددې دریمې شرح په باره کښې د افغانستان سر محقق ګران زلمي هیواد مل صیب د خپل کتاب " د هند دکتابخانو پښتو خطي نسخې " په صفحه ۲۸۹ باندې د شرح مخزن سرخط لاندې یې لیکي -



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوغې شرح په پیل کښې دکریمداد ۱۰۷۳ھ ق مې دَ
الف نامه شرح را غلې او تر الف نامه روستو ئې دمخزن
څنې نورې کښې شروع کړې دي د شرح په دې نسخه
کښې دکریمداد الفنامه د"ن" تر پټې پورې را غلې ده
او نوره برخه ئې د مخزن د نورو مطالبو شرح ده - شرح
په پارسۍ ده شرح په پیل کښې کومه مقدمه نهٔ لري چې
د شارح نوم ته دې اشاره په کښې وي د نسخې په پائې کښې
د عثمان نوم را غلے او ما په شک د شارح په توګه معرفي کړے
خو باور يې پرې نهٔ یم -

او بیا ورپسې ددې کتاب په صفحه ۲۹۰ باندې هم داد مل صب ليکي -
مونږ ته د کریمداد د الفنامه دوه شرح نورې هم معلومې
دي چې د غه شرح مقدمه لري او شارحینو په مقدمه کښې
ځانونه معرفي کړي مګر په دې نسخه کښې مقدمه نشته
او په پائې کښې را غلي دي -

"الٰهي تو حافظي محفوظ کن عثمان"

په همدې اساس ما د اشارې په توګه معرفي کړے دے
خو باور يې پرې نهٔ یم -

او بیا ئې ددې عثمان باره کښې د نېد بل يو کتاب چې ذکر ئې مخکښې
را غلے "په هند کښې د پښتو ژبې او ادبیاتو ايجاد او ودې پړاونه"
په صفحه ۱۹۵ باندې د عثمان د سرخط لاندې ليکلي

ارواښاد قاضي محمد عمران خان تپونکي (۱۹۲۹ء – ۱۹۸۲ء)



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په خطي مجموعه کښې د مخزن الاسلام یو شرح شته چې دَ
شرح شارح په غالب گمان عثمان نومیږي او د شرح په
پای کښې را غلي "الهٰی تو حافظی محفوظ کن عثمان"
د شرح مخزن دې نسخې خاوند قاضي محمد عمران خان
د قاضي عمرخان بن عبدالحلیم زوی دی او د عبدالحلیم
په نامه کښې به دوه تنه یاد شوي چې یو عمران او بل عثمان
دا خو وو د الف نامې د شرح باره کښې چې عثمان لیکلي متعلق د گران زلمي
هیوادمل صیب لیکنه او تحقیق. د محترم هیوادمل صیب د دې لیک او
تحقیق په مرسته کښې او په دنیا کښې غواړم چې څه لیکل وکړم
او که دې شي چې زما د غه لیکو سره نور نوي معلومات را برسېره شي.
او دا لیکل به هم د دغې شرح په دنیا کښې وي کومه شرح چې په ریاست
ټونک هندوستان کښې د قاضي محمد عمران خان په خطي مجموعه کښې
هیوادمل صیب لیدلې کتلې ده دا به د گران هیوادمل صیب د پاره دَ
خوشحالۍ باعث او گرځي چې د لته زه دا انکشاف وکړم چې کومه شرح
دوي په ریاست ټونک کښې لیدلې کتلې او لا تر اوسه په دې سیمه
چا سره معلومه نهٔ ده هم د غه شرح د عثمان په قلمي شکل کښې سره
د یو تفصیلي مقدمې زما سره په خپله ذاتي کتابخانه کښې موجود ده.
هیوادمل صیب وائي چې د ټونک د شرح نسخه مقدمه نهٔ لري خو
زما سره موجوده نسخه مقدمه لري خو د دغه مقدمې یو څو
پاڼې شلېدلې دي او د خوش قسمتۍ په دغه شلېدلې پاڼو کښې
د مطلب دغه پاڼې موجود دي په کومه سره چې مونږ پرې خپل مرام



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته رسو اودا په ښهٔ ډاډ سره وښيلې شو چې د دې شرح شارح عثمان دے او د ګران سر محقق هېواد مل صيب هغه شک په يقين کښې بدلوي چې واقعي عثمان د دې شرح شارح دے د دې مقدمې نه به دلته کښې هغه اقتباس پرو ببے او ويکلو په کوم کښې چې د وي يعنې حافظ عثمان د شرح سبب ښائي چې هغه څهٔ اسباب دي چې دا شرح اوليکلې شوه د وي ليکي -

سيد علي ترمذي قدس الله سره العزيز باخون حاجي البدعت وبقيم السنت عارف بالله درويزه رسيده بود نور رحمت الله عليه وازين باعلم رباني شهباز لا مكان نيے محقيق اخون کريمداد عليه الرحمة رسيده است اوبه نور عالم وحدت معنى سيى حرف رابر زبان افغاني بيان کرده وآن معني هما حقائق ومعارف الاهي بودند وآن حقائق ومعارف الهي روشن وواضح به طالبان حق نه بودند پس احتياج به شرح ان معاني افتاد که معنى آن سيى حرف واضح در روشن شود به طالبان حق اين يک سبب شرح شد و ديگر سبب شرح اين است که بسيار مومنان طالبان انسان واصل حق اند براي آنکه آن انسان واصل حق مارا بحق وصل کند وآن انسان واصل حق پوشيده است بحکم اين حديث قدوسي اوليائي تحت قبائي لا يعرفهم غيري پس تصنيف شد اين شرح که پوشيده نيست پس بدست هر کسے که اين شرح رسيد واين شرح را از اول تا آخر در مطالعه آورد به کرامت مرات وانچه دران شرح است



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ادو هغه اقتباس د کوم نه چې معلوم شو چې حافظ عثمان د دې شرح شارح دے او هغه چې د شرح په آخرکښې د الهٰی تو حافظي محفوظ عثمان " کوم الفاظ ليکلي او ګوان هېواد مل صيب دَ دې الفاظو په رڼا کښې دے شارح ياده وې او س نو د پس ه وا ضحه شوه چې نهٔ يوازې په دې الفاظو ليکلو بلکه په د غه ذکر شوي د مقدمې اقتباس نه نو بالکل ښکاره شوه چې عثمان دا شرح ليکلې ـ لکه چې مخکښې وښيلې شوي دي چې د کوميدداد دَ الف نامې دوه شرحې نورې هم شوي دي چې نومونه کلمات الوافيات او مفتاح الدقائق دي نو د غه شان حافظ عثمان هم دې خپلې شرح ته نوم اېښودے دے دلته به هغه اقتباس راواخلو په کوم کښې چې د دې شرح ته نوم ورکړے شوے دے دوي ليکي ـ

و نام نهاده شد اين شرح را شرح واصلة الحق باميد آنکه حق سبحانه تعالیٰ مطالعه کند اين کتاب او عمل کند اين کتاب را به سبب اين کتاب بخود وصل کند وصل حق محو شدن شده است معنی و همين دارد رسيدن بحق و وصل و قرب حق و فنا في الله همين معنی است که محو شدن شده است

د دې اقتباس نه معلومه شوه چې د دې شرح نوم "واصلة الحق" دے د دې نه پس په دې مقدمه کښې د دې کتاب د ابوابو ذکر دے چې اول باب د علم توحيد دے او د غه شان ورپسې نور بابونه



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بران عمل کرد ومداومت نمود بآن امید است از حق سبحانه وتعالی که بوسیله این شرح ان طالب را بحق وصل کند به سبب انکه وسیله بحق علم وعمل است پس سبب این شرح علم وعمل حاصل کرده ووصل حق عبارت از کم شدن بنده درحق ........

ددې شرح سبب د ډیکلو داد ے چې په دې د خدائ پاک پېژندنه اود حق دنیا وه اود ا هرڅه د ې د پاره د عمل اود حق د پېژندنو او غوښتونکو مومنانو انسانانو ته واضحه شي او حق سره ملګري شي اوددې شرح سبب هم دا وو چې د حق طالبان ته دا شرح اورسي او نورو خلقو ته ډېر هم د فائد او د عمل علم سبب اوګرځي دا مقدمه ډېره تفصیلي ده ځو په دې مقدمه کښې چې کوم اقتباس سره د ګران محترم ذلمي هېواد مل صیب هغه شکچې عثمان شارح د ے اوکه نه په یقین کښې بدلېږي هغه به دلته داوړم چې هغه دا رنګه د ے -

پس هرګاه که طالب حق وصل حق را حاصل کرد به سبب مطالعه بسیار این شرح وسبب عمل این شرح این بنده ذلیل را که از هستی خود بریده است وبه هستی حق پیوسته است وخاکپای دوستان خدا است که مسمی است به حافظ عثمان عفی عنه بدعا یاد کند که حق سبحانه تعالی از ورا فیے شود وبه دیدار خود مشرف کند



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دي د مقدمې د طوالت په وجه د لته کښې ما د مقدمې نه ځائے په ځائے هغه حصې او لیکلې د کومې نه چې نورے معلومات موږ ته تر لاسه کېږي او کېدے شي چې په دې مقدمه کښې نور هم څه داسې وي نو ترکومه چې ما دا اوکتله نو نور په کښې د شرح متعلق د عثمان خېل خیالات یک دي ددې مقدمې نه پس د الف نامې شرح شروع کېږي چې د بسم الله الرحمن الرحیم نه پس لیکي۔

ای طالبه الف یو کوره له میمه

شرح ای طالب حق اگر طالب حقی صدقاً طریقه طالب این است اول وجود وذات وصفات خود را همه نفی کن ووجود صفات حق را ثابت کن پس ازاں وجود وذات وتمام مخلوقات را نفی کن وجود خدا را ثابت کن ...... ....

دغه شان ددې شرح په پای هم هغه الفاظ را غلي کوم چې محترم زلمي هېوادمل صیب په خپلو کتابونو چې ذکر يې په دې مضمون کښې راغلے لیکلی نو د لته دغه آخرینې اقتباس لیکم چې په کښې حافظ عثمان په دې شرح ختمېدو د لوئے خدائے شکر ادا کړي۔

الحمد الله علی اتمام حمداً دایماً بدوام الله تعالیٰ والصلوٰة علیٰ نبی محمد سید العالمین صلوٰة مُستمرّةً باستمرار الله تعالیٰ الٰهی تو حافظ محفوظ کن عثمان عشی را از دین غیر حق درهر دوسرائے بحرمت نبی محمد سید الکل مع الکل صلی الله علیه وسلم بعد ومعلوم الله تعالیٰ و معدود الله تعالیٰ و



د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ : www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

علی تابع کذالک بتاریخ شهر شعبان روز جمعه این کتاب
باختتام رسید تمام شد -

(۱) اقتباس ما دلته په دې وجه درج کړو چې محترم هېواد مل
صیب کوم اقتباس د تېوشکي نسخې نه درج کړے په هغې او په دې الفاظو
کښې څهٔ لږ دېر فرق دے لکه په هغې کښې "توحافظ محفوظ کن عثمان
ترا از دیدن" درج دے او دلته زما سره د نسخې په آخر کښې "دُ ترا" په
ځاے عشی را از دیدن د غه شان په هغې کښې "در هر دو جهان" یکلي
او په دې نسخه کښې "در هر دو سرائے" یک دے -
دغه شان د کتاب لیکلو نېټه په هغې نهٔ ده یکلې او په دې نسخه کښې
بتاریخ شهر شعبان روز جمعه این کتاب باختتام رسید لیکلے شوے چې پاتې
او ورځ ترې معلومېږي چو کال ئې نه دے لیکلے-

په دې شرح کښې د شپږو پاڼو اضافي یک هم شته چې د الف
نامې د شرح سره څهٔ تعلق نهٔ لري بلکه د الف نامې شرح چې ختمه شي
نو د عبارت په تفصیل سره د بسم الله الرحمٰن الرحیم نه شروع کېږي
چې د دغې سرنامه دا رنګه ده -

بسم الله الرحمٰن الرحیم

پس ای غلام قادری اگر طالب سلسلهٔ عالیه قادری بر مجاہدات شاقه
انحضرت نگاه کن و برکات ان حضرت که بمنزلهٔ آب حیا تند کوشش
دل را پیوسته دار که انحضرت چه میفرمایند-
اے غلام بر تو باد صدق و صفا اگر این ہر دو نمی بودند تقریب حق



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبحانه و تعالی مر ترا هرگز میسر نمیشود ای غلام تفقه کن پس ازان اعتزاز کن ازانکه هرکه عبادت خدای عزوجل کند بغیر علم است فساد بیشتر ازان بود که سبب اطلاع

د حافظ عثمان متعلق په مقدمه کښې نورې معلومات نیشته چې دے د کوم ځائے دے. نوکوان محترم زلمي هیواد مل صیب د خپل کتاب "د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې" او بل یو کتاب " په هند کښې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاؤنه" کښې لیکلي چې اخوند عثمان او اخوند عمران د اخوند عبدالحلیم بن عبدالله بن اخوند درویزه اولاد کښې دے او بیا داهم لیکي چې په تهونک کښې د عثمان شرح مایدلی کتبي او دا شرح د اروابناد قاضي محمد عمران تهونکي په خطي مجموعه کښې پرته ده د غه محمد عمران دا عثمان د خپل خاندان سره تړي او وائي چې په دې نسبت سره عثمان زمونږ د خاندان سره تعلق لري او کورني دا رشته ملاویږي - د نسخې خاوند د قاضي عرفان بن عمران بن عبدالحلیم زوی دے او د دغه عبدالحلیم په زامنو کښې دوه تنه یاد شوي یو عمران او بل عثمان -

د دې بیان نه معلومیږي چې د عثمان متعلق معلومات نشته چې دے د چا په اولاد کښې دے. څو که مونږ دې اضافي عبارت ته غور اوکړو نو مونږ څه نا څه اندازه لګولے شو چې عثمان د چا په اولاد کښې دے دا خبره هم کول غواړم چې زه څه وایم د عثمان متعلق نو دا زما خپل یو سوچ او تحقیق کېدے شي دا څه ختمي خبره نه ده کیدے



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي چې غلط وي که موږ چرې په دې يوه نيمه کوښه سوچ اوکړو لکه چې وائي -

> پس اې غلام قادري اګر طالب سلسله عاليه قادريه بر مجاهدات شاقه انحضرت نګاه کن .....

نو داسې معلومېږي چې عثمان هم د سلسله قادريه سره تعلق لري او د غه شان اخوند درويزه هم د تصوف په څلورو طريقو کښې د سلسله قادريه سره تعلق لري لکه چې اروابناد عبدالحليم اثر افغاني صيب روحاني رابطه په صفحه ۵۱۳ د اخوند درويزه په بيان کښې ليکي

> اخوند درويزه د پير بابا عليه الرحمة د لاس نيوه کړې ده چې بيا روستو هغه يې خپل خليفه او ماذون کړو په څلورو طريقو يعني قادريه - سهرورديه - چشتيه او کبرويه کښې اجازت ورکړے او په پنځمه طريقه شطاريه کښې هم خليفه او مجاز کړے وو -

په دې اقتباس او د عثمان په اقتباس که غور وکړے شي نو داسې معلومېږي چې عثمان د اخوند درويزه بابا د طريقه قادريه سره تعلق د هغوي په وجه ساتي - ولې چې زما په خيال د دې تعلق ساتلو وجه د نيکۀ او نمسي ده او په دې وجه عثمان د خپل نيکۀ کړيمداد د الف نامې شرح ليکي او زما د تحقيق ياد يې په دوسره د کسان محترم زلمي هېواد مل صيب هغه شک چې عثمان بن عبد الحليم بن عبدالله وخونددرويزه په اولادکښې دے په يقين کښې بدلېږي او د قاضي



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

عمران خان ټونکي د غه خبره دد کوي چې عثمان زموږ په خاندان کښې
دے - وس د دې شرح باره کښې به لږ ليکل وکړو - دا شرح په توره
سياهي په خط نستعليق کښې ډېره ښکلې ليکلې شوې ده او سره سياهي
هم په کښې ځاے په ځاے استعمال شوې په دې شرح کښې اخوند کويمداد
په محقق سره ياد کړے دے او د الف نامې د شعر نه مخکښې ئې "قوله م"
الفاظ په سره سياهۍ ليکلي او د غه شان ئې شرح په "ش" سره په سره
سياهۍ ليکلې د پانو شمېر ئې ۱۸۰ دے په هر مخ ۱۳ کرښې لري ژبه پارسي
ده کاغذ ئې د بل دے د شرح په ابتدا کښې مقدمه ده او په آخر کښې څه
وظائف درج دي چې دا هم په د غه شپږو اضافي پانو کښې يک دي -
د دې ټول بحث خلاصه دا ده چې کومه شرح سر محقق کران زلمي هېوادمل
صيب په رياست ټونک کښې د قاضي عمران خان په خطي مجموعه کښې ليدلې
کتلي او لا تر اوسه په دې نيمه معلومه شوې نه ده د غه شرح د راقم شو
په قلمي شکل کښې په کتابخانه کښې موجود ده دا شرح مفصل مقدمه لري
د دې مقدمې په رڼا کښې موږ دا وښيلے شو چې عثمان د دې شرح شارح
دے او عثمان د اخوند درويزه بابا په اولاد کښې دے او د کران هېوادمل صيب
د ورکړې شوې شجرې عثمان بن عبدالحليم بن عبدالله بن اخوند درويزه
مطابق صحي ده نه چې د قاضي محمد عمران ټونکي د خاندان سره تعلق لري
په دې مقدمه کښې عثمان د دې شرح نوم "واصلة الحق" ايښودے دے د غه
شان د کويمداد الفنامه د عبدالله قصوري "کلمات الوفيات" د د حاجي
بهادر کوهاټي "مفتاح الدقائق" او د عثمان "واصلة الحق" په نوم نوشو
شرح معلومې شوې دا وو د دې شرح متعلق زما تحقيق چې مې د خپلو قدرمنو



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لوستونکو په مخکښې وړاندې کړو چې د محققینو دپاره د تحقیق موجب اوګرځي -

## کتابونه


۱- عثمان واصلة الحق شرح الف نامه کریمداد قلمي نسخه د میان وکیل شاه فقیرخېل په کتابخانه کښې -

۲- هېواد مل زلمي د هند د کتابخانو د پښتو خطي نسخې د افغانستان د علومو اکېډیمي کابل ۱۳۶۶ هـ ش -

۳- هېواد مل زلمي په هند کښې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه لاهور ۱۳۷۳ هـ ش

۴- رضا محمد افضل د پښتو غزل پښتو اکېډیمي پېښور ۱۹۲۸ م

۵- اخون درویزه مخزن پښتو اکېډیمي پېښور ۱۹۶۹ م

۶- اثر افغاني عبدالحلیم روحاني رابطه وروحاني ترون دارالاشاعت باجوړ ملاکنډ ایجنسي -




www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# دَ سعید خټک یو شعر

د خټکو د کورنۍ پښتو ادب ته ځلا ورکولو کښې ډېره لویه برخه ده او په دغه کورنۍ کښې ډېر نوموړي شاعران ـ لیکوال ـ ادیبان ـ عالمان زېږېدلي په هغې کښې د ټولو نه ستر او عظیم مقام خوشحال بابا" مونده او ورپسې اشرف خان هجري ـ عبدالقادر خان، سکندرخان خټک ـ صدرخان خټک ـ ګوهر خان خټک وغېره او دغه شان د خوشحال دوېمه روېرونه لکه فقیر جمیل بېګ" ـ د هغوي زامن محمد صدیق، محمد ابراهیم وغېره او دې پسې نورنسا نسي په دغه نزدې زمانه کښې بلکه په دغه زمانه کښې هم په دغه خاندان کښې سعید خټک هم په شاعري کښې طبع ازمائي کړېده او یو ډېر ښه صاحب دیوان شاعر تېر شوے ـ چې دیوان ئې ګران او محترم محقق ښاغلي همېش خلیل صېب چاپ کړے دا ئې لویه کارنامه ده ـ د سعید خټک متعلق ځنې محققینو خپله رائې قائمه کړې چې دے د افضل خان خټک زوې دے ـ او ځنې محققینو ئې په دلائلو سره رد کړې ـ دا ځائله یو تفصیلي بحث غواړي که لوئ خدائے ته منظوره شوه په دې به بحث کوؤ ـ د سعید بابا حالات په تیارو کښې پراته دي تر اوسه پورې چا ته هم دده د ژوند متعلق واضحه معلومات



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

نیشته نو هر چا د قیاس په تله تللي او چې چا هم څه ویکلي بې سنده سند کښلي شوي. حالانکه تحقیق بري پکار دي چې د دغه لوئ شاعر متعلق معلومات دا برسېره شي که نور هم څه معلومات نه وي نو پکار ده چې د ده د شعرونو په رڼا کښې څېړنه (تحقیق) اوشي چې څوک دے. کښې د غه شان به یې څوک د افضل خان خټک زوي یا ده وي او څوک یې د چا بل چا ځکه چې اکثر زمونږ د څېړندوالو ته د چا نوم روکي شاعر د ژوند حالات معلوم نه شي نو افضل خان خټک خو چرته ستلے نه دے زر به یې د هغه زوي کړي ولې بړي سر خوږ کړي چې لا دیوان به یې ګوري د بیل بیل شعر جائزه به یې اخلي د تحقیق په تله به یې تلي نو داسې بنه نه ده چې چا لري شاعر یا لوئ خاندان پورې اوتړي لکه چې کاظم خان شیدا پادري هیوز و یلي چې د افضل خان خټک زوي دي نو بس د هغه زوي شو. علي خان چې تر اوسه پورې په لویه شخړه کښې زمونږ عالمانو ګډ کړي او آخر یې د افضل خان زوئ تړې بوږ کړي. سعید خټک سره هم د غه لوبه اوشوه د افضل خان زوي یې کړو. د دې ټولو په دیوانونو کښې چرته بل داسې لوئ ثبوت شته چې ثابته شي چې دوي څوک دي څو بس د چاپېرچل حالاتو سطابق یې په قیاس سره ثابت کړي.

د سعید بابا په دیوان کښې یو شعر دے چې هغه په دا رنګه دے.

خان که اطلس د اشعارو ودلي دي
د دیو دریو رو نو ټوکي هم ښکلي دي



(c) ketabton.com: The Digital Library
www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بڼ په دیوان د سعید نظر کړه
په ریښمان د شړی ګنډلې دي

دا شعرونه د دیوان سعید مرتبه همېش خلیل اداره اشاعت سرحد ستمبر ۱۹۶۷ ء په صفحه ۳۵۲ د رباعیاتو په حصه کښې لیکلي شوي دي په دې مختلفو پوهانو څېړندوالو خپله خپله راې د خپل تحقیق په رڼا کښې پېش کړې لکه د شال په توګه به د دې دیوان په صفحه "د" باندې د سعید ختک د سرخط لاندې ځ سرېزې یو اقتباس پېش کړو په دې اقتباس کښې همېش خلیل صېب لیکي -

د غه رنګ یو رباعی کښې د خوشحال خان ختک د شاعرۍ په حلقه د خپلو خیالاتو اظهار په دې شان کوي -

او د دې نه پس یې د غه بره لیکلي شعرونه رقم کړي د دې شعرونو په لمن یک (حاشیه) محترم همېش خلیل صېب لیکي -

غالباً د دې دریو رونړو نه مراد اشرف خان هجري ، عبدالقادر خان ختک او سکندر خان ختک وي اګر چې د خوشحال بابا په زامنو کښې صدر خان - ګوهر خان هم شاعران وو خو پښتو ادب کښې کوم مقام چې ورانډې دریو رونړو ته حاصل دے هغه ډېر اوچت دے -

د غه شان د افغانستان یو بېل ستر د روند ګران او محترم محقق - شاعر - عالم صدیق الله رښتین صېب اوس اوس د اپریل مئی ۱۹۹۷ ء کنه ۴-۵ میاشتنۍ مجلّه "پښتو" چې د پښتو اکېډمی پېښور یونیورسټي



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

نه خوربږي په صفحه ۸۷ "د علي خان قاموني" سرخط لاندې د خپل تحقیق نچوړ داسې بیانه وي

اوس چې د سعدالله رسعیدخان دیوان چاپ شوی دی دې شعرنه پوره معلومېږي چې علي خان د سعیدخان زوردے په قام ختټک او د افضل خان زوے دے. سعید خان په یو رباعۍ کښې وائي -

خان که اطلس د اشعارو اودلي دي
ددې درېو رونړو توکي هم نبکلي دي

د خان نه مطلب خوشحال خان دے او ددې درونړه سعید خان - علي خان او کاظم خان دے چې درې واړه د شعر دیوانو نه لري -

داخو وو د دغه شعر باره کښې د صدیق الله رښتین صیب څېړنه ددې شعر باره کښې د غه دوو محققینو خپله رائې ورکړي او کېدے شي چې نورهم پرې چا څه لیکل، تحقیق کړے وي او زما د نظر وړاندې نه وي خو تر کومه چې په دې شعر باندې تحقیق شوے نو که دغې ته په غور وکتے شي نو د دغه دواړو پوهانو د تحقیق له رویه د دغه شعر متعلق مختلف رائې قائمه کړے شوي لکه همېش خلیل صیب د خوشحال بابا زامن اشرف خان هجري - عبدالقادر خان ختک ، سکندر خان ختک یاد کړي او رښتین صیب د خوشحال بابا نمسي د افضل خان زامن علي خان - سعید خان - کاظم خان یاد کړي د لته کښې دواړه پوهان د یو بل رد



(c) ketabton.com: The Digital Library
www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي ـ خو ښه دا خو تحقیق دے په تحقیق کښې خو چې دریاب ته غوپه وهي نو ملغرې خو به ترې راوباسي ددې شعر متعلق زهٔ هم د خپل علم او پوهې په رڼا کښې مختصرشان څېړنه روانوي کول غواړم کېدے شي چې داسې نهٔ وي خو جرأت مې په دې وجه اوکړو چې زمانه مخکښې ډېرو عظیمو پوهانو محققینو ددې شعر متعلق خپله خپله رائې ورکړي نو که زهٔ خپله رائې پېش کړم نو کېدے شي چې ددې نه نوره ښهٔ او دقیقه څېړنه اوشي او څهٔ حقیقت مېدان ته راشي زهٔ چې کومه رائې یا څېړنه وړاندې کوم هغه دا دنګه ده اکثرو شاعرانو په خپلو شعرونو کښې د خپل ځانان ژوند یادهغوي د زمانې نورو حالاتو متعلق اشارې کړې وي. چا واضحه اشاره کړې او چا په ابجدو چا د معمې په شکل کښې اشاره کړې وي او چاکهٔ چرته هم څهٔ شعر لیکلے وي نو اکثرو داسې هم کړي وي چې د خپلې مدعا بیانولو نه مخکښې روستو یعنې د سیاق و سباق په توګه ئې پېش کړي وي لکه د مثال په طور خوشحال بابا د خپلو زامنو د خپل پلار نیکهٔ رونړو متعلق پوره پوره تفصیلي قصائد لیکلي لکه خوشحال بابا وائي ـ

ـه
چې د پلار د مرګ مې تېرشو پوره قرن
د صفرې په میاشت او مره د ماسوړ
یو زر اتیا کلونه د هجرت وو
چې د مور په خوا مې او مړ مشر کور



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

که په دې شعر غور اوشي نو پوره پته لګي چې خوشحال بابا رح د
چا ذکر کړے لکه د سر مصرعه چې کومه ده " چې د پلار د مرګ مې
تېر شو پوره قرن " ورپسې ترپلې مصرعه کښې د خپلې مور د
مرون نښته يکي او دغه شان نور مثالونه هم ډېر شته زما د
دې مثال ورکولو مقصد دا دے چې هرکله هم چا څۀ داسې شعر
ليکلے چې د هغې نه د يو واقعې يا څۀ تاريخي خبره سرګندېږي
نو د هغې نه مخکښې روستو هم هغه شاعر يا ليکونکے ترلے شعر
ليکي څکه چې د مخکښې روستني تابع وي اوس به د دې خبرې
په تتبع کښې د دې شعر وضاحت کوو او راځو به يکو د دې شعر
له لکه څنګه چې ويا ندې او وښيلے شو.

ګران هېښ خيل صيب د دوئمې مصرعې له اشرف خان هجري ،
عبدالقادر خان ، سکندر خان ، خټک او دغه شان محترم رښتين
صيب علي خان - سعيد خان کاظم خان مراد ، خټک . حالانکه کۀ
په دې شعر مونږ د تحقيق په نظر غور اوکړو نو دا واضحه
ده چې د سعيد بابا په ديوان کښې د رباعي د غه دوه شعرونه
ځان له درج دي نۀ ترې مخکښې څۀ واقعه يا خبره شته او
نۀ روستو چې د دې مصرعې سره سمون اوخوري نو بس ځانله
بيله ليکلې شوې رباعي ده . په دې شعر

ـه خان کۀ اطلس د اشعارو اودلي دي
د ديو د ديو رو نيو تې کي هم ښکلي دي



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

که غور اوکړے شي نو ددې شعر روښنې مصرعه بانديمونږ تول متفق یوچي د"خان" نه مراد خوشحال خان ختک دے او شاعر دهغوي دا شعارو صفت کوي او اکثرو ددغه خاندان شاعرانو خوشحال بابا په "خان" کلمه سره یاد کړے - او دا لفظ یې دخوشحال بابا دپاره په خصوصي توګه طبعي ادبي لهجه کښې استعمال کړے نو هرکله چې ددې خان نه مراد خوشحال بابا دے او مونږ تول یې منو نو ورپسې مصرعه "د دیو درېو رونو توکي هم ښکلي دي"

نه مراد څنګه علي خان ـ سعید خان کاظم خان ـ عبدالقادر خان ، اشرف خان هجري سکندر خان شو ولې چې د مخکښې مصرعې نه خوشحال بابا مراد دے اوچې هرکله د غه شان خبره کېږي چې د "خان" یعني خوشحال بابا اشعار ښکلي دي نو ورپسې "د دیو درېو رونو" نه دغه مختلف الخیال نوموته څه توک لري.

زما په خیال خو دا سې کېدے شي چې د سعید ختک " د دیو درېو رونو" رونو نه مراد د خوشحال بابا دونږه مراد وي لکه چې خوشحال بابا وائي -

یو مې سکه رور دے چې یې لار دحق نیولي
دو رونږه مې نور دي یو په نم دوهم په نم

کلیات خوشحال

نو چې هرکله د خوشحال بابا درې رونږه شته چې د هغوي نومونه دارنګه دي - د سکه رورنه یې مراد فقیر جمیل بېګ دے ددې دوارو



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

مور ځلوزۍ وه دوه رونړه يې مېرنه (ناسکه) دي چې يو يې شمشېرخان چې مور يې اصيره وه بل رور يې مېربازخان چې مور يې مهمندزۍ وه د نوښار د ملک مېرباز لور وه. څرنګه چې سعيد بابا د دغه زمانې دے په دغه خاندان کښې تعلق لري د دغه خاندان د علم و فن نه پوره پوره اشنا او واقف دے نو هغه ځکه ليکي چې د خان اشعار خو ښکلي دي خو "د ديو" يعني د خان د دريو رونړو اشعار هم ښکلي دي ځکه چې مخکښې د خان ذکر دے او ورپسې وائي "د ديو" نو په دې "دريو" سوچ پکار دے ولې چې د سياق و سباق نه پته لګي چې مخکښې ذکر شوي سړي رونړه يادوي که چرې اشرف خان هجري عبدالقادر خان خټک. سکندر خان خټک يې مراد وے نو بيا به يې د خان نه پس دويمه مصرعه کښې په واضحه داسې ليکلي وو.

"د ديو د ريو زا منو ټوکي هم ښکلي دي"

خو شاعر ته معلومه ده چې د خوشحال بابا د غه درې وارړه رونړه هم ښه شاعران وو او شعرونه يې ليکلي وو چې په دغه رونړو کښې يې خود فقير جميل بېګ د شعرو شاعرۍ علم و ادب سره د تعلق متعلق واضحه اثار موجود دي. چې د منظومو شعرونو سره سره يې د فارسي ګرانقدر نسخې په بشپړو حالاتونو کښې پښتو اکېډيمۍ کښې د دل تذکرة الاولياء. نور محمد يه په نومو نوقلمي پرتې دي ياتې شو دا دوه نور رونړه شمشېرخان او مېربازخان نو کېدے شي چې چرته د دوي ادبي اثار وو يا دي خو لاتر اوسه



(c) ketabton.com: The Digital Library
www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لاس نهٔ دي راغلي او سعيد بابا ته هغه زمانه کښې معلوم وو نو ځکه يې د "خان" د درې رونړو بيان کړے دے. او دغه شان د پرځېړندوال اوس هم داوائي چې د خوشحال بابا نور هم ډېر کتابونه وو خو پته نيشته چې څهٔ شول کېدے شي چې چا سره کورونو کښې پراتهٔ دي او ښائي يُ نه. زما ددې تحقيق خلاصه دا رنګه ده چې د سعيد بابا ددې شعر نه د خان درې رونړه فقير جميل بېګ. شمشېرخان[2] او مېربازخان[3] مراد دي نه چې د خان زامن اشرف خان. عبدالقادرخان. سکندرخان يا د خان نمسي علي خان. سعيد خان، کاظم خان. او عجيبه خبره خو دا ده چې هرکله سعيد خپله شعر يکې نو بيا ولې په دغه درې رونړو کښې ځان حسابه وي درې رونړه خو پکار دي چې نور وے. سعيد بابا په کښې نهٔ دے شمار ولې چې شعر خو د هغه دے. دا وو زما ددې شعر متعلق څېړنه خو دلته زه بيا يو ځل دا خبره تکرار وم چې زما دا څېړنه يا رائې ختمه نهٔ ده او نه صحي کېدے شي خو د خپلې پوهې په رڼا کښې ترې زما د غه مراد وو. کېدے شي چې نور قدرمند پوهان محققين ترې نه ښه او صحي نچوړ را وباسي.



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کتابونه


۱- دیوان سعید مرتبه همیش خلیل اداره اشاعت سرحد پېښور، جون ۱۹۶۳ ز

۲- تاریخ مرصع د افضل خان خټک د خدای بخښلي دوست محمد کامل په نوټونو سره د یونیورسټي بک ایجنسي پېښور له اړخه چاپ

۳- دیوان خوشحال خان د دوست محمد کامل مهب

۴- پښتو میاشتنۍ مجله ګڼه ۷-۵ نېټه اپرېل مئ ۱۹۹۶ ز د پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي له اړخه چاپ -




د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ : www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

# صَدیقُ ثوک دے

پخوانو پښتنو شاعرانو کښې د صدیق په نامه ګڼ شاعران تېر شوي دي او په ګڼو تذکرو کښې ئې ذکر راغلے دے لکه د مثال په توګه پښتانهٔ شعراء دریم ټوک کابل چاپ کښې ستر محقق او استاد عبدالحی حبیبي په صفحه ۲۲۷ لیکي.

محمد صدیق یوخوږ ژبې ملي شاعر وو چې د ۱۳۶۲ ق کال نه اوشا کښې مړ شوے دے او وائي چې د بنېوي په ګرېنګ کښې ښخ دے.

دده یو غزل ښاغلي حبیبي صاحب موندلے دے مطلع ئې دا رنګه ده

د اشکر دے چې مې یار راغے راغے
زلال د وصال مې دوبار راغے راغے

بل صدیق چې زوړ منظوم طبي بیاض ئې د پېښور یونیورسټي پښتو اکېډمي کښې په سلسله وار په غ-۲۲۶ موجود دے ټول ۹۶ مخونه لري په هر مخ ئې ۱۷ شعرونه لیک دي د میاشتني اباسین پېښور اکتوبر ۱۹۹۰ء په حواله ستر شاعر ادیب ښاغلي رومان ساغر څخه هم ددې طبي بیاض منظومه خطي نسخه شته د دواړو نسخو په ابتداء کښې دغه شعر لیک دے.



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د حاجي عبدالله زویه
اے صدیقه تحقیق بویه
اول د ځ او دارو زده کړه
د غه پس يې دوایه کړه

دا صدیق د ۱۳۰۰ هـ څوا و شا تېر شوے دے د پېښور څوا و شا اوسېدو - بل یو صدیق چې ارواښاد عبدالحی حبیبي پښتانه شعراء اول ټوک کښې په صفحه ۲۸۳ ذکر کړے دے -

د صدیق د ژوند حالات او د دیوان موند ته نه دے را رسېدلي چې کوم لږ غوندې اشعار يې موندلي او لیدلي دي نه معلومېږي چې دے یو جوشي او رښد شاعر دے دده کلام کښې د عشق او عرفان جلوې برېښي او د تصوف ښې ښې نکتې په روان شعر کښې بیانه وي -

ددې صدیق غزلې د پادري هیوز په کلید افغاني کښې یک دي په پټ ستودي پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي کال ۱۹۸۲ء کښې راغلي دي د یوان صدیق يې دس وس يې موندلے شوے او په کابل کښې د افغانستان د علومو اکادمي د ژبو او ادبیاتو انستي ټیوټ له اړخه د ارواښاد خیبر نوال دوست محمد شنواري په سریزه څخه په کال ۱۳۵۸هـ ش او ۱۹۷۹ء کښې چاپ شوے خو تر اوسه دا معلومه نه شوه چې صدیق څوک دے د کوم ځائے دے د چاڅه دے د کومې کورنۍ سره تعلق لري لکه دوست محمد شنواري د دیوان صدیق په سریزه کښې لیکي -



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

صدیق هم زموږ د هغو پخوانیو شاعرانو څخه
دے چې سوانح او پوره واقعات يې موږ ته
نهٔ دي معلوم -

د وخت د تېرېدو سره سره د ډېرو نورو وروکو شاعرانو حالات
د تحقیق په رڼا کښې معلوم شوي او معلومېږي چې که څنګه چې
وپېژندل شوي چې ارواښاد حبیبي يې دیوان نهٔ وو موندلے نو
اوس دغه دے دیوانِ صدیق چاپ شو - د صدیق د ژوند حالات
تر اوسه په پرده کښې پراته دي نو زهٔ غواړم چې د صدیق
د ژوند حالات د هغهٔ د ځائے ځائے ځاېګے د کورنۍ تعلق د خپل تحقیق
په رڼا کښې يې ځائے کړم نو دا هم یقین چې زما دا تحقیق ختمي او
آخري نهٔ دے کېدے شي چې نور درانهٔ محققین یو الړ پړي د خپل
تحقیق په رڼا کښې راځے ښکاره کړي او اصل مرام ته اورسي داسې
ډېر پخواني شاعران تېر شوي چې ډېرو عالمانو محققینو پرې
بحثونه کړي او ډېرو ښو نتیجو ته رسېدلي او څوک دا دغه
بحثونو باوجود هم لا متنازعه دي - پښتو ادب کښې د خوشحال
بابا کورنۍ ته ډېر لوړ مقام حاصل دے که خوشحال بابا دے او
کهٔ د هغوي ګڼ زامن چې پښتو ادب ته يې په نثري او منظوم
توګه لویه برخه ورښښلې د غه شان د خوشحال بابا ورور چې جمیل
بېګ جمال خان او په روحاني دنیا کښې په نوم جمال الدین
او فقیر بابا شهرت لري هم په فارسي ادب کښې او هم په پښتو
ادب کښې نثر او شعر دواړه وپېژندل او لیکلے نو هر کله چې دغه



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

تول کورنۍ د دې فن نه واقفه ده نور فقیر بابا زامن به هم
لکه د خپل ترهٔ د زامنو د شعرو شاعرۍ او پښتو ادب فارسي ادب
نه آشنا وي - او دغه شان به ئې خپل خاندانی روایات مرکون
ته نهٔ وي ورکړي او هم د غه شان تر اوسه د غه کورنۍ په
پښتو ادب کښې ستر مقام او خپل نوم ژوندے او لوړ ساتلے دے
چې لکه د خوشحال بابا نوم د سیاست او مرتوب سره سره
په ادب باندې هم خور ورد دے او دغهٔ ورور جمال خان (جمیل بیګ)
روحاني دنیا خپله کړې ده نو په دې وجه په پښتو ادب کښې
ئې نوم تیارهٔ کښې پروت دے د راقم د تحقیق نه په دنیا کښې
صدیق چې دیوان ئې او چاپ دے د جمیل بیګ (جمال خان) زوی
دے او دا خبره زهٔ د ځانه نهٔ کوم بلکه د کلکو او مقبولو شهادتونو
په رڼا کښې د لته لیکم او هغه شهادتونه دا رنګه دي - د
فقیر جمیل بیګؒ (جمال خان) د زامنو متعلق تاریخ مرصع د افضل خان
ختک کښې لیک دي چې د هغوي دیارلس زامن وو څلور ئې بیبیانی
وي راقم هم د جمال خان په نمسو کښې شمار دے او د فقیر بابا
په مناسبت سره ئې اولاد ته فقیر خېل میانګان وائي چې پښتونخوا
په ګوټ ګوټ کښې پراتهٔ دي د راقم سره د خپل خاندان مستنده
او مفصله شجرهٔ نسب په قلمي او چاپي شکل کښې پروت دے چې د
انجمن اتحاد جمال خېل (فقیر خېل) چشمې اکوړه ختک له اړخه
د میاں فردوس شاه فقیر خېل په زیار او ډېر کړاؤ سره چاپ
شوے دے دغه شجرهٔ نسب فقیر خېل له مخه د فقیر بابا د مشرۍ

ټوله کورنۍ د دې فن ته واقفه ده. نور فقیر بابا ځامن به هم لکه د خپل تره د ځامنو د شعرو شاعرۍ او پښتو ادب فارسي ادب ته آشنا وي - او دغه شان به یې خپل خانداني روایات مرکون ته نه وي ورکړي او هم د دغه شان تر اوسه د دغه کورنۍ په پښتو ادب کښې ستر مقام او خپل نوم ژوندی او لوړ ساتلی دی چې لکه د خوشحال بابا نوم د سیاست او مرښتوب سره سره په ادب باندې هم خور ورد دی او دغه وروره جمال خان (جمیل بیګ) روحاني دنیا خپله کړې ده نو په دې وجه په پښتو ادب کښې یې نوم تیاره کښې پروت دی دا قسم د شخصیتونو په دنیا کښې صدیق چې دیوان یې او چاپ دی د جمیل بیګ د جمال خان) نوی دی او دا خبره زه د ځانه نه کوم بلکه د کلکو او معتبرو شهادتونو په رڼا کښې دلته لیکم او هغه شهادتونه دا رنګه دي - د فقیر جمیل بیګ (جمال خان) د ځامنو متعلق تاریخ مرصع د افضل خان خټک کښې لیک دي چې د صفوي د پارس ځامن وو څلور یې بیبیانې وې دا قسم هم د جمال خان په شمو کښې شمار دی او د فقیر بابا په مناسبت سره یې اولاد ته فقیر خېل میاګان وایي چې پښتونخوا په ګوټ ګوټ کښې پراته دي دا قسم سره د خپل خاندان مستنده او مفصله شجره نسب په قلمي او چاپي شکل کښې پروت دی چې د انجمن اتحاد جمال خېل (فقیر خېل) چشمی، اکوړه خټک له اړخه د میاں فردوس شاه فقیر خېل په زیار او ډېر کړاو سره چاپ شوی دی دغه شجره نسب فقیر خېل له مخه د فقیر بابا د مشرۍ



(c) ketabton.com: The Digital Library
www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

بنځې "رابعه بي بي" پنځه زامن وو چې نومونه يې دا دنګه وو محمد صديق (رح) - محمد اسحاق (رح) - محمد ابراهيم (رح) - محمد عتاق (رح) - محمد صالح (رح) محمد صديق په ټولو رونو کښې مشر وو د فقير بابا د وفات نه پس د پلار سجاده نشين وو مزار يې د خپل پلار د قبر د چار ديوارۍ نه په مغرب کښې ځان له چار ديوارۍ کښې دے په خپل خاندان کښې د فقير محمد صديق په نامه شهرت لري د پرېشه عالم شاعر صوفي ولي الله تېر شوے دے راقم هم د محمد صديق په اولاد کښې شمارېږي -

د جمال خان بابا د اولاد په باره کښې ستر ماهر انساب اروا ښاد عبد الحليم اثر افغاني په خپل يو مقاله اخلاقنامه په خوشحال ريويو جلد ۳ شماره ۱ پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي کال ۱۹۸۷ صفحه ۲۵ باندې ليکي -

افضل خان دا ذکر نهٔ کوي چې محمد اسحاق محمد ابراهيم د محمد صديق کشران رونه هم دده د پلار محمد اشرف خان نه هم مشران وو هم د پرېشه شاعران وو -

د صديق د ديوان باره کښې د افغانستان ستر څېړنوال ګران هېواد مل زلمے په خپل يو تاليف د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې چې د افغانستان د علومو اکېډمي له اړخه په ۱۳۶۳ هـ ش او ۱۹۸۴ ء کښې چاپ شوے په صفحه ۸۱ باندې ليکي -

ديوان صديق :- ويونکي : صديق - د تدوين کال نامعلوم د ليک کال او کاتب نامعلوم - خط نستعليق -



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

یک دود، ختکي ـ کاغذ نړے کشمیرے ـ

ددې کتاب په څېنو غزلو کښې دختکو ژبه لهجه استعمال شوې ده ددې پوره یک نه معلومه شوه چې دصدیق د دیوان یک دود ختکي دے او په دې لحاظ هغه ختک وو که څه چې بل قوم سره یې تعلق لرلو نو خامخا به یې د هغه قوم ژبه استعمالوله.

دا څو وو د یکوال په نظر کښې د صدیق ختکوالي ثبوت ـ او س دا څو دديوان د غزلو په تناظر کښې د صدیق دزمانې د قوم د ځائے ځائګي او سلک پېژندنې طرف ته چونکه د صدیق دژوند نیټه پوره نه ده معلومه نو د دیوان په یو غزل کښې چې نومره ۱۳۶ لري او په صفحه ۱۰۷ بانديې یک دے په هغې کښې د خپلې زمانې او سیاسي نظریې او پښتونولۍ په باب څه معلومات راکوي په د غه غزل کښې د پښتنو او مغولو تر منځه (۱۰۸۳ ه ق) کال د محرم د میاشتې دویمه (۱۶۸۲ع) کال د اپریل ۳۰ مه نیټه د خیبر مشهوره جګړه یاده وي چې د مغولي لښکر مشر دکابل صوبیدار محمد امین وو په دغه جګړه کښې د دښمن لوځ ماتې اوخوړه چې د خوشحال بابا په قول څلویښت زره فوځ په کښې هلاک شو په دغه وخت کښې صدیق ځان هک بولي ددغې جګړې او هکوالي متعلق وائي ـ

حق د پښتنو دے که اوس بیا د ننګ د پاره

سور په شهزاده کا دغه تورنو نې غبس



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

ورانه يې زه هلک ووم چې پرې دوب محمد امين شو
ښه ښه شهيدان وو دېر مغولي شو پرې دېر

په دې شعر کښې د شهزاده نه مراد اورنګزيب دے - ددې نه معلومه شوه چې صديق په دغه وخت کښې هلک وو د ديوان صديق سريزه کښې ستر محقيق ارواښاد دوست محمد شنواري دَ صديق د هلکوالي متعلق په صفحه (ز) ليکي -

د هلک د کلمې تخته معلومېږي چې دے به (۸-۱۶) کلن وو په دغه حساب به د (۱۰۷۰ ه ق) د کلونو په حدودو کښې زېږېدلے وي - د دغه جګړې کال (۱۰۸۳ ه ق) وو په دغه وخت کښې صديق خان هلک بولي ارواښاد دوست محمد شنواري په دې حساب د صديق د زېږېدنې نېټه ۱۰۷۰ ه ق ښائي او هم دغه زمانه دَ فقير جميل بېګ زمانه وه د فقير بابا د زېږېدو نېټه هم صحي معلومه نه ده ځوک يې د خوشحال بابا مشر ګڼي او ځوک کشر د خوشحال بابا د زېږېدو نېټه ۱۰۲۲ ه ده نو که جميل خان چرې مشر وي نو د زېږېدو نېټه به يې ۱۰۲۰ ه يا ۱۰۲۱ ه وي او که چرې مونږ يې کشر واخلو نو د زېږېدو نېټه يې ۱۰۲۴ ه ده د وفات کال يې ۱۱۱۶ ه معلوم دے او دا کال يې د ابجدو په حساب هم دَ شعرونو په رڼا کښې ليکلے شوے - نو که چرې ۱۰۲۴ ه يې زېږېدنه وي نو د قياس په دوسره کېدے شي چې واده يې د شلو يا دوېشتو کالو په عمر کښې کړے وي نو دس کله چې فقير جميل بېګ واده دَ شلو کالو په عمر کښې کړے وي نو ۱۰۲۴ سره چې شل کاله جمع کړي



(c) ketabton.com: The Digital Library
www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

نو ۱۰۴۴ه زمانه ترې را اوځي نو معلومېږي چې په ۱۰۴۴ه کښې يې واده کړے وي او چې محمد صديق يې د دغه رو ښتي واده نه پېدا کېږي نو د پورته شعرونو په رڼا کښې صديق ۱۰۷۰ه کښې هلک دے نو په دې حساب سره ۱۰۷۰ه نه چې ۱۰۴۴ه لرې کړې نو د پلار عمر يې په دغه وخت کښې ۲۶ د شپږ ځلويښت) کاله جوړېږي او د صديق عمر په ۱۰۷۰ه کښې (۲۶) کاله دے او هم د غه وخت د هلکوالۍ وخت وي ددې نه هم ثبوت ته رسي چې دا صديق د فقير جميل بېگ زوې دے.

دا خو يې وو د زېږېدنې او زمانې حال او س گورو چې صديق په دغه غزل کښې د خپل ځائے ځاېگي باره کښې څه ليکي.

در يغه که وطن په تورو غرونو د صديق دے

مه وای په نوښهر ملک يې مهٔ وای اشنغر

او بل يو شعر کښې ددې غزل ليکي.

که د زړهٔ رضا دې ده چې مجنون گودم

تر مجنون صديق بتر شته په نوشهر

او د خپلې علاقې باره کښې د خپل يو غزل نومره ۳۰۵ صفحه ۲۴۵ باندې ليکي.

چې د زړهٔ په زازمې نهٔ پوهېږې څهٔ کړم

په خصلت کښې مهمندې کړې خدائے د نورې

د اناړو سرې دانې پېښېږي نه شي

خدائے وتاته کړې اناړو کښې زيرې



(c) ketabton.com: The Digital Library
www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

دا تلور واړه شعرونه بحث غواړي او چې بحث پرې اوشي نو هله به ترې نتيجه را ووځي په رومبني شعر کښې صديق نوښار او اشنغر ياد کړے او بل شعر کښې ئې صرف نوښار ياد کړے. نو دا دې نه معلومه شوه چې دا هم دغه صديق دے کوم چې د جميل خان زوې دے او خوشحال بابا ورارهٔ دے ځکه چې دا دوې کلے اکوړے او چشمې او خوا و شا علاقې وې او حکومت ئې تر لرې پورې وو دا علاقې په نوښار کښې شاملې وې او په دې وجه صديق د خيل کلي چشمې او تنګاړو چې دغه هم د دوې جائيداد او کلے وو ذکر په دې وجه نهٔ کوي چې دا واړهٔ کلي دي نو هر کله چې دا واړهٔ کلي په دغه لويه علاقه نوښار کښې شمار دي نو په دې وجه ئې د نوښار ذکر کړے دے کيدے شي چې د اشنغر ذکر په وجه ځنې ليکوال او پوستونکي ديو بل صديق چې د چارسدې هشنغر ملک وو په تاريخ مرصّع د افضل خان ختک کښې ذکر دا غلطے او هغه ذکر د تاريخ مرصّع په صفحه ۳۹۰ او اقتباس ۳۲۴ کښې داسې ليک دے

چې ناصر خان کابل ته اورسيد و ګماشته ئې
د فوځ په معرفت د صديق چې د چارسدې
ملک وو د بارک شاه زوې په تحصيل روان کړه.

دا دې نه معلومېږي چې دا صديق بل صديق دے د چارسدې ملک دے په چارسده اشنغر کښې سکونت کوي ځکه چې ناصر خان ګماشته دهٔ په معرفت چارسدې ته رالېږلو دے په نوښار



(c) ketabton.com: The Digital Library
www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې نهٔ اوسېږي د شاعرۍ ذکرئې هم نېشته شاعر نهٔ دے صديق کهٔ ذکر د اشنغر کوو نو ضروري نهٔ ده چې صاحب ديوان صديق دې د دغه شعر په وجه د اشنغر وي دا معلومه شوه چې دا صديق د فقير جميل بېگ ځوی دے د افضل خان خټک د ناکردو او جګړو دلاسه چې د غه هر څهٔ په تاريخ مرصع کښې درج دي د تورو غرونو ارمانی دا شنغر په لور هم را غلے دے ددې صديق اولاد دَ اشنغر په شبېپاو نومې کلي کښې په ګڼ تعداد کښې د فقير خېلو مياں ګانو په نوم ځان له يو چم کښې مېشته دي صديق په دغه وخت کښې په اشنغر کښې ناست دے او د خپل وطن نوښار د تورو غرونو ارمان کوي او څکه وائي

ع دريغه کهٔ وطن په تورو غرونو د صديق دے

موږ ه صرف په دې صديق د اشنغر کوڅے نهٔ شو داسې خو دَ صديق د تره ځوی سکندر خان خټک په خپل يو شعر کښې وائي

زهٔ سکندر په چانه کور کښې فاقه نهٔ يم
همېشه د خپل وطن اميد رجا خورم

دا شعر سکندر خان په دغه وخت وائي چې دے د غه وخت دَ وخت د آفريديو علاقې جيناکور نومې کلي کښې ووچې د هغه ځايه به افضل خان په اکوړي حملې کولې نو ايا موږ به د دې شعر نه مراد دا اخلو چې سکندر خان د جيناکور وو څکه چې په شعر کښې ئې جيناکور ياد کړے نو نا۔



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ـــ همیشه د خپل وطن امید رجا خودم

د غه ئې هم یاد کړي نو د غه شان صدیق هم د تورو غرونو ذکر کړے دے او دې شعر سره به څهٔ کوو -

ـــ تر مجنون صدیق بتر شته په نو شهر

دلته یو ښکارا او واضحه ثبوت د صدیق د ځائے دهغه په دې شعر کښې موجود دے

ـــ چې دژړهٔ په رازې نهٔ پوهېږي څهٔ کړم
په خصلت کښې مهند ے کړي خدا ے د تورې

په دې شعر کښې صدیق د تورې ذکر کوي او دا توره هم د غه علاقه ده لکه خوشحال بابا هم په یو شعر کښې وائي

ـــ په تیراه په سوات په توره دړه در شوم
بیا م کوم لوري ته تهٔ بیا یې اسمانه

او د غه شان صدیق د تورې د علاقې ذکر کېږي تشبیهو د اناړو سره دا تو سره کوي کومې علاقې ته چې توره وائي یا چې کوم کلي په توره کښې اباد دي دهغې متعلق دوست محمد کامل اروا ښاد د تاریخ مرصع په نوټونو کښې په مخ ۲۱۲ لیکي

خاورې ته نزدې مغرب رویه شخه شمال ته دسرائې
اکوړه جنوب شخه مشرق ته د منتهیٰ مشرق ته
دا تول ځایونه د ختکو په توره تپه تحصیل
نوشهره کښې دي -

ستر محقیق سرفراز خان عقاب ختک په خپل تالیف تاریخ ختک مطبع



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

حمیدیه پرېس پېښور چاپ کال ۱۹۶۵ء کښې په صفحه ۱۸۲ د خوږه سرخط لاندې تفصیلي بحث کړے دے چې د دغه کښې لږ غوندې یو دوه کرښې را خلم -

خوړه کا دوسرا اہم مقام نظام پور ہے یہاں اور شیدو میں اکوڑخیل بستے ہیں چشمئی میں فقیر جین بیگ کی اولاد بستی ہے

په دې علاقه کښې پیلوسي - د بېړو اوښې ر کوکښې ) ګوګړې په ګڼ تعداد ځنګل په شکل کښې ولاړې دي او دد غه خلقو د آمدن ذریعه ده - دا خو وو د صدیق د ځائے ځایګي باره کښې بحث او دا دې بحث نه معلومه شوه چې دا صدیق د خټکو د علاقې وو او فقیر بابا هم دا دې علاقې سره نسبت لرلو -

د دغه په بل یو شهادت د خوشحال بابا سره د پوخ نسبت د وراره او تره د هغه دیو شعر په ذریعه کښې یکم هغه شعر دا دغه دے - دا شعر د دیوان صدیق په صفحه ۱۵۸ په ۱۹۸ نمبر غزل کښې یک دے -

دا غزل د خان د دې غزل جواب دے
که دا ستا ستر کي را وچاربا سم ځان نشته

په دې شعر کښې صدیق خوشحال بابا "د خان" توري په احترامي طبعه کښې یاد کړے دے او دا ښکاره خبره ده چې د خوشحال بابا د کورنۍ ټولو شاعرانو خوشحال بابا د احترام او عزت په توګه "د خان" په طبعه سره په خپلو شعرونو کښې یاد کړے دے لکه عبدالقادر خان



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خټک چې د خوشحال بابا زوی دے د خپل پلار ډیر مشهور شعر په جواب کښې وائي -

دا غزل په پښتو ژبه چې بیان عبدالقادر کړو
درو غژن یم که بې خان وائي بل یو پښتون هسې

او دغه شان اشرف خان هجري په خپله مرثیه کښې وائي -

له حیا به تن د خان خوړلے نهٔ شي
په دا خوي که هر څو زمکه بې حیا ده

کامگار خټک هم د خوشحال بابا ذکر د خان په نامه کړے دے لکه وائي

دا غزل چې کامگار اووے په پښتو کښې بې له خانه
له دا هسې کښلې نهٔ دے هیڅ شاعر په خپل دیوان

سعید خټک هم وائي -

خانٓ کهٔ اطلس دا شعارو ودلې دي
د دیو درې روښو تو کې هم ښکلې دي

د غه شان کاظم خان شیدا د خوشحال بابا ذکر څو ځایه د خانٓ په احترامي نامه سره کړے دے لکه وائي -

د افغان له شعراء په شیدا باندې
داد ب په مقتضیٰ د خانٓ شرف وے
شیدا "خانٓ" په دې کا میر د شاعرانو
کهٔ مړ او وته يې عرض دي تا انشا شي



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

ددې مثالونو نه ثابته شوه چې صديق هم د دغه کورنۍ شاعر دے د خوشحال بابا نوم په احترام سره ځکه د هغهٔ د زامنو په ځان په شعر کښې اخلي خو رچاکهٔ ذکر کړے نو خوشحال يې ياد کړے خو چېنو زامنو او دو پروونو د خان په نامه ياد کړے چې په دغه کښې د خپل سکه ورور جمال خان زوې صديق يې هم د خان په نوم ياد دوي د خپل خانداني رقابت په وجه د مغلو سپکه او نفرت په خپلو شعرونو کښې څرګنده دي او د دغه نفرت په وجه هغه پښتنو ته هم سپک ګوري کوم چې د مغلو نمک خوار دي ځکه په خپل يو غزل کښې په صفحه ۱۰۷ باندې ليکي

توره شري بنه ده يمه ننګ نيمه په سر
ورک شه د مغلو د بخشش منديل په سر
واره پوهي شول پښتانهٔ چې پسې ذغلي
ننګ وته يې شا کړه له مغولو غواړي زر
حق د پښتنو دے کهٔ اوس بياد ننګ د پاره
شُو په شهزاده کا دغه تور خوني په سر
شو
روانې زهٔ هلک ووم چې پرې دوب محمد امين
بنهٔ بنهٔ شهيدان ووه پر مغول شول پرې دبر
هيڅ نهٔ دي نابوده يوسفزي د ننګ په کار کښې
نوم يې د زمري دے تر شمال د يې لا بتر

(c) ketabton.com: The Digital Library

ځني که منصب خوري خوار کوړ په خپل وطن دي
پسې شو د مغولو خمزه گوره گېدړي خس
حال د پښتنو د ننګ په کار کښې راښکاره شو
واړه هيڅ کاره نه بې حيا نا مرد بشن

په دې شعرونو کښې يې زيات د ننګ د خوشحال بابا د خيال ښکاري صديق هم څه پښتنو غند نه کړې ده کوم چې د مغولو په سرو پيسو پسې منډې وهلې او خپل ننګ يې په مغو ي خرڅ کړے وو او دې شعر نه يې خو هغه ځانګړې جذبه غيرت ښکاريږي او په دې وخت ارمان کوي چې

نه مومند ايمل شته نه خوشحال دريا شته
نه بنګي غلجي - له پښتنو خالي شو غر

او دغه شان د خپل ننګيال توريال تره خوشحال بابا وينه د صديق په رګونو کښې تېره شوې ده او صديق هم د ميړني خلقو ستاينه کړې ده په دې حقله ځېږ نوال دوست محمد شينواري په خپله سريزه کښې ليکي -

په کلاسيکي ادب کښې صديق د نورې پوړۍ شاعر دے په اشعارو کښې يې ډېر داسې غزلې شته چې په نازک خيالۍ کښې د حميد او شيد شعارو اشتراول دي د مثال د پاره د ديوان په غزل ۱۰۹، ۳۰۹ کتلے شي خو صديق باندې د خوشحال رنګ زيات ښدے



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

شي صديق د تورې ميړنتوب شجاعت مېړن شاعر دے لکه وائي

مېړني په مېړنتوب سره يادېږي
د نامردو کله څوک وائي سندرې
د زمري نامه پرې کېږده نمري څه دي
ځوان به ځان کاندي د تورو په مېدان غوڅ

څنګه چې ارواښاد حبيبي او ارواښاد دوست محمد شينواري ويلي دي چې صديق د تصوّف او سلوک نه اشنا وو صوفي شاعر هم وو خو دلته کښې موږ ګورو چې صديق دا قطعي د تصوف او سلوک د دوړونو نه تېر شوے وو د هغهٔ صوفيانه شاعري که او کتے شي نو د شعرونو نه معلومېږي چې صديق مريدي تصوف هم کړے وو يعني صديق د يو کامل پير نه بيعت هم کړے وو او مريدي يې اختيار کړې وه لکه دا لاندينې شعرونه موږ ته ښائي -

هر چا وته خواږهٔ ترڼي شکر دي
د صديق وښېل د پير له برکته
د مريد تعظيم د پير عزت طلب دے
د استاد طلب نه يې مردوده
تمامي قباحت دا وي که باور کړه
چې مريد د خپله پيره شي مردود

او دغه شان د ديوان په صفحه ۲۵۰ وائي -



(c) ketabton.com: The Digital Library
www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ثابت په شریعت شي
نو سالک د حقیقت شي
د توحید ډیوه کړي بله
چې روان په طریقت شي
بې پرواه به د فتن کړي
چې د پیر په معرفت شي
د تلقین ذکر حاصل کړه
چې مشغول په محبت شي

ددې شعرونو نه معلومېږي چې صدیق د صوفیت او د تصوف درجو، منازلو، د پیرۍ او د مریدۍ اداب ونه پوره پوره واقف دے او په تصوف کښې دیو استاد حیثیت لري هغه ځکه چې د صدیق پلار فقیر جمیل میاں هم یو ستر روحاني مقام درلود او د جذب و حال په مستۍ کښې مست د لوې الله په معرفت او د حق رښتیا مونډلو د پاره سرګردانه وو او د شریعت او طریقت نه پوره پوره خبر وو په دغه وجه صدیق هم د دغه مکتب طالب علم وو او په دغه مکتب کښې ئکه د پلار لوی مقام درلو. ددې دومره تفصیلي بحث نه پس مونږ ته معلومه شوه چې صدیق ګمنامه نهٔ دے سوانح یې معلوم شو صدیق خټک دے د خوشحال بابا د سکه ورور جمیل میاں (جمال خان) مشر زوې دے د دغه زماني دے د خوشحال بابا د شعرونو رنګ پرې اثر اندازه



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

دے . د خوشحال د وخت د جګړې ستاينه يې کړې خپله علاقه او
کلي يې خوږ او خوښ ښودلى دے . او د خوړې کس کښې يې ستايلي
دي د مغلو بد يې ويلي دي د خوشحال بابا په شان يې د
ميړنتوب بهادرۍ شجاعت ستاينې کړي . او څنګه چې يې د تره
د افضل خان او درياخان سره د صفوي د ميړنتوب په وجه مينه
ده نو د غه شان يې د افضل خان ، درياخان او خپل تره
خوشحال خان سره خپله مينه ښکاره کړې . د تصوف د مختلفو
منازلو او درجونه واقف او د د غه مکتب استاد کامل دے او
صوفيانه اشعار يې هم ويلي ځکه يې ختکو الله داد کله چې د
بل خاندان سره يې تعلق وے نو په ديوان به يې د بل چا
رنګ زيات وو خو معلوميږي چې د خپل تره په وجه يې
په شعرونو د صفوي رنګ زيات دے او د پلار په وجه يې د
تصوف رنګ دے . تر ټولو شواهدو نه معلومه شوه چې صديق
د جمال خان ؒ رجميل بيګ ؒ فقير بابا زوى دے د خوشحال بابا وراره
دے او دا صاحب ديوان شاعر صديق دے د بده مرغه د دوى
د پلار حالات لا په تيار کښې دي نو په تېره تېره يې د دوى
حالات دا وه د صديق متعلق د راقم رائې او څېړنه نور يې
الله دې وکړي چې نور تحقيق پرې اوشي او نور معلومات
دا برسېره شي .



(c) ketabton.com: The Digital Library
www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# کتابونه


۱- هیواد مل زلمی د هند د کتابخانو پښتو خطي نسخې د افغانستان د علومو اکېډمي ۱۹۸۴ م

۲- فقیرخېل فردوس شاه میان شجرهٔ نسب فقیرخېل میانګان انجمن اتحاد فقیرخېل چشمې اکوړه خټک ۱۹۹۱ م

۳- رضا محمد افضل پروفیسر پټ ستوري پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي ۱۹۸۴ م

۴- خوشحال ریویو جلد ۴ شماره ۱ پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي ۱۹۸۲ م

۵ د صدیق دیوان د شینواري دوست محمد سریزه تحشیه د افغانستان د علومو اکېډمي ۱۹۷۹ م

۶- دیوان د سکندر خان خټک د دوست محمد کامل مقدمې سره اداره اشاعت سرحد قیصه خواني پېښور ۱۹۶۳ م

۷- عقاب خټک سرفراز خان تاریخ خټک حمیدیه پرېس پېښور ۱۹۷۵ م

۸- دیوان اشرف خان هجري مرتبه همېش خلیل شاهین برقي پرېس پېښور ۱۹۵۸

۹- حبیبي عبدالحی پښتانهٔ شعراء اول ټوک یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښور

۱۰- خټک افضل خان تاریخ مرصع د دوست محمد کامل ځوټونو سره یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښور




www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ابراهیم ټوک دے

ابراهیم ټوک دے. دکوم ځائے دے. د چا څۀ دے. دکومې زمانې دے. دا یو څو سوالونه دي چې ددې پخوانې شاعر په باره کښې پېدا کېږي خو زمونږ لیکوالو ډېر په آسانه حل کړي دي. هغه ځکه چې ځان ته دومره سرخوږول نۀ دي پکار بس خو یې د څېړنې د کتابونو پاڼې وکول پکار دي. خبره دے کۀ نوردعلم تنګي پرې بیا اداڼه کوي. حوالې د پاره بیا کتابونه راخلي او هغوي پرې هم بې توکه‌یکي د ټولو نه مخکښې به زۀ دلته د ابراهیم باره کښې دَ مختلفو لیکوالو محققینو د کتابونو نه د اقتباساتو په شکل کښې دَ هغوي د پېژندنې او د هغوي د زمانې. د شاعرۍ او خاندان باره کښې دلته اولیکم نو بیاکۀ زۀ د خپل تحقیق په رڼا کښې څۀ لیکم نو په پوهېدلو کښې به لوستونکو ته اسانې وي. په دې نوم باندې ډېر شاعران تېر شوي دي. خو دلته چې دکوم ابراهیم ذکر کېږي د هغه غزل په "چمن بې نظیر" کښې را غلے دے. د پخوانو شاعرانو د غزلو یو خطي مجموعه ده. یو انګرېز محقق "پادري هیوز" دد غه خطي نسخې نه په خپل کتاب "کلید افغاني" ددې شاعر هم یو غزل را خستے دے د کلید افغاني په سر کښې د افغانستان دَ



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستر محقیق عبدالله خدمتګار په هر شاعر تعلیقات درج دي هنوي لیکي -

دچمن بې نظیر دشعر د شاعر په باره کښې یو احتمال دا دے چې نوموړي دي د کالوخان دغه ابراهیم شاه وي ځکه چې دي د کلید افغاني د تدوین دزمانې د شاوخوا اولسي شاعر وو او دَ قیافې کیسه چې په کلید افغانې کښې راغلې ده دهٔ تشکیل کړې ده ددې نوموړي شاعر په باره کښې نور څهٔ معلومات چاته هم نیشته - (۱)

ستر محقیق پوهاند محمد افضل رضا صاحب دابراهیم باره کښې د پښتو ادب تاریخ ستوري کتاب پښتو اکېډمي پېښور چاپ کال ۱۹۸۶ء په صفحه ۲۹۳ باندې لیکي -

راقم الحروف (محمد افضل رضا) ته پښتو ستوري دَ تحقیق په لړکښې د محمد ابراهیم د لاس لیکلي د اخون قاسم فوائد شریعت نوم کتاب په لاس ورغلو چې په پښتو اکېډمي کښې موجود دے په آخر کښې لیکلي دي

"محمد ابراهیم متوطن خټک مصري بانړه"

---

(۱) پادري هیوز کلید افغاني کابل چاپ صفحه ۹۱۱ د چاپ نېټه ۱۳۵۶ کال د زمري ۱۵.



د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ : www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوهر کله چې صفي الله خټک د بانړې ملا (د مصري
بانړې نوښار تحصيل وو نو کيدے شي چې ابراهيم
څه ورځې په مصري بانړه کښې هم تېرې کړې وې
او ځکه يې صفي الله خټک په تېر و شوؤ عالمانو
کښې ذکر هم اوکړو.

د ابراهيم باره کښې د افضل رضا صېب د وېنا نه پس هغوي د ستر
محقق او ارښاد عبد الحليم اثر افغاني صېب يک هم په دې کتاب کښې
هم په دغه صفحه ۲۹۳ ليکي -

د ښاغلي اثر د ليک مطابق ابراهيم د سوات د
مشهور بزرگ پير بونده صېب په اولاد کښې يو
ډېر لوې عالم روحاني بزرگ او د پښتو ژبې
د بخواني طرز اسلوب په ليکونکو کښې د موزوني
طبقې شاعر او اديب تېر شوے دے.

په بل ځائے کښې هم په دغه صفحه ۲۹۴ د پټ ستوري کتاب
پښتو اکېډمي پېښور چاپ کال ۱۹۸۶ ء د اثر صېب ليک ليکي -

او د ابراهيم د ليکلو طرز د اخون درويزه د سبک
په پيروي کښې دے هر کله چې صفي الله خټک
په مياشت د صفرالمظفر ۱۲۷۳ ھ کښې د ده ذکر د
تېر و شوؤ عالمانو په حيث سره کړے دے
او د ميان صېب محمد عمر د چمکني زوي عبيد الله
مياں گل د خپل کتاب " هفت پيکر" په ديباچه



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

کښې د دغه ددې قیصې نوم یاد کړے دے او حضرت
میاں ګل په ۱۲۲۳ ھ کښې وفات شوے دے نو
وښیلے شي چې حاجي ابراهیم بابا د ۱۲۰۰ په زمانه
کښې تېر شوے دے ـ

اوس راځو د پښتو د نامتو محقیق پروفیسر محمد افضل رضا صیب د یو کتاب
د "پښتو غزل" چاپ پښتو اکېډمي پېښور کال ۱۹۷۸ ء صفحه ۴۴
باندې یک ته هغوې ددې نوموړي شاعر باره کښې لیکي ـ

ابراهیم د سوات او سپېدو سکې وو ـ د پیر پرشده
صیب په اولاد کښې وو د ۱۲۰۰ ھ په زمانه کښې
تېر شوے دے د زقوم بادشاه او سیف الملوک
قیصې هم لیکلي دي ـ قلمي ذخیره ئې په
قبر کلي کښې د فن ده لاندې یو غزل ئې
کلید افغاني کښې نقل کړے شوے دے ـ غزل ئې
د پښتو د قدیم غزل ټولې خوبۍ لري ټول نورې
غزلې ئې راقم الحروف "پټ شودي" کتاب کښې
درج کړي دي ـ

د افغانستان ستر محقیق او نومیال لیکوال ارواښاد عبدالحی حبیبي
صیب د ابراهیم په باره کښې د خپل تالیف پښتانهٔ شعراء اوله حصه
چاپ پښتو ادبي مرکز سرائے نورنګ بنوں کال ۱۹۸۷ ء صفحه ۷۵
باندې لیکي ـ

ابراهیم هم د هغه شاعرانو نه یو دے کوم چې په



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

گمنامۍ کښې مړ دے ـ حالات او دیوان ئې نهٔ دے پاتې ددهٔ بس د کلید افغانې په ذریعه یو غزل تر دې وخته ژوندے پاتې دے او دے مونږ د هغې په وجه د یو ښهٔ شاعر په حیث پیژنو ـ

س

چې د عشق سودا په سر کړم کله مرد یم
سر پورېکړے په میدان کښې د عشق فرد یم
د عشق نوم ځکه په ما باندې سمې شهٔ
وچې شونډې لوندې سترګې کونه زرد یم
د یادداشت بهره به بیا مومم امید دے
لکه تن چې شغول شوے په یادګود یم
کهٔ مې سر او مال د یار په مینه لاړ شي
خدائے دې نهٔ کړه کهٔ پرې ګم یا پرې سړیم
تعلق هستې مې دوارہ پسې شا کړه
جریده د عشق په لار کښې روان فرد یم
دامن وا خله چې ګرد الوده نهٔ شي
خسته پروت د یار په در کښې لکه ګرد یم
بېدردان د عشق له سوزه خبر نهٔ شو
بوا هیم ځکه منت بار د اهل درد یم



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د افغانستان بل ستر محقق هېواد مل زلمي هم د ابراهیم باره کښې لیکي .

ابراهیم از شعرای قدیم پښتو است پادری هیوز غزل ابراهیم را از چمن بے نظیر در کلید افغانی منتخب کرده ابراهیم غزلیات عشقی میسرود تذکره نویسان، پښتو شعر و شرح حال ویرا ضبط کرده اند از دست .

۳ بې دردان د عشق له سوزه خبر نهٔ شول
براهیم ځکه منت باد د اهل درد یم (۲)

دا نو وو د ابراهیم په باره کښې د مختلفو محققینو د تاریخ په رڼا کښې بر شان پېژندنه چې څوک وو د کوم زماني وو . شاعر وو بزرګ وو صوفي وو په دغه تېر شوي تحقیق باندې بر شان سوچ پکار دے اوچې په اختصار ئې جاج واخلو نو معلومېږي چې دغه ټول تحقیقونه د تضاد ښکار دي او په یو وخت مختلف بیانونه بیان شوي دي ښاغلے افضل رضا صيب په یو ځائے کښې لیکي چې د یو خطي نسخې له مخه متوطن خټک د مصري بانړې نوښار وسېدونکے دے او په بل ځائے کښې دا ثو صيب په وېنا

---

۲- زلمي هېوادمل فرهنګ زبان و ادبیات پښتو چاپ وزارت تعلیم و تربیه کابل کال ۱۹۷۷ صفحه ۷ ، ۸



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

متفق دے چې د سوات د پېښ پوړ، او لاد کښې دے او هم هغه غزل ئې ليکي کوم چې حبيبي صيب ليکلے دے.

البته ارواښاد حبيبي صيب په گمنامه شاعرانو کښې اچولے دے او هغوي ته ئې حالات نهٔ دي معلوم د هغوي دا ليک دَ قدر وړ دے.

دا ځکه چې بز د خپل نظر په تله او تلو هر چا ته حق حاصل دے چې څېړنه او کړي زهٔ څېړونوال نهٔ يم خو دلته د ابراهيم باره کښې د خپلو معلوماتو په رڼا کښې خپله يو نظريه لرم. او خپل دې يک ته حتمي نهٔ وايم. دلته راقم الحروف د تېر شوي يک او تحقيق په رڼا کښې څهٔ معلومات او د خپلو معلوماتو د زخيره کړئ يو کول غواړي. او لوستونکو ته د ابراهيم په باره کښې خپله څېړنه پېش کول غواړي.

دَ ابراهيم غزل په چمن .ې عديل و گلشن .ې تمثيل کښې چې د ميان نځوګل کاکاخېل تاليف دې کښې ذکو هم شته ميان نځوګل دا کتاب په ۲۵ رمضان ۱۳۰۱ه کښې ليکلے دے او په دې کښې د ړغونو غوره هغه شاعرانو ذکر کړے دے کوم چې د خوشحال بابا، رحمان بابا وغيره، تر وخته وو.

څېړنه چې هر کله څوک کوي نو داخلي او خارجي شهادتونه ضروري دي د چاپېر چل حالات او د نږدې زمانې حالات دَ هغې نه پسته حالاتو تحقيق بيا هله پکار دے دا سې نه چې .ې توکه .ې تحقيقه کله د سوات او کله د مصري بانړې راقم الحروف



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې کومه نظریه د ابراهیم باره کښې پېش کوي هغه به د بره درجې شوي شهادتونو په تله تلي او پېش کوي به يې -

میان، نځوګل چې د کومو شاعرانو ذکر په خپل کتاب کښې کړے دے نو ابراهیم يې د کومو شاعرانو په زمانه کښې اچولے دے د ده غزل د کومو شاعرانو د وخت سره قافیو ردیفونو سره سمون خوري نو دا يې نه بلکه معلومه شي چې دے د هغه وخت شاعر دے نو د سوچ په موږ ته یو لار او ښائي زموږ رهنمائي به وکړي او بیا به موږ په دغه لار خپل مرام ته تګ کوو د دغه زمانې په شاعرانو کښې خوشحال بابا هم یاد شوے دے پښتو ادب بانېي دده او ددوي د خاندان لوي احسان دے - خوشحال بابا نه را واخله زامن - لمسي کړوسي يې هم د پښتو ادب خدمت کوي لګيا دي - او پښتو ادب ته وده ورکوي -

دغه شان د خوشحال بابا مشر زوي چې په جمال خان - جمیل خان خواجه جمال الدین نومونو بانډې په مختلفو موقعو یاد شوے هغه هم لکه د خپل رور د تورې او قلم خاوند وو او په ادبي میدان کښې د خپل رور خوشحال بابا نه روستونه وو خو بس صرف فرق دا وو چې جمال خان بابا د تصوف، سلوک، معرفت لار خپله کړې وه ددې هم څخه باوجود جمال خان بابا شاعري هم کوله د شاعرۍ باره کښې افضل رضا صاحب پټ ستوري نومي کتاب او د افغانستان نومیالي او ستر لیکوال عبدالله خان شګار بختاني په پښتانه شعراء بخم ټوک کښې په دو مېنو صفحو کښې ذکو سره د هغوي د شعرونو غزلو ډېر په وضاحت سره کړے دے - د دوي خطي نسخې "تذکرة الاولیاء" او "نور محمدیه" په نومونو په فارسي ژبه کښې لیکلي په



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پښتو اکېډمۍ پېښور کښې پرتې دي د غه شان الرشيف مسلې افغانستان کښې هم يو خطي د فارسي نسخه پرته ده چې وس وس هغوي د مناقب شيخ رحمکار رح په نوم چاپ کړې ده زما ددې مطلب دا دے چې د خو شحال بابا سکه دور هم په ادبي ميدان کښې د چانه روستو نهٔ دے نو د غه شان د جمال خان بابا زامنو هم خپل خاندانې روايات قائم او برقرار ساتلي دي ـ لکه د جمال خان بابا زوې محمد صديق چې د هغوي نه پس سجاده نشين هم وو د هغوي ديوان چې د کابل نه د "ديوان صديق" په نوم چاپ دے ـ

راځم خپلې مدّعا ته چې ابراهيم زما په نظر کښې څوک وے ترکومه چې زما تحقيق دے نو ابراهيم گمنامه نهٔ دے د جمال خان بابا زوې دے سکه د خپل تره او پلار شاعر وو ـ صوفي وو بزرگ وو ـ لوستونکي به وائي چې تا سره څهٔ ثبوت دے د دې دپاره د خپل کوان مشر مياں فردوس شاه فقيرخېل د مرتب شوې شجره نسب نه حواله ورکوم ـ

د جمال خان بابا څلور ېپيانې وې د هغوي ديار لس
زامن وو په هغه بيبيانو کښې د بي بي رابعې
چې په قام اسماعيل خېله وه پنځهٔ زامن وو
چې نومونه ئې په دې رنگ دي ـ

۱ـ محمد ابراهيم ۲ـ محمد اسحاق ۳ـ فقير محمد صديق ۴ـ محمد عتاق ۵ـ محمد صالح (۳)

---

۳ـ فقير خېل فردوس شاه مياں شجره نسب فقير خان خېل (فقير خېل) ناشر انجمن اتحاد جمال خېل چشمي اکوړه خټک د چاپ کال ستمبر ۱۹۹۱ ع



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

دا بله ښه ثبوت چې د غه شاعر چې ذکر يې په چمن بې عديل وګلشن بې تمثيل ميان اخون ګل او کليد افغاني کښې پادري هيوز کړے دے ګمنام نهٔ دے ګمنام ځکه دے چې چا تحقيق نهٔ دے کړے د فقير جميل بيګ رح جمال خان رح زوی دے ځکه يې هم په د غه کتاب کښې د يوې زمانې د شاعرانو په قطار کښې ځائے کړے دے۔

د غه شان ښاغلي افضل رضا صيب ليکي چې هغه د مصري بانړې متوطن خټک چې د تحصيل نوښار يو کلے دے او سيدونکے وو د مصري بانړې لږ محل وقوع مصري بانړه په اکوړې کښې د سيند په غاړه ده بلکه دا هم د پښلے شي چې اکوړې او مصري بانړه کښې فرق نهٔ وو بلکه هر کله چې سيند يعني اباسين خپل رخ بدل کړو نو مصري بانړې يې جدا کړه اشرف خان هجري هم دا په خپلو شعرونو کښې په تاخت هم ياده کړې ده د جمال خان اولاد په چشمئ - اکوړې نهال پوره - نظام پور - شېدو او د غه شان په نورو ځوا و شا کلو کښې آباد دے۔ دا هم يو ثبوت دے کېدے شي چې ابراهيم بابا رح په مصري بانړه کښې سکونت اختيار کړے وي ځکه چې مصري بانړه او د غه ټول نژدې ځوا و شا کلي ځو د هغوی ملکيت او جايداد و

دلته به زهٔ د ثبوت په توګه د ارواښاد ستر محقق عبدالحليم اثر افغاني صيب يو ليک ته د لوستونکو پاملرنه را وګرځوم هغوی په خپل يو مضمون چې سرخط يې "اخلاقتا نه" دے کښې ليکي -

افضل خان دا ذکر نهٔ کوي چې محمد اسحق رح - محمد ابراهيم رح
د محمد صديق رح کشران رونړه هم ده د پلار محمد اشرف خان رح

نه هم مشران وو هم د پښتو شاعران وو په شال کښې د "فقیر ابراهیم چشتي" سهروردي یو غزل داورم -

چې د عشق سودا په سر کړم کله مرد یم
سر په ورپسې کړې په میدان کښې لکه فرد یم
بې دردان د عشق له سوزه خبر نهٔ شو
براهیم څکه منت بار د اهل درد یم (۴)

هغوي یکي په دې غزل کښې مصرعه جرېده د عشق په لار کښې روان فرد یم دا ښائي چې ابراهیم په مقام د فردیت کښې وو چې د فنا في الله مرتبه ده چرته د مقام فردیت خاوند ابراهیم او چرته د افضل خان پلار محمد اشرف خان هجري لیکن افضل خان یې ذکر نهٔ کوي -

دا وو د اثر صیب لیک . د لته کښې اثر صیب هم د دغه ابراهیم باره کښې مل شان لیکل کوي . کېدے شي چې هغوي په دې نتیجه رسېدلے وي چې هغه ځکښې تحقیق سمې نهٔ وو بلکه هر کله چې هغوي ته معلومه شوه چې د جمال خان بابا په زامنو کښې هم شته او د مصري بابا نېږي او سپد ونکے دے نو دې نه معلومه شوه چې دا ابراهیم د جمال خان بابا زوي دے . جمال خان بابا چې په فقیر بابا مشهور دے د غوثیت او قطبیت د درجو نه تېر شوے دے د غه

---

۴- خوشحال ریویو شماره د پښتو اکېډمي پېښور چاپ کال ۱۹۸۷ ص ۲۵



(c) ketabton.com: The Digital Library
www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شان د اولادې هم تربیت کړے او وخت په وخت یې زامن هم سجاده نشین پاتې شوي او د تصوف، سلوک، مختلف درجاتو نه تېر شوي نو شاعري یې هم د تصوف په رنګ کښې رنګ ده لکه په یو غزل کښې وائي

چې خبر په اسرار نهٔ شي د هو هو
په هغو بېړو د هر چا شه تو تو
له اوله پرې د قتل فتویٰ زهٔ کړم
د غافلو په غزا کړ ځي رو رو
څوک غافل خاموشه ناست دي مستغرق شو
څوک فاخته غوندې نارې که په کو کو
بې افتابه ذره چا لیدلې نهٔ ده
ښکاره وي د غم په مخ سره یو یو
د ستا مخ زما د سترګو منظرګاه دے
ستا مخ په اور مې سترګې شوې لو لو
بې دردان به اهل درد نهٔ شي براهیمه
مرې زړې کهٔ په سل حٔله کړې فو فو (۵)

د عبدالقادر خان خټک یو غزل هم په دې قافیه باندې لیکلے شوے دے۔

---

۵- رضا محمد افضل ، پټ ستوري ، پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي ۱۹۸۴ ص ۲۹۷



د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ : www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

چاموندلی دې ناري وهي هو هو
څوک طالب ځني پښتنه کا کو کو
عرشيان يې پرستش کا له فرشيا نو
فرشيان هم پسې ګرځي په سو سو
د دوئ خبرې مه کوه مطربه
په نغمه کښې يو يو وايه نه دو دو
چې را غلي له عدم د ې وجود ته
راز يو ترسيله کا چې به څو څو
د ځوانۍ شاهين ياغي شو رابه نه شي
که فرياد د عبدالقادر کاندې قو قو

د عبدالقادر خان بابا هم په دې غزل کښې د تصوف رنګ دی .
دغه شان په چمن بې نظير کښې د خوشحال بابا عبدالقادر خان
خټک ، اشرف خان هجري ، کامګار خټک ، سعيد بابا سکندر خان خټک
وغيره وغيره د هغه شاعرانو غزلي ليکلي شوي دي کوم چې
دغه ټول ديوې زمانې شاعران وو . او ابراهيم بابا هم ددغه
زمانې د شاعرانو په قطار کښې راتلې شوې دی .
په ټول تفصيلي بحث به نورېز نظر وا چو .

د جمال خان بابا د وفات زمانه ۱۱۰۶ هـ ده . د ابراهيم بابا زمانه
۱۲۰۰ هـ ليکلې شوې ده نو دا زمانه نظر کښې د عبدالقادر خان خټک
همزولې کم و بيش د ۱۱۴۲ هـ د زمانې دی ځکه چې غزلې يې ديو
بل په قافيه روښان ښکاري .



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ابراهیم بابا متوطن خټک د مسرې باندې اکوړې او سپد ونکے دے دغه يې د اوسېدو او کاني ثبوت دے بل ثبوت يې دا سې نيشته چې چرته په يوه کښې راغلے وي د ابراهيم بابا په غزلونو باندې د تصوف رنګ هم پروت دے.

ابراهيم بابا د عبدالقادرخان سکندرخان دې دزمانې په شاعرانو کښې شمېرلے شوے دے.

د خوشحال بابا د سکه ورور جمال خان بابا په شجره کښې د ابراهيم بابا نوم شته او د زمانې حمون يې هم د هغوې د زمانې سره دے.

ددې تحقيق په رڼا کښې دا ثابته شوه چې دا ابراهيم بابا هم د جمال خان جميد بېګ فقير بابا زوې دے د مور نوم يې بي بي رابعه وو په قام اسماعيل خېله وه. ضروري نه ده چې بس دا تحقيق سهي دے بلکه زما ددې مضمون ليکلو مطلب دا دے چې نور پيا وړي محققين دې هم لټون اوکړي او په دغه موضوع دې څه اوليکي چې راروان نسل ترې خبر شي.

## کتابونه:


۱- رضا محمد افضل پروفيسر پټ ستوري پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي ۱۹۸۴ء

۲- رضا محمد افضل پروفيسر د پښتو غزل پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي ۱۹۷۸ء




www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library


۳- هیوز پادري کلید افغاني د څېړندوي عبدالله خدمتګار غتاني په سریزه کابل ۱۳۵۶ ش ه -

۴- خوشحال ریویو شماره ۱ پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي کال ۱۹۸۴ء

۵- هېواد مل زلمی فرهنګ زبان وادبیات پښتو مطبع تعلیم و تربیه کابل ۱۹۷۷ء

۶- خټک عبدالقادر خان خدیقه خټک مدونه و مرتبه انوارالحق سید یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښور

۷- حبیبي عبدالحی پښتانهٔ شعراء اوله حصه یونیورسټي بک ایجنسي خیبر بازار پېښور -

۸- فقیرخېل فردوس شاه میاں شجره نسب فقیرخېل انجمن اتحاد جمال خېل چشمئ اکوړه خټک ستمبر ۱۹۹۱ء -




www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## نوم ورو کے شاعر

# محمد سعید او د هغهٔ قلمي آثار

زموږ د پښتنو په هره قبیله - خاندان او قوم کښې ډېر لوئے لوئے شاعران - ادیبان - عالمان تېر شوي دي چې ځني ښکاره دي او ځني اوس هم په تیارو کښې پټ دي او دا برباده کول غواړي - خو د دغه خلقو د علم خزانې زموږ د ناپوهۍ په وجه ورځ په ورځ ګردونو کښې پټېږي او موږ د دغه خلقو د علم خزانې نه محرومه پاتې کېږو زموږ د پښتنو په سیمه کښې اوس هم داسې لویې لویې علمي کورنۍ شته چې په هغې کښې د لویو لویو شاعرانو ادیبانو عالمانو کتابونه په چاپي او قلمي شکل کښې موندې پراته دي او د دغه خلقو سره يې هېڅ قدر و قیمت نیشته او د دغه ناپوهۍ په وجه د غه پوهه خلق اوس په نوم ورکو کښې شمار لے شي چې زموږ د پاره د ډېر لوئے زیان دے که چرې د غه قیمتي علمي سرمایه دا برباده کړے شي نو د راروان وخت نسل به ترې د برخهٔ زده کړي - ولې چې د دغه نومورو پوهانو د علم په وجه نه صرف موږ د علم د رڼا نه منوّر شو بلکه راروان نسل به هم په د غه لار چل تګ تېر کړي او ذهني ثقافتي



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

سیاسي علمي پرمختګ به نور هم مخ په وړاندې کړي خو ددې
هر څهٔ با وجود داسې علمي کورنۍ هم شته چې هغوي غواړي
چې د هغوي د اسلافو کارنامې دې په داګه کړے شي په دې
سلسله کښې چې زهٔ ئې د کوم نوم ورکي شاعر - عالم نوم رابرسېره
کول غواړم او د نوم نه ئې ګردونه سنډلم او د هغوي ورک
قلمي آثار راښکاره کولو باندې ځېله مقاله ښائسته کوم په دې
سبب چې د پښتو ادب په باب کښې نوې اضافه وشي هغه نوم
ورکي شاعر - عالم میاں محمد سعید دے باشرچې اول په دې دنیا
داچو وچې دوي څوک دي د کوم ځائے دي په کوم زمانه کښې
ئې ژوند تېر ولو او د کوم خاندان څخه تعلق لري ددې معلوماتو
حاصلولو د پاره به موږ دوه لارې چلوو یو لار د میاں محمد سعید
د قلمي آثارو په رڼا کښې او بله د هغوي د خاندان د افرادو
دیک یا زباني شهادت نه چې په دې وخت کښې ژوندي تېروي او دې
سره به موږ ته دوه اړخیزه کټور معلومات په ګوته شي - په
خټکو کښې د بهادر بابا چې ابک بابا باندې شهرت لري کورنۍ په
مذهبي سیاسي - علمي او ادبي لحاظ سره لوړ مقام لري د
بهادر بابا نوم په روحاني دنیا کښې سکه د ځلنده ستوري ښکاره
دے او هم د غه شان د هغوي زامن د سلوک د لارې د سختو
ریاضتونو نه تېرشوي او د غوثیت او قطبیت درجات ئې موندلي
د بهادر بابا ( ابک میب ) درې زامن دو چې د هغوي نومونه
دا د رنګه دي -



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱- حضرت کسیر ګل معروف به کاکا صاحب ۲- حضرت حیات بابا
۳- حضرت شیخ غفان بابا

ددې په تائید کښې د حضرت کسیر ګل بابا (کاکا صاحب) د زوي حضرت حلیم ګل بابا کتاب مقامات قطبیه و مقالات قدسیه چې میان مهتد الله کاکاخیل په فارسي ژبه کښې چاپ کړې او په اردو کښې ترجمه ئې اروابښاد عبدالرازق کوثر کړې ده په صفحه ۲۳۶ باندې لیکي

> حضرت صاحب کے دو بھائی تھے اور دونوں صاحبان ولایت تھے ایک حیات خان صاحب اور دوسرا شیخ عفان تھا جو کہ شیخ جی کے گنبد کے نزدیک دفن ہیں۔

ترجمه:- د کاکا صاحب دوه رونړه وو او دواړه د ولایت خاوندان وو د یو نوم حیات خان او دوهم شیخ عفان نومېد وچې د شیخ جي (کاکا صاحب گنبد سره نژدې ښخ دي -

د غه شان تاریخ مرصع د افضل خان ختک کښې هم دغه ذکر شوے او ستر محقق اروابښاد سرفراز خان عقاب ختک هم په خپل کتابچه " کاکا صاحب" کښې په صفحه ۲۹ لیکي -

> کاکا صاحب کے دو بھائی تھے ایک کا نام حیات خان اور دوسرے کا نام شیخ عفان -

ترجمه:- د کاکا صاحب دوه رونړه وو د یو نوم حیات خان او د بل شیخ عفان وو-

دد غه کتابچې "کاکا صاحب" په صفحه ۳۰ د مناقب شیخ رحمکار



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د میاں شمس الدین کاکاخېل (قلمي) په حواله سرفرازخان عقاب خټک د کاکا صیب د دوښو باره کښې یو شعر دا شان پېش کوي

دده دوه دوښه په ځان
حیات خان او شېخ عفان

د بهادر بابا (رح) ایک صیب ددې زامنو د اولاد سلسله په دې ډول ده چې د کاکا صیب اولاد ته کاکاخېل میاں ګان وائي او د حیات خان او شېخ عفان اولادته ایک خېل میاں ګان وائي په دې دواړو کورنو کښې لوئے لوئے عالمان ـ شاعران ادیبان تېرشوي او اوس هم شته زمونږ ددې مقالې دا نوم وروکے شاعر ـ عالم میاں محمد سعید د ایک خېلو میاں ګانو د کورنۍ سره تعلق لري په نن زمانه کښې په ایک خېلو میاں ګانو کښې خداے بخښلے میاں سېد رسول رسا ستر شاعر ـ ادیب محقق ـ عالم تېر شوے ایک خېل میاں ګان تر لرې لرې علاقو کښې پراته دي ـ

د میاں محمد سعید شجره نسب چې راقم د هغوي د عمسي مولانا سلطان محمود صاحب پېش امام د مېرزمان بابا جمات واقع لوند خوړ روډ کاټلنګ نه تر لاسه کړي او مننه ئې کوم دا رنګه ده

میاں محمد سعید بن میاں محمد جنېد بن میاں عباس ګل
بن میاں امېرالله بن میاں عبدالله بن میاں یوسف
بابا بن میاں عباس ګل بن میاں اسماعیل بابا بن میاں
لائق شاه بن میاں علي خان بن میاں شېخ عفان بابا
بن بهادرخان بابا معروف به ایک صاحب ـ



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

میاں محمد سعید د مردان ضلعې د کاټلنګ کلي په اوډیګرام کښې زیږېدلے وو د زیږېدنې نېټه یې ۱۲۶۳ھ ق ده د میاں محمد سعید کشر ورور عبدالجلیل نومېدو چې په ۱۳۰۲ھ ق کښې مړشوے دے ده غه شاعر۔ عالم میاں محمد سعید د زامنو نومونه دا دننګه دي۔

میاں عبدالواحد۔ میاں غلام محمد۔ میاں غلام صدیق۔
میاں سلطان محمود، میاں سید محمود

په زامنو کښې یې د غلام محمد اولاد نهٔ وو او د نورو زامنو نه یې د اولاد سلسله جاري ده چې اوس هم په کاټلنګ کښې د ایک خېلو میاں ګانو په نوم ژوند او وخت تېروي د میاں محمد سعید دوه بیبیانې وې۔ میاں غلام صدیق او میاں غلام محمد د مشرې بي بي اولاد وو او نور زامن یې د کشرې بي بي نه زیږېدلي وو۔ په زامنو کښې یې غلام صدیق ډېر ښه خطاط وو شاعر هم وو د غلام صدیق د لاس یو قلمي د اشعارو جونګ هم په لاس راغلي په د غه جونګ کښې د دیارلسمې او څوارلسمې هجرۍ د شاعرانو اشعار درج دي چې په هغه شاعرانو کښې د یو څو نومونه دا دننګه دي غلام صدیق په خپله چې په میاں ګل تخلص سره شعر لیکي۔ ملا فضل محمود علي احمد۔ خیرے۔ مختار۔ خاکسار۔ میاں محمد سعید چې د غلام صدیق پلار دے۔ وغیره نورو شاعرانو شعرونه۔ دا څو وو د میاں محمد سعید د ژوند خاندان ځائے ځائېږے۔ اولاد او زیږېدنې متعلق معلومات۔



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# قلمي آثار

میاں محمد سعید د دیارلسمې هجرۍ پېړۍ یو نوم ورو کې خو بډ ژبي شاعر او عالم وو چې په سعید تخلص سره یې شعر ویلې دوي په قلمي آثارو کښې چې کوم قلمي آثار په لاس راغلي دا آثار په پښتو ادب کښې د یو نوي باب اضافه لري هغه خطي آثار په دا رنګه دي۔

۱۔ فتح العراق ۲ سفرنامه بنګال

د دې آثارو تفصيلي ذکر په دا ډول دے

## ۱۔ فتح العراق :

دا د میاں محمد سعید د لاس لیکلې شوې خطي پښتو منظومه نسخه ده چې د راقم سره په کتب خانه کښې خوندي ده او س اوس په مارچ ۱۹۹۸ء کښې په لاس راغلې په دې کتاب کښې میاں محمد سعید د زقوم بادشاه د جنګ قیصه په ډېر تفصیل سره بیان کړې ده او په د غه مناسبت سره یې ورته نوم" فتح العراق " ایښود ے دے۔ دلته دا خبره یادول پکار دي چې د "جنګنامه زقوم" په نوم یو وړه کتابچه چې ۱۷ مخونه لري په هندو پړ بس دهلي کښې چاپ شوې ده دې نسخې مؤلف " امیر" نومېږي او بله نسخه د محمد ابراهیم د زقوم باد... اه قیصه نومیږي په خطي شکل کښې پښتو اکېډیمۍ پېښوړ یونیورسټۍ او د افغانستان د ستر محقق ګران زلمي هیوادمل صیب په کتب خانه کښې موجود ده او د میاں محمد سعید دا جنګنامه



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زقوم درېغم در یافت دے دا کتاب په پښتو مثنوي کښې ليکلے شوے دے په حجم ۱۶۹ مخونه لري - کاغذ ئې يورپي دے ژبه ئې خټکي ده په قطع ۱۶×۲۵ سنتي ميټر دے خط ئې نستعليق دے په توره سياهۍ ليکلے شوے دے يوځو مخونه ئې په شنه سياهۍ ليکلي دي د کتاب د مخ (۱) نه تر (۳۹) مخه پورې " حمد - حکايت - مناجات - نعت - مناجات - صفت چهار يار - بيان گردش زمان و حالات جهان - حکايت - سبب تاليف کتاب بيان حالاتِ خود" ليک دي ورپسې د (۴۰) مخ نه تر مخ (۱۶۹) پورې د زقوم بادشاه د جنگ قيصه په تفصيل سره ليکلي ده او په آخر کښې خاتمه په عنوان " فى الخاتمه کتاب وتاريخ " سره کړې ده د کتاب په باب " سبب تاليف الکتاب و بيان حالات خود " اود کتاب د ليکلو وجه ليکي خود اختصار په توګه به د لته ليکم چې په ۲ ماه محرم الحرام ۱۳۰۳ ه ق د محمد سعيد کشر ورور عبد الجليل په د کېه جلال آباد علاقه ګوداب ملک ننګرهار کښې د ډاکوانو د لاسه شهيد کړے شو لکه ليکي -

په مقام کښې د ډکي غــــلو مفسدانو
دے شهيد کړو احوال واورئ اے يارانو

د خپل ورور په غم کښې غمجن شو او د ډېره غمه او د کورني و اقتصادي مشکلاتو له سببه هندوستان ته په سفر لاړو په دې سفر کښې د زياتو مشکلاتو سره مخامخ شو د لته دا ياداښت د پاره ليکم چې د دغه مشکلاتو حالات ئې د راقم سره د هغوي د لاس ليکلے يک په فارسي کښې چې خپل عزيز ته ئې د هندوستان د آسام نه په نومبر ۱۸۹۰ ع کښې په تفصيل سره ليکلي او په کتاب فتح العراق کښې هم د دې حالات



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیکي (ص ۳۷)

هر کله چي راغله دوار پسلو تخته
ماوے راشه ددې ځپل ملکه وتخته
سفر وکړه کوئ ے دی داشه آسان
په سفر باندې ورکیږي مدام ګران
ماوې راشه برابر د هند په لور ځه
برابر په دغه ګادي کښې د اور ځه
نوروان شوم د کوره هغه آن ے
شو په زړه کښې مي بنه نیت د هندوستان
لاړم شکته کوز د کن ان ویرا سوکا
په فراق فراق کښې تل په غم کښې ژاړه
نه مي یار نه مي څوک دوست دلارې مل وو
یک تنها زما په زړه د غه غوبل وو

دکتاب سبب تالیف هم په صفحه ۳۸ لیکي -

خاص جوړ شوې دا کتاب دې د پاره
ملک د هند وو پښتو هم نه وه اظهاره
نور مي ځان مشغولو جوړ مي کتاب کړ
دا کتاب مي د غزا په یو باب کړ
ورسره هم شته دے ډیرې قیصې نورې
د عبرت او نصیحت که ئې ګورې

دکتاب د نوم باره کښې لیکي (ص ۳۸)



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ورته نوم شو مقرر فتح العراق بیا
په فارسي کښې د غه نوم لري اوراق بیا

دکتاب آغاز بسم الله الرحمن الرحیم نه ورسته داسې کوي

اول حمد د پاک الله رحمن رحیم دے
چې خالق رازق جبار خبیر علیم دے
چې واحد احد صمد سمیع بصیر دے
لم یلد ولم یولد څه حاجت په وزیر دے
بې شریکه بادشاهي يې ده تما پښمه
بې زواله بې نقصانه بې علته دے دا ټمه

د ز قوم قیصه په صفحه ۵۸ د آغاز داستان جنګ بادشاه ز قوم کُه محمدؐ در پس او رفته بود " باب لاندې په دې دول شروع کوي .

اې قلمه راشه بیا وکړه تحریرونه
تحریر هسې چې ملک کړي واړه منیرونه
د مخزن د فارسي شه پښتو سنج
په لاس ورکړه افغانانو ته دا ګنج
که دا ګنج هم شي په لاس د افغانانو
په دُعا کښې به هم یاد کړه ما یارانو
هسې نقل د ناقل نه د فارس دے
هغه څوک چې بیا د دې قیصې وارث دے
هغه کاندي په دا رنګ وا وره ته بیان
مایدلے دا بیان دے هسې شان



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې حضرت په مدينه کښې يو ورځ ناست وو
د پر مجلس ورسره ناست په چپ وراست وو
هم وو ناست ورسره څلور يـاران
لار خومنکې لکه ستوري د آسمان
د پر اصحاب وو ورسره مور هم نشين
په دا ميان راغې فرمان درب متين
جبرائيل راغې په حکم د ستار بيا
شو په مخکښې د حضرت نبي مختار بيا
جبرائيل وے يا رسول اصلوات دے
دا صلوات هم د جانب د پاک ذات دے
بيا يې هسې فرمائيلي دي رسول
اے په مننه د خدائے دهر نبي قبول
د عراق په طرف د روهه رواني يه
حکم د غه دے يو دم معطليګه
د عراق په نواحي يو قلا ده
د کفار تن په هغه ځائے غوغا ده
او بل فتح د عراق د هغې نوم دے
او بادشاه په کښې ښکاره وابهم زقوم دے
دے په ټولو کافرانو دے سردار
د عراق په ملک کښې حکم کړي تاجدار



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په هغې پسې روان کړه خپل لشکر
رب به درکړه درته فتح هم ظفر

د ذ قوم بادشاه د جنګ دا قیصه په صفحه ۱۷۹ په دې بیت سره پای ته رسیږي -

کړې ایمان مې سلامت پاک وهابه
ماله بنده خلاص کړې د هر رنګي عذابه
هم سره د ټول امت د پاک حضرت
کړه داخل موجمله واړه په جنت

او د کتاب خاتمه په "فی الخاتمه کتاب د تاریخ" په عنوان کوي او دا رنګه شعر لیکي -

زړه مې بند د غمونو په زنځیر خلقه
نور مې وکړه هسې رنګ یو تدبیر خلقه
دا قلم او سیاهي هم کاغذ درې واړه خلقه
ماکړل جمع سره دوي ګوډې هم غاړه خلقه
نو مې دا احوال تحریر کړو د تې د پاره خلقه
کوئ یاد هم ما عاجز کړې رب د پاره خلقه
یو دعا که ماته وکړې د اخلاصه خلقه
چې زه شم خلاص هم د غمونو د اسواسه خلقه

رب به درکړه عوضونه بې پایانه خلقه
زه دا سوال کوم هسې د رحمانه خلقه



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مل تاریخ وو درجب المرجب اتو یشتم خلقه

هم سنه د هجرهسې نو یشتم خلقه

۱۳۱۳ه
دیارلس سوه پې دپا دپاسه دیارلس نور خلقه

دا سنه وه چې کاغذ شو دلته تور خلقه

په تور ځنګل کښې د بنګال د ملک آسام خلقه

نن ما سعید کړلو کتاب د غه تمام خلقه

## ۲- سفرنامه بنګال :-

میان محمد سعید د کتاب فتح العراق په آخر کښې د (۱۸۰) مخ نه تر (۱۶۳) مخ پورې (۱۴ مخونه) هم په دغه نستعلیق خط کښې په خپل لاس په قطع ۱۷×۲۵ سنتي میتر په تور سیاهي سره منظومه پښتو کښې سفرنامه بنګال په عنوان

در بیان احوالات سفر ملک بنګال و آسام بنګال

واز کیفیت احوالات ملک آسام

لاندې لیکلي په کوم وخت چې دهٔ دکن - آسام - بنګال - کلکته کښې د خپل کلي نه لرې وخت تېر ولو د سفرنامه بنګال آغاز په دې شعر سره کوي -

اے قلمه را شه بیا زما دم ساز شه

تر د خپل کوټه اوچت په دې آواز شه

سر کړه بشکته په دې کور د خپل دوات کښې

دا حالات د آسام بشکل کړه په ابیات کښې



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ته به ملک ته څهٔ تحفه یوسې دې ځائے نه
راشه یوسه دا احوال د دهاېی هائے نه

بنګال ته د تلو سبب داسې لیکي

چې کاروشه د تقدیر ټول د حکمت دي
څوک خبر خلقه د دروښي په حقیقت دي
څوک پوره کړه به خپل ملک څوک خوار وزار کړه
د خپل رزق د پاره غم انده وه بسیار کړه
څوک بې غم د خپل بستر د پاسه خوب کړه
څوک داهسې سرګودان ګوځې آشوب کړه

دګردش د زمان دا غله دا سخته
په ماپاندې یو زمان هم په څو وخته
نور سفر مې کړو اختیار د بنګالي!
رادوان شوم د خپل ملک بې حملې!
برابر دا خل په بنار د کلکتې شوم
په دا ځائے کښې څهٔ موده په واویلی شوم
د پرا شنا مې سرل خاص بهر د شهره
خه مدار عزت مې شو په دا دهره

د کلکتې د یو جماعت باره کښې لیکي -

خاص په شهر د کلکتې کښې جماعت دے
چې جوړ يي مشال د نیا کښې د جنت دے



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هره کته په کښې صاف سنګ مرمر ده
د مسجد د پاسه بیا مدرسه سبز ده
حوض ندي یو عجب منقشو ساز دے
صد رحمت په هغه شه چې استاذ دے

د غه شان د جماعت هر هر بناشت چې په کښې ستاښلے او په یو ډېر ښکلي انداز کښې یې د جماعت نقشه زمونږ مخکښې پېش کړې

په دې سفرنامه کښې یو غزل بمحل عنوان لاندے لیکلي چې یو څو شعرونه ترې د لته راوړم -

څنګ شوې ناست د زماني دلاسه غلے
لکه څوک چې په خر سور وي شرمېدلے
خدا ئے دې نکړه په ذ لت د سوال اخته څوک
لکه ماچرته پرې نخو چم نه کلے
د اُمید کچکول په لاس هر ځائے وېلاړ یم
د اسې ورنیشته چې زه ئې نه یم ور غلے
په وطن د بنګالې کښې مسافر شوم
په هېواد شو ر نه پاتې کهد او کلے

د سفرنامې په آخر کښې دا بیت لیک دے

که یو ځل په چا ښېنس چرته زمرے شي
غټ صورت به ئې وېرے نه نرے شي

په پښتو ادب کښې د رمبې سفرنامه منظومه د خوشحال بابا "سوات نامه" ده او بیا ورپسې میان محمد سعید ته دا اعزاز



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

حاصل دے چې په دیارلسمه هجري کښې ئې منظومه سفرنامه د سفرنامه بنګال د ملک آسام په نوم ولیکله په پښتو ادب کښې د خوشحال بابا د منظومې سفرنامې نه پس دا سفرنامه دوهم حیثیت لري چې د پښتو ادب سره علاقه لرونکو د پاره د نوي معلوماتو په طور پېش کېږي د پښتو ژبې دا نوم ورکړے لوئے شاعر عالم په ۱۳۳۴ھ ق بمطابق ۱۹۱۵ء کال وفات شوے او د کاټلنګ کلي په لويه هديره کښې خاورو ته سپارلے شوے لوي خدائے دې جنتونه نصيب کړي آمين دا دوه نوم ورکے شاعر۔ عالم ميان محمد سعيد چې ما د تياروونه رڼا ته کړم هيله لرم چې پوهان به پرې نور هم څه د قلم لاندې راولي -

## کتابونه:


۱- محمد سعيد ميان فتح العراق خطي پښتو منظومه نسخه يک در ۱۳۱۳ھ در کتب خانه ميان وکيل شاه فقيرخېل ساولډهېر (مردان)

۲- هېواد مل زلمي فرهنګ ادبيات پښتو (فارسي) مطبعه دولتي کابل ۱۹۸۷ء

۳- رفيع حبيب الله پښتو پانګه پښتو ټولنه دولتي مطبعه کابل ۱۹۷۷ء

۴- عقاب سرفراز خټک کاکا صاحب ۱۹۶۴ء

۵- حليم ګل شيخ - مقامات قطبيه و مقالات قدسيه (فارسي) جنرل پرنټنګ پرېس دهلي ۱۳۱۸ھ

۶- خټک افضل خان تاريخ مرصع له نوټونو سره د دوست محمد کامل مومند يونيورسټي بک ايجنسي خيبر بازار پېښور -




www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۷- پښتو مجله د پښتو اکېډمۍ پېښور يونيورسټۍ جولائي ۱۹۹۰ء
نه تر جون ۱۹۹۱ء پورې
۸- عقاب سرفراز خان خټک - تاريخ خټک (اُردو) حميديه پريس
پشاور ۱۹۶۵ء
۹- د اشعارو جونګ خطي د غلام صديق ابن ميان محمد سعيد
در کتب خانه ميان وکيل شاه فقيرخېل شجرهٔ نسب ابک خېل مياګان
خطي در کتب خانه ميان وکيل شاه فقيرخېل -
۱۰- محمد سعيد ميان سفرنامه بنګال و ملک آسام خطي پښتو منظومه
نسخه در کتب خانه ميان وکيل شاه فقيرخېل ساول ډهېر (مردان)



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو ژبې ته منظوم طبي لغت

په هره ژبه کښې په علم طب باندې مختلف کتابونه ليکلي شوي دي چې په هغې کښې د مختلفو بيمارو علامات ـ احوال او علاجونه ليکلي شوي دي دغه شان په پښتو ژبه کښې هم ډېر ښهٔ ښهٔ کتابونه په علم طب باندې ليکلي شوي ځنې چاپ دي او ځنې اوس هم قلمي پراتهٔ دي ـ چې په هغې کښې د ستر ننګيال شاعر ـ عالم او حکيم خوشحال بابا طب نامه يا صحت البدن اومقام لري ـ او دا کتاب په پښتو کښې د طب په موضوع کتاب ګڼلے شي ـ په دې کښې د بدن د مختلفو بيمارو د پاره دارو ګان تجويز شوي دي لکه دمثال په توګه د طب نامه دخوشحال خان خټک مرتبه محمد تقويم الحق کاکاخېل مطبوعه خوشحال ريسرچ سيل پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي کال ۱۹۸۵، په صفحه ۱۷ باندې "دارو د نيم سر" عنوان لاندې ليکي ـ

کهٔ په سر دے شقيقه شي
پرو سترګو عقيقه شي
حنا واخله ښه ئې آس کا
تهٔ ئې پورې په سرپاس کا
ستا صحت به ووشي ګوره
تهٔ ئې پورې کړه اے دوره

دغه شان د محمد صديق طب نامه هم شته چې په قلمي شکل کښې دَ



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ستر پوهاند صاحبزاده حمیدالله پښین په کتابخانه کښې موندي ده او ذکر يې په خپل مقالاتي کتاب د کوک کښکي چاپ پښتو ادبي بورډ کوټه ۱۹۹۷ء په صفحه ۹۳ کړے دے. دا نسخه په ۱۲۰۸ه کښې لیکلے شوې ده.

او بله قلمي نسخه د خوږ ژبي شاعر، لیکوال محترم رومان ساغر د کوهاټ سره په کتابخانه کښې موجود ده په دې منظومه طب نامه کښې د بیمارو حالات او بیا علاج ښودلے شوے دے لکه د رومان ساغر یو مقاله "صدیق څوک وو" چې په میاشتینزه مجله اباسین پېښور اکتوبر ۱۹۹۰ء کښې چاپ شوې په صفحه ۱۳ دد غه طب نامې د شروع کېږ و نه یو شعر لیکلے چې دلته يې راخلم -

د حاجي عبدالله زویه
اے صدیقه! تحقیق بویه
اول د رنځ ودارو زده کړه
دغه پسه ادویه کړه

هم د غسې یوه بله منظومه طب نامه د مِعزّالدّین ختک دَ دلیل العلیل په نوم په تېرو هېرو شاعران کښې د اروا ښاد عبدالحلیم اثر افغاني چاپ د پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټۍ اپرېل ۱۹۶۳ء په صفحه ۵۲ باندې را ښې معرفي کړې ده -

"معزالدین ختک یو بل کتاب په علم طب کښې د ورکوټي بحر په مثنوي کښې لیکلے دے. دد ې کتاب "دلیل العلیل" نوم دے چې په ۱۱۷۷ه کښې يې تالیف کړے دے دا کتاب ټول ۲۱۴ مخونه لري چې په ۱۲۹۹ه کښې قلمي شوے دے او دَ



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

خټکو د علاقې د موضع تنګاړو د میاں بازګل ولد خرّم شاه فقیرخېل په ذریعه پښتو اکېډیمۍ پېښور ته رارسېدلے دے" یو بل منظوم طبي کتاب "شافع الامراض" په دري میاشتینه مجله پښتو سنګوان مولانا عبد القادر اکتوبر، نومبر، دسمبر ۱۹۵۹ء چاپ د پښتو اکېډیمۍ پېښور یونیورسټۍ کښې په صفحه ۱۲۲ زمونږ "قلمي نسخې" د مراد شنواري مقاله کښې معرفي کړے شوے - دا کتاب د ریاست سوات د توتالۍ کلي ملا بازګل د عربۍ او فارسۍ ژبې د طبي کتابونو نه په پښتو کښې منظوم ترجمه کړے دے - په دې کتاب کښې مختلف بابونه دي په هر باب کښې د رنځ علامات او د هغې د پاره نسخې ښودلے شوي دي یوه نمونه ئې دا رنګه ده -

## باب در بیان زیړی

زیړے دے په دو رنګ
بیان کړم زهٔ له فرهنګ
یو زیړ دے بل دے تور
تا ته وایم زما رور
خو دې دي دا صاحب درنځ
تړې به شي صاحب د کنځ
کهٔ او بهٔ خوري دهند وانې
د پښې تا د اوږې
دا قاشه ده د خورما دا شارې
چې په خوراک ئې شوک راوړي



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

پچې پرقان د چا اسود وي
کهٔ تې جهاړ تر بې سود وي

دغه شان ګران او محترم سرمحقق زلمي هیوادمل په خپل کتاب "د پښتو نثر اتهٔ سوه کاله" کښې هم د مختلفو طبي کتابونو منظوم او منثور ذکر د "زاړهٔ علوم او حکمتونه" باب لاندې په صفحه ۹۹۲ کړے دے۔

زما دلته دومره بحث نه مقصد او مطلب دا متعین کول دي - چې په علم طبابت کې په پښتو ژبه کښې ډېر ښهٔ ښهٔ کتابونه لیکلے شوي دي چې په هغې کښې د بیمارو علامات، حالات او داروګان ښودلے شوي دي خو زهٔ چې کوم کتاب دلته معرفي کوم هغه یو نایاب قلمي کتاب دے چې په پښتو کښې رومبے منظوم طبي لغت یا طبي فرهنګ دے چې په انګریزي کښې ورته میډیکل ډکشنري هم وئیلے شي تر اوسه زما د نظره په پښتو کښې منظوم طبي لغت نهٔ دے تېر شوے او نهٔ ئې چرته ذکر. په دې وجه زهٔ دا په پښتو کښې رومبے منظوم طبي لغت ګڼم او دلته ئې لوستونکو سره معرفي کوم دا کتاب ما ته اوس اوس د میاں فردوس شاه فقیرخېل مرتب کونکے شجرهٔ نسب فقیرخېل او مناقب فقیرجمیل بېګ له اړخه را پېرزو شوے دے او زما په کتابخانه کښې خوندي دے دا قلمي نسخه د "مفردات افغاني" په نوم میاں تجمل شاه فقیرخېل تصنیف کړې ده. ددې نه مخکښې چې په دې لغت بحث اوکړو ښهٔ به دا وي چې ددې د لیکونکي میاں تجمل شاه فقیرخېل پېژندنه وړاندې کړم موږ ته به دوه قسمه معلومات په لاس راشي یو به د نوم ورکي شاعر میاں تجمل شاه فقیرخېل متعلق معلومات او بل د دغه طبي



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لغت معلومات او دا دوارہ قسمہ معلومات به د پښتو ادب دپاره ګټور ثابت شي او پښتو ادب کښې به په دغه انکشافي تو که معلومات لوستونکو ته وړاندې شي او د محققینو په کار به هم را شي - میاں تجمّل شاه فقیر خېل د صاحب دیوان شاعر - عالم - مبلغ - یکو ال میاں حمد الله فقیر خېل زوے دے او د میاں حمد الله فقیر خېل دیوان په اګست ۱۹۹۷ء کښې درا قم د مقدمې سره مدوّن شوے دے - د خوشحال بابا د سکه ورور فقیر جمیل بیګ په اولاد کښې دے - د میاں تجمّل شاه فقیر خېل شجرهٔ نسب د کتاب شجرهٔ نسب فقیر خېل، مرتب د میاں فردوس شاه فقیر خېل ستمبر ۱۹۹۱ء صفحه ۶۵ مطابق دا رنګه ده -

میاں تجمّل شاه ابن میاں حمد الله ابن میاں
کمال الدین ابن شهید الدین ابن شیخ فرید کل
ابن فقیر محمد صدیق ابن جمیل خان یا جمال خان
(فقیر صاحب) ابن شهباز خان ابن یحیٰی خان
ابن اکوړه خان ابن درویش محمد -

د میاں تجمّل شاه درې زامن وو چې د هغوي نومونه دا سې دي -
محمد اسرائیل شاه، محمد یوسف شاه - محمد ایوب شاه -

په دې کښې محمد اسرائیل شاه چې په خان میاں مشهور ؤ هم ډېر ښهٔ شاعر او عالم ؤ میاں تجمّل شاه فقیر خېل په سره چینه (یار حسین) کښې سکونت لرلو او اوس یې هم نمسي یعنې د میاں اسرائیل شاه - محمد یوسف شاه - محمد ایوب شاه زامن په سره چینه او یعقوبي کښې د سوکالۍ ژوند تېروي - میاں تجمّل شاه فقیر خېل ډېر لوئے عالم، شاعر،



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکیم ځ د دوي د زېږېدنې نېټه معلومه نهٔ ده خو د پلار مولوي میاں حمدالله فقیرخېل زمانه ئې ۱۲۰۰ه کم او زیات ده نو داسې معلومېږي چې په دغه هجري کښې به دوي زېږېدلے وي - دا دې نه معلومه شوه چې میاں تحمّل شاه فقیرخېل د دولسمې او دیارلسمې هجري منځوماني ژوند تېرولو دخپل سکونت او ځاے ځاېځي متعلق په خپلے تصنیف طبي لغت "مفردات افغاني" کښې داسې لیکي -

په سره چینه کښې روږه
دے زما سکونت ګـوره

او د کتاب د لیکلو نېټه هم ښائي چې موږ ترې په اسانه د دوي زمانه تاکلے شو دوي د کتاب د لیکلو نېټه داسې لیکي

سن د هجر چې یادېـږي
دیارلس سوه حسابېږي
څـلور نور د پاسه دینه (۱۳۰۴ه)
پس له اوس بس دینه

دا دې نه معلومه شوه چې دوي تر ۱۳۰۴ه پورې ژوند تېرولو دغه شان د خپل خاندان متعلق هم وائي -

زهٔ په اصل فقیرخېل یم
ماهیت کښې زهٔ خانخیل یم

د خپل نیکهٔ فقیرجمیل بېګ رح چې د خوشحال بابا سکه ورور وو د پس بوے ولی الله قطب الاقطاب شاعر عالم ؤ په فقیر بابا ے شهرت لرلو سکه د خوشحال بابا ئې د خاقه او سرداری ژوند تېرولو خو لوے خدا ے



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ئې زړهٔ بدل کړو سردار ي - خاني ئې په نښه کړه او د طريقت لارئې خپله کړه متعلق وائي -

جد زما فقير بابا دے
د وليانو مقتدا دے
يا اول کښې دے سردار وو
د خټکو شهريار وو
دے د کل خټک سردار وو
يو منصف عادل رويدار وو

دا خو وه د ميان تجمل شاه فقيرخېل پېژندنه ، وس را ځو هغه قلمي اثر طرف ته کوم چې په مفردات افغاني نوم باندې ميان صيب په پښتو کښې منظوم طبي لغت تصنيف کړے هسې خو په پښتو ژبه کښې په نثر کښې طبي فرهنګ ليکلے شوے چې ذکر ئې ګران او محترم سر محقق زلمي هيوادمل په خپل کتاب " د پښتو نثر اته سوه کاله" چاپ ملت پرنټنګ پريس لاهور کال ۱۹۹۶ء په صفحه ۳۵۹ د طبي فرهنګ "عنوان لاندې دا رنګه ذکر کړے دے -

د پېښور د پښتو اکيډمۍ په خطي کتابونو کښې په ۲۲۷ نمبره يو پښتو طبي کتاب محفوظ دے چې ټول مخونه ۳۲۲ يا ۳۲۱ دي کتاب د مرفود کاتب په خط ۱۳۰۶ه ق کښې کښل شوے -

معلومه شوه چې په پښتو نثر کښې طبي لغت موجود دے خو تر اوسه په نظم کښې چا هم طبي لغت نهٔ دے ليکلے او دا وياړ ميان تجمل شاهٔ فقيرخېل ته حاصل دے چې په پښتو کښې ئې منظوم طبي لغت د مفردات



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

افغاني په نوم رو ښځ حیثیت لري په دې قلمي نسخه کښې د جړو بوټو، میوو، سبزو، ځناورو مرغانو، معدنیاتو، ګیاګانو نومونه په الفبائي پټه کښې راغلي دي کوم چې زموږ د مختلفو بیمارو د پاره د شفا باعث جوړېږي په دې لغت کښې د دغه ټولو څیزونو معنې او تشریح په نظم کښې ورښکلي ده او ترې سره لیکلي شوي دي چې د مغوټي د شاعرۍ معیار ترې معلومېدے شي - هسې خو لغت، فرهنګ یا ډکشنري وائي هم دې ته چې د هر څیز معنې په تفصیل سره لیک وي خو میاں تجمل شاه فقیرخیل د طبي اصطلاحاتو، معنو او تشریح سره سره یو داسې هم کار ده هم کړے دے چې پوره خواص ئې هم ورسره لیکلي چې نه صرف طبي لغت دے بلکه خواص الادویه (میټیریا میډیکا) ورته هم وئیلے شي - ددې کتاب شروع ورب یسر وتمم بالخیر - یا فتاح - اَلشُّعَراء تَلاَ مِیذُ الرَّحمٰن ته پس بسم الله الرحمن الرحیم وَ مَا توفیقي اِلاّ بالله عَلَیْهِ تَوَکَّلْتُ اُنِیْبُ نه پس د کتاب نوم داسې لیکلے -

*مفردات افغاني از تصنیف میاں تجمل شاه فقیرخیل او بیا دَ لوئے خدائے حمد پاک نه د کتاب شروع کوي چې یو څو شعره یې کم

حمد شکر هم سپاس
د خپل خدائے وایم بې قیاس
چې لائق ئې د عرفان کړم
د خپل ذات ئې ثنا خوان کړم
حمد ثنا د پاک احد
ازلي دے تر ابد



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په حمد پاک پسې د نعت شریف نه پس دکتاب دلیکلو سبب ښائي چې عنوان ئې دا رنګه دے -

## دربیان تصنیف کتاب هذا

او بیا داسې لیکي -

اوس سبب دد ې کتاب
د تصنیف وایم احباب

ما چې نور علمونه دوره
ترخپل وس حاصل کړل کوره

پخپل ځائے بانډې مقام شوم
له سفره په آرام شوم

خاص په کور کښې زموږ یاره
یو د نځور شه سخت بیماره

دا د نځوروه له زمانو
چې بیمار وو سخت یارانو

زموږ ستر د پر محکم وو
د نځور داسره غم وو

موږ طبیب ته نبض دوره
دد ې نۀ شو خوې ګوره

هر طبیب چې به دا تنه
چې له نبض علاج شنه

علامات به موږ وښېل
هر حکیم به اورېدل

نا لیدلے به علاج
دې کاوه پخپل رواج

د نځ به لا په زیاتېدل شو
په علاج به یو په سل شو

په شلمه ورځ صحت
ورکړو رب په خپل قدرت

پس له دې نه علم طب
ما په ځان کړو د خود واجب

زموږ ځائے کښې یو حکیم وو
د پر حاذق په خوې حلیم وو

ماله دۀ کتاب میزان
کړو شروع واوره بیان

میزان دۀ څخه ما خلاص کړو
رشتیا دا چې موږ کوز پاس کړو



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

چې کوم ځای به پاتې شنه؛
ما به ځان څخه بیل ښکوونه

چې میزان خلاصېدو رور ه
د پښ لغات جمع شو ګوره
ماوې پاتې ګران لغات شو
زده کول يې ضروريات شو
يوسف زي کښې حکيمان وو
مشهور چې څوک عيان وو
ماله هر يو نه پرسان کړو
دوي په هر يو دا بيان کړو
دا لغات مشهور ګران دي
عربي - فارسي - يونان دي
دا پوهېږده په وړانډې څه ته
زياتې رسېږي مه کوه ته
زړه زما شو د پرېښانه
ګرځېدم به سرګردانه
حکيم نه وه په دا شانے
چې کامل وي طب کښې حبانے

نيت مې اوکړو د سفر
لازم شهر ته مسرابر

حکیمان په کښې بسیار وو هر بازار کښې صد هزار وو
مګر کوم چې پوهنده وو ماهیت کښې رسنده وو
د هغو ملاقات ګران وو مخلوقات ورته چندان وو
مګر زهٔ ورته دېره شوم پاک الله ته په اسره شوم
خدای زما نصیب بهتر کړو ترې شروع مې طب اکبر کړو
ورځ په ورځ مې بخت بلند شو هر مشکل راته سرګند شو
علم طب راته حاصل شو طبابت زما کامل شو
را مات ماته مخلوقات شو زوګ مې خوږ په هر تماشو
سائلانو راته سوال تل کاوه په دا منوال
یو لغات کهٔ شي تیار د هر چا به شي پکار
نیت مې اوکړو خدای دې یار یو لغت تصنیف کړم یاره
په پښتو ژبه اسان چې هر څوک شي پرې پوهان

چې هر څوک ترې بهره مند شي
پهٔ کامل مقصود خورسند شي
ما دې هم په دُعا باندې
یاده دي کهٔ څوک بنهٔ کاندې
بس کړه میاں تجمل شاه تهٔ
خپل مقصود کړه زر انشاه ته
طالبان درته حیران دي
دې کتاب پسې ګویان دي



(c) ketabton.com: The Digital Library
www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

حکیمان کهٔ بیماران دي
دے تصنیف ته په ارمان دي
شپه او ورځ کړي دا کلام
افسوس زر شي لغات تام

دا دوه د لغت دیکلو سبب چي میاں تجمّل شاه فقیرخیل لیکلے او هغه تول حال يې پکښې لیکلے دکوم په وجه چي دې طبي لغت لیکلو ته تیار شو - دا طبي لغت ټول ۲۹۲ مخونه لري په خړ کاغذ په تور سیاهۍ لیک دے. هر صفحه ۲۱ کرښې لري خط يې واضحه نستعلیق دے تقطیع يې ۱۰.۵ سنټي میټر × ۷.۵ سنټي میټر د جړو بوټو معدنیاتو حیواناتو او مآغانو نومونه په الفبائي طریقې سره لیک دي هر نوم په تور سیاهۍ سره په غټو ټکو کښې لیک دے او سره کرښه يې ترې په څوکور شکل کښې تاؤ کړي دا کتاب په اتویشت (۲۸) بابونو کښې تقسیم کړے شوے دے. د دوهمې بابه شروع داسې کوي -

باب اول در بیان ادویه کهٔ حرف اول انها الف است

فصل الالف مع الالف دوه مېنے معنی او خواص د آبارزده دویم د آبنوس - دریم د آ امیس څلورم د آ ابیل په دې ترتیب سره لیکې دلته به دد چې یو دوه مثالونه او لیکو چي دې کتاب په صفحه و باندې لیک دي -

۱- آ ا بارزده !

آ ا بارزده کسره دلبره عربي ده لب شکره



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

یونانو کښې زما روره ... امو یېقون بلې ته ګوره
په رومي کښې هم دا نوم دے ... حکیمانو ته معلوم دے
په ژبان د هندوستان ... نوم یې بنګ دي ښهٔ عیان
په پښتو کښې چې مرقوم دي ... سوي مس هم د د نوم دي
دا هم ستر ګوله پکار دي ... ښهٔ دارو د هر بیمار دي
په دویمه درجه کښې ... سرد هم خشک دي امزجه کښې

۲- آ ابنوس :

آ ابنوس لغت اے کہ ... دا شه زده کړه نیک نفسه
په رومي کښې امکینس دي ... سیفا فیطوس یوناني ښي دي
په فارسي هندي کښې یاره ... پښتو هم ورسره شماره
دده نوم ابنوس مشهور دے ... تویه وله یارې ګور دے
حار یا بس دي زما دوره ... په دویم درجه ګوره
شپږ ماسې قدر لرینه ... یاد کړه ته په نوي شیرینه

که په دې بره شعرونو غور اوکړے شي نو ددې نه د میاتجمل شاه فقیر خیل د علم او د حکمت اندازه په اسانه لګېدے شي چې دیوشیز معنیٰ یې په عربي، فارسي - یوناني - رومي - هندي او پښتو کښې لیکلي. د غه شان په دې کتاب کښې یې ډېر نایاب او عجیبه څیزونه یاد کړي - د کتاب په آخر کښې لیکي -

تمت المفردات افغاني

ه شکر شکر کتاب تام شو ... فکر مند زړهٔ مې ارام شو



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

زهٔ د فکر په دریاب — شپه او ورځ وومه غرقاب
فکر لوئے عظیم دریاب وو — زړهٔ زما غرق ناپاب وو
مرجونیا غوندې ګوران — ما کوډو تیارهٔ کښې جان
جګړن هون زما خوراک وو — دې کتاب ته مې پخاک وو
ناګاه لعل دُر الماس — ما بیا مون کړل دېرې قیاس
په نامه د خداوند — وپیش کړل ما په حاجتمند
حاجتمند ورته اکش — طالبان دې ډیر د لیس
دې د طب په نیت روان شي — شروع او کړي حکمت خوان شي
چې لغت راشي ستونمان شي — له استاذ نه په خفګان شي
یو لغت دده چې پر بن دې — شروع کړي کتاب کښېن دې
بعضې لولي نهٔ پوهېږي — عبس تېول عمر کړېږي
دا لغات دے دُر ګوهر — بلکه ډېر دې ترې بهتر
په نامه د کردګار — دې قسمت په طلب ګار
حاجتمند چې نفع مند شي — مطلب بیا مومي خرمند شي
پاک مولا ته دې فریاد کړي — ما دې ډېر په دعا یاد کړي
تل دعا دې راته کړېنه — شاید خدائے ما او بخښینه
داله کړي خپل دیدار — د جنت بوستان دبهار
بس کړه میان تجمل شاه ته — فضل غواړه دالله ته

کهٔ نازل فضل په ما شي
مس عمل به مې کیمیا شي



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دکتاب د خاتمې نېټه په دې شعر سره ليکي .

سن د هجر چې یادېږي

د یار لس سوه حسابېږي (۱۳۰۲ هـ)

شلور نور د پاسه دي شه

پس له دې د بس اوس وينه

د دې شعر نه معلومه شوه چې د اکتاب میان تجمّل شاه فقیرخېل په ۱۳۰۲ هـ کښې ليکلے - داوو په پښتو کښې رومبے منظوم طبي لغت او د دې د مصنّف میان تجمّل شاه فقیرخېل متعلق څېړنه هيله لرم چې د تحقيق تږي به پرې خپله تنده ماته کړي

## کتابونه

---


۱- فقیرخېل تجمّل شاه میاں - مفردات افغاني - طبي لغت منظوم پښتو قلمي نسخه در کتابخانه میاں وکيل شاه فقیرخېل ساولډهېر مردان

۲- طب نامه د خوشحال خان خټک مرتبه محمد تقويم الحق کاکاخېل خوشحال ريسرچ سيل پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي ۱۹۸۵ء

۳- افغاني اثر عبدالحليم - تېر هېر شاعران - پښتو اکېډيمي پېښور يونيورسټي ۱۹۶۳ء -

۴- هیواد مل زلمي - د پښتو نثر اته سوه کاله - ملت پرنټرز پرس لاهور ۱۹۹۶ء

۵- حميدالله صاحبزاده - دکوک کښې - پښتو ادبي بورډ کوټه ۱۹۹۶ء




www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۶ـ فقیرخېل فردوس شاه میان شجره نسب فقیرخېل انجمن اتحاد فقیرخېل چشمی، اکوړه خټک ستمبر ۱۹۹۱ ء

۷ـ د میان حمدالله فقیرخېل دیوان تدوین و مقدمه میان وکیل شاه فقیرخېل اگست ۱۹۹۷ ء

۸ـ مجله اباسین پښتو، میاشتنۍ اکتوبر ۱۹۹۰ ء پرېس انفارمېشن دیپارټمنټ پښتو، -

۹ـ مجله پښتو درې میاشتنۍ اکتوبر نومبر دسمبر ۱۹۵۹ ء پښتو اکېډمي پښتو، یونیورسټي -

---



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# خوشحال خان خټک او حکمت

کله چې موږ په حکمت لفظ غور اوکړو نو دا د عربۍ ژبې یو داسې لفظ دے چې د عقل پوهې - دانشمندۍ - چل ترکیب د صرخیز د حقیقت معلوم ولو علم و فلسفې او د طب د پاره استعمالیږي او دا معنې او توبیر چې په چا کښې موجود وي هغه په حکیم - دانشور - عالم - طبیب بللے شي - حالانکې په نن زمانه کښې موږ اکثر طبیب ته حکیم وایو او د حکمت خاوند ئې ګڼو چې داسې نه ده - حکمت یو داسې لفظ دے چې د دې جولۍ ډېره ارته او پراخه ده لکه څنګه چې د معنو نه ظاهره ده دا لفظ د ډېرو علمونو احاطه کوي - چونکه دلته دا لفظ د موضوع په لحاظ د خوشحال بابا سره تړلے شوے دے او دا موضوع داسې موضوع ده چې په دې باندې په لږ وخت کښې مختصره مقاله لیکل او وېل د دې موضوع د شان سره سمون نه خوري - ولې چې خوشحال بابا یو داسې نابغه عصر هستي وه چې د هغوئې ټول ژوند د حکمت او دانائۍ نه ډک وو - خوشحال بابا پخپله یو بشپړ انسائیکلوپیډیا وه او د دوئې



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د ژوند هر اړخ یې ژوره مطالعه غواړي او د دغه مطالعه بیا د دې موضوع حق ادا کوي که څه هم زه دا وایم چې خوشحال بابا یو فنکار دی - یو شاعر دی نو دا خبره نیمګړې او بې وزنه ده که زه وایم چې خوشحال خان بابا مفکر دی مصلح دی. خود شناس، مردم شناس دی - سیاستدان دی - سردار دی د عمرانیاتو ماهر دی - پت پال دی ننګیال دی - جنګیال دی - سپه سالار دی د طب پوهان دی - د نباتاتو ماهر دی د فطرت او قدرتي اثارو مشاهده کوونکی دی - د نازکو احساساتو خاوند دی - شاعر دی - عالم دی د ښکار یاتو ماهر دی - پښتون نفس شناس دی سماجي او اصلاحي غړی دی - فلسفي دی صوفي دی سیاح دی - مورخ دی - محقیق دی - د هنرونو خاوند دی او د ډېرو علومونو نه خبردار دی - او هر کله چې دا خوبه لري نو بیا هغه حکیم دی - دانشور دی او د حکمتونو کان دی او دا وجه ده چې شاعر مشرق حضرت علامه محمد اقبال د دغه نابغه شخصیت نه ډېر متاثره ؤ او ځکه خو وایي -

ان حکیم ملت افغانیان

ان طبیب علت افغانیان

خوشحال بابا یو داسې هستي وه چې د پښتون قام په خوبو او علتونو باندې پوهه ؤ د حکمت چې هر څومره معني دي دا ټول په خوشحال بابا کښې موجود وې - خوشحال بابا که د کائناتو مطالعه کوي او که د فطرت د رنګینو ښکلا او ښائست مطالعه کوي



د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ : www.ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

او هغه بیا د شعر په ژبه کښې پیدې نو هم ئې د عقل او پوهې په رڼا کښې په یو خاص ترکیب او طریقې سره پېش کوي. د غه حکمت دے او کله چې انسان ته د انسانیت معراج وربښائي. نو هغه هم د پېړ په حکمت سره د انسان د ذهن نازک تارونه په داسې انداز کښې او چیړي چې انسان د خپل حقیقت او د قدرت د اسرار و رموز نه خبردار کړي څکه خو وائي -

د خوشحال وښل معقول دي
پرې به پوهه شي چې عاقل وي

د خوشحال بابا ذات د ګڼو علومونو منبع وه او دا ټول علومونه هغوئې موږ ته په خپلو تصنیفاتو کښې پرېښودے دي که څوک د هغوئې دیوان په ژور نظر او ګوري نو هر شعر ئې د حکمت نه ډک دے او څکه خو وائي -

درست دیوان ئې لکه باغ د علم ګنج دے
پکښې هر رنګه ګلونه هر نهال

که د خوشحال بابا حکمت موږ په معنیٰ د طب کښې اخلو نو دغه میدان ئې هم ګټلے او که په د غه اړخ غور او شي نو خوشحال بابا یو ستر حکیم طبیب معالج هم و هغوئې نه صرف د انسانانو د علم طب نه واقف وو بلکې د مرغانو طب ئې هم زده و او د بیمارو او دارو ګانو نه په ښه شان خبر وو او څکه خو د خپل حکمت باره کښې وائي -

د حکمت وا ښل به وا ړم مختصر
په معنیٰ کښې قیمتي لکه ګوهر



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

که موږ د خوشحال بابا د شاعرۍ جاج اخلو نو داسې موضوع به نهٔ وي چې هغهٔ به د دوئ په شاعرۍ کښې نهٔ وي او ځکه نو پیر محمد کاکړ وائي -

کهٔ څوک بحر مواج وائي ورته ښائي
په دیوان کښې ئې موندے شي هر شان شعر

او دغه شان یو پښتون شناس مستشرق میجر راورټي هم لیکي چې

"د مغرب د شاعرانو په شان د خوشحال بابا د پاره
هیڅ یو مضمون هم غیر نهٔ دے"

د خان بابا شاعري ټوله د حکمت او دانائۍ نه ډکه ده او ځکه نو وائي -

قصیدې لرم غرا له هر بابه
په حکمت په نصیحت کښې مالامال

او بل ځائے وائي -

رباعي ده کهٔ قطعه کهٔ مثنوي دے
همکي واړه ګوهر دي دُرو لال

او بیا نو د خپل شاعرانه حکمت په داګه اظهار کوي -

بند و بست د پښتو شعر ما پیدا کړو
کنه شعر د پښتو وو غیر سال
نهٔ ئې وزن نهٔ تقطیع نهٔ ئې عروض وو
دوه مصراع ئې د حفیف بحر دوه طال



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا دې نه معلومه شوه چې خان بابا د شاعرۍ په هر یو صنف باندې پوره پوره حکمت لرلو او دا د هغوئ د علم و حکمت کمال دے چې په شاعرۍ کښې تجنیس حسن تعلیل طباق الاضداد ، ابهام ـ صنعت ترصیع ، تنسیق الصفات ـ د فطرت شاعرې ـ تاریخ گوئي موندے شي او هر کله چې دا حکیم مونږ ته د حکمت خزانې پرانځي نو مونږ ته د سیاست چل ښائي ـ د سردارۍ او حکومت کولو حکمت ښائي ـ د خودۍ درس راکوي ـ د ژوند تیرولو حکمت را ښائي د ننګیالو او جنګیالو د غیرت او پت د عظمت او عزیمت د حکمتونو پټ رازونه رابښکاره کوي د خیر ښیګړې د صلح او امن د صبر او شکر د ګفتار او کردار درس راکوي عوض دا چې داسې هیڅ یو هنر نشته چې دے افاقي او اجتماعي شخصیت د حکمت په کسوټه وهلي نه وي او مونږ ته ئې په ګوته کړي نه وي دا حکیم مونږ ته د سیاست او رموز مملکت ـ سردارۍ او حکومت چلولو د پاره د کامیابه حکمت په دا طریقه رابښائي ـ

ـ ورکول تورې وهل دا دواړه بویه
چې پرې کار د سردارۍ شي انصرام
یا تکیه د یوه خدا ئے ده یاد تورې
په جرګو مرکو نهٔ شي کار تمام
کهٔ سردار د خلقو زر لري هنر
بندوبست د عالم نهٔ شي بې ضمصام



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د غه شان د سردارۍ د پاره دولت هم وسیله ګڼي او وائي -

چې زر لري په کور کښې
هاله شي ښه سرداري

او بیا د کامیابۍ سردارۍ اُصول هم را ښائي :-

یا سردار سره ښېل عقل
یا وزیر صاحب تدبیر
که هر څو یې عقل ډېر وي
بیا هم یو په ښه وزیر
که نه دا وي نه هغه وي
په ژوندون یې بویه ویر

که هر څوک حکومت کول غواړي نو هغه خلقو ته د کامیابۍ او کامرانۍ راز ورښائي او په دې حکمت یې پوهه وي چې په کوم بادشاه کښې عدل و انصاف نه وي نو هغه به ناکامه وي- لکه وائي -

ملوک چې عدل، عقل کرم لري
اندوه یې کم وي له چا څه غم لري
چې دا یې نه وي د ځان غلیم دے
ځان پخپله عالم ته ګرم لري

دا څو یې وه د سردارۍ او حکومت کولو د پاره د حکمت رازونه د غه شان دا نبض شناس حکیم د هوښیار سړي نښانې هم په ډاګه کوي -



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

هوښیار به هیڅ چیرې بې ځایه کار نهٔ کا
هم به بې وخته د خولې ګفتار نهٔ کا
په خوله په لاس به هیڅوک آزار نهٔ کا
چې بد کړه وړه دے هغه به یار نهٔ کا

دغه شان د کم عقل او احمق سړي خویونه په تفصیل سره په دیوان کښې د حکمت په ستله تسلي - او کهٔ غواړې چې په پردو ترونو دې حکومت او کړم او هغه دې خپل کړم نو د حکمت دا نسخه ئې د ځان سره غوټه کړه -

د هر چا سره نرمي ملائمت کړه
کند وې چې په دا خپل کړې د چا ترونه

حکیم الملت خان بابا خوشحال خان خټک یو دا سې قیمتي ګوهر را ښائي او وائي کهٔ چرې چا هم دا حکمت خپل کړو نو د کامیاب ژوند تېر ولو تجستن به شي هغه دا رنګه ده -

د هر چا سره د ښو سلوک بانداد ے
په بدی کښې څهٔ فائده کوم سود ونه
هغه کار چې په نرمۍ تر سره کیږي
څهٔ حاجت چې رسا او شي تر جنګونه
کهٔ ښځه له د خپل ځان په بدی نهٔ ځي
د مارونو په غارمهٔ مندره لاسونه
په خپلوانو باندې هومره خشم مکړه
چې پردي در ځنې تښتي په مکونه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې دې قول د چا اوکړو نو ټې مکړه
تل په عهد قول ټینګ وې ښهٔ میړونه
په رښتیاکهٔ په دروغ وې سوګند مهٔ خوره
منافق دے چې ډېر ډېر خوري سوګندونه
د حرص ستړګې مړې په قناعت کړه
چې په کور کښې دې زنبار شي نعمتونه
هر چې شرع فرمائي په هغه کار کړه
مهٔ عمل کوه په رسم په دودو سنه
درته وا یم چې په کوم توکي به روښ شي
چې د هر چا سره ښکې بې ځوابونه
همېشه زوسه ځو له پته لکه ناوې
چې ضرور شي هاله اوکړه دوحرفونه

دلته به د اختصار په توګه د خان بابا د حکمت د وېنا کانونه ځنې
لږ ډېر بیان کړو۔

## ژبه

په بده ژبه ځان ځي جهان ځي
ایمان هم ځي واوره طالبه

بل ځائے وائي۔

ژبه په تن کښې څهٔ عجائبه ده
صحت هم ژبه ده ژبه هم تبه ده



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې ښځه مې څېر کړو ښځه پرې خبرشوم
جنت هم ژبه ده دوزخ هم ژبه ده

## خپه ښېګړه

وکړي واړه کارونه خپل کا
مردان هغه دي چې کار د بل کا
څوک چې آرام کښېږي د نيکو نام کښي
د نورو زړونو دا روبه تل کا

## سخاوت

که ګنجونه د قارون درته انبار شي
په هر لور ئې غورځوه په سخاوت

## پټ

سر دې درومي مال دې درومي پټ دې نه ځي
د سړي د چارې ګل نوې په پټ دي

## قناعت

د جهان په خزانو به دې خندا شي
که توانګې په خزانو د قناعت شې

## رشتيا ويل

رشتيا کړه د هيچا نه مه ويرېږه
رشتيا سړے له هره بلا خلاص کا



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

## ګفتار و کردار

سړے کهٔ ښهٔ دے په ښهٔ ګفتار ښهٔ دے
ګفتار کهٔ ښهٔ دے په ښهٔ کردار ښهٔ دے

## صبر و شکر

دانائے مهٔ کښه - چې صبر نهٔ لري
چې صبر نهٔ لري، حکمت به څهٔ لري

## خودي

(۱) کهٔ تهٔ يې په منت موے وائے مهٔ خله
کهٔ د چا په باغ کښې بوټے د کيميا وي

(۲) په منت سره حلوه مهٔ خوره خوشحاله
تر حلوې نه لا بهتر دے وچ کنډک

(۳) د منت دارو کهٔ مرم پکار مې نهٔ دي
کهٔ علاج لره مې راشي مسيحا هم

## ننګ و غيرت

په جهان د ننګيالو دي دا دوه کاره
يا به ورخوري کسکرے يا به کامران شي

دغه شان کهٔ د پښتو يک دوووُنو په منفرد انداز کښې
يې د زنځيرے په توم ايجاد کړې کهٔ د فراق ستدرې يې وييلي
نو هغه يې هم د حکمت او دانش په رڼا کښې ووييلي د فراق



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نامه نه يې سرګنده ده - که د دين علم يې د مختلفو مسئلو په صورت کښې را ښودلے نو فضل نامه يې د کتو ده که غواړې چې د غيرت او عزت پټکے دې په سر کړم نو د مختلفو هنرونو او ښو خصلتونو زده کړه او کړه نو بيا به هغه خلقو کښې شمارشې -

چې دستار تړي هزار دي
د دستار سړي په شمار دي

د دې زده کړې د پاره دستارنامه د حکمت او علم و دانش لوے شاهکار دے که غواړې چې د بازونو ښکار - د بازونو ساتلو - ځوراکونو - بيمارو او علاجونو نه خبر شم او نه يوا ځې د احکمت حاصل کړم بلکې د بازغونو نې ځويونه زده کړم او ځان کښې پيدا کړم -

چې وهل ځوړل - ځورول کا نو ځه نه مے باز شاهين دے
چې يې سوري لره يوسي يا مېږے دے يا فاره

باز نامه يې د حکمت ډکه خزانه ده - د حکمت نه ډک کتابونه به يې کوم کوم يادوم سوات نامه يې ياده کړم که بياض يې ياد کړم - هدايه يې ياده کړم که آئينه يې ياده کړم د احکيم که يو طرف د انسان د سوکالۍ او خوشحالۍ ژوند تېرولو حکمتونه په ګوته کوي نو بل طرف ته د دې هر څه حاصلولو د پاره انسان په صحت روغ جوړ - طاقتور او خوشحاله ليدل هم غواړي نو د غه غم يې په سر هم اخستے په هر بوټي کښې يې صحت ګورې او حکمت نه ډکه طب نامه ليکې په دغه طب نامه کښې د



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

کانو

بنیادم د بیمارو علاج د جړو بوټو داروګان او د نورو ناروغتیا
نه د بچ کېدو طور طریقې ښائي او د لته ځان هغه طبیب معالج
ثابته وي کوم چې موږ په مروجه ژبه کښې حکیم بولو- او دا
حکیم د حکمت پټ رازونه د نظم په وړو کي بحر کښې د طب تاپي
زیب وزینت جوړه وي او د هر څه مخکښې بنیادم ته د وجود
د صحت سره د عقل و صحت وده هم لازم ګڼي ځکه خو وائي

یو صحت بل عقل غواړه

ته په دا کښې خوبي غواړه

که دا دواړه ستو که نه وي

نوره هم خوبي لاړه

دغه شان د منځې نه پس بنیادم ته د ښه صحت راز ښائي-
چې که چرې دا راز مونږ ټینګ کړو نو بیا به په اسانه د بیمارونه
بچ شي او وائي -

ـه

ابدال په دا ځلور خویه ابدال وي

کم وېل کا - کم د چا سره کښېنوونے

کم ملاسته کا - کم خوراک کا کمه مینه

په دا شان چې په عالم کښې دې ژوندون

دې نه پس د خوراک څښاک باره کښې وائي -

ـه

که اوبه دي - د باران یا د چینې دي

د کوهي اوبه ضرور دي د ښش



(c) ketabton.com: The Digital Library

www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښې سړې خوږې اوبه د سړي ځان دي
ولې تود طعام - سړې اوبه ضرر
چې تودې اوبه څوک څښي عمر وو هلي
پرې نقصان د اشتها شي رنګ اصفر

او بل ځای کښې د حکمت خبره کوي او وائي که قوت او طاقت زیاتول غواړې نو دا څیزونه استعمال کړه -

که قوت زیاتوې تل خوره شوده پیره
چې تر دا نه دارو نیشته معتبر
که ئې مومې او ړے تږے ګبینه خوره
خو په سود ئې خبر مه کړه څوک پر ....

او د غه شان ډیرې د حکمت خبرې ئې په طب نامه کښې د "صحت خبرې" په عنوان سره لیکلې چې که ... عمل پرې او شي نو بنیادم د ډیرو بیمارو نه په امان کېدے شي په طب نامه کښې د سر درد بیمارۍ - د نیم سر درد د سترګو بیمارۍ د فالج بیمارۍ - د یرقان بیمارۍ - د ګېډې بیمارۍ د غاښونو بیمارۍ - د نس خوږې بیمارۍ - د بواسیرو بیمارۍ - د ناسور بیمارۍ او د بنګي او د سړو نورې پېښې او بېکاره بیمارۍ بنودلے شوي او د هغې نښانې په ګوته شوې دي - پس د هغې نه ئې د جړو بوټو داروګان چې په آسانه ملاویدے شي خوشحال بابا موږ ته ښودلي او ورسره ورسره ئې داهم راښودلي چې د هغه طبیب نه علاج مه کړه چې دا خوبۍ او خاصیتونه نه



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

لري لکه وايي -

(۱) د هغې طبيب طلب کوه خوشحاله
چې د مخ په تجلّی کښې يې صفا وي

(۲) د هغې طبيب نوم څه اخلې خوشحاله
چې بيمار ورسره راشي بيا بيمار ځي

(۳) د طبيب دارو هله خوره چې حاذق وي
د ناقص طبيب دارو لري خطر

او چې ددې خوبو مالک حکيم او طبيب نه وي نو هغه په حکمت چرې هم نه پوهيږي او څوک چې بيا دغه حکيم نه علاج کوي نو خوشحال بابا د دغه سړي باره کښې وايي -

سل هغه سړے احمق بللے بويه
چې په هر طبيب داروکا د رنځونو

هر څو که موږ او ليکو او او وايو نو په خوشحال خان خټک او حکمت ليکل او ويل ډير مشکل کار دے ځکه دا ډير وسيع او ژور تحقيقي موضوع ده هسې هم د خان بابا غونډې حکيم الملت او حکيم الحکماء باندې ليکل او نوستل د چا د وس خبره نه ده ولې چې -

د خوشحال خبرې دُر دي
چې يې کښلي په قرطاس

واقعي چې د خوشحال بابا هره خبره هر شعر د حکمت ملغلره ده او څکه خو خوشحال بابا وايي -



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

ﻫ دا نا به پرې پوهېږي د ناپوهو کار پرې نیشته
دا دُرچې په بیان خوشحال ختک وېلي

# کتابونه


۱- کلیات خوشحال خان ختک سره د مقدمې د اروا ښاد دوست محمد کامل ۱۹۵۲ء اداره اشاعت سرحد پېښور

۲- خوشحال خان ختک (اردو) مولف دوست محمد کامل ۱۹۵۱ء اداره اشاعت سرحد پېښور

۳- دستارنامه د خوشحال خان ختک ۱۹۹۱ء پښتو اکېډیمي پېښور یونیورسټي -

۴- بازنامه خوشحال خان ختک مرتبه همېش خلیل ۱۹۸۵ء پښتو اکېډیمي پېښور -

۵- طب نامه خوشحال خان ختک مرتبه تقویم الحق کاکاخېل ۱۹۶۶ء چاپ کابل -

۶- طب نامه خوشحال خان ختک مرتبه تقویم الحق کاکاخېل ۱۹۸۵ء پښتو اکېډیمي پېښور

۷- خوشحال و اقبال (اُردو) مؤلف میر عبدالصمد ۱۹۸۲ء عظیم پبلشنګ هاؤس پشاور

۸- توریالے پښتون ۱۹۷۱ء پښتو ټولنه کابل

۹- خوشحال نامه ۱۹۸۰ء آباسین آرټس کونسل پشاور




www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۱۰- خوشحال خان ختک او د ده اد بي مکتب دکتور عارف عثمان ۱۹۸۲ ز کابل چاپ

۱۱- مجـــله پښتو خوشحال خان ختک نمبر مارچ اپریل مئ ۱۹۸۰ ز پښتو اکېډيمي پېښور -

---



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# فقیر جمیل بیگ (رح) (جمال خان (رح))

## د شاعر په حیث

د پښتو ادب که په دواړخیزه کتنه او مطالعه اوکړے شي نوکهٔ نثر دے اوکهٔ نظم ددې دواړو صنفونو او برخو سرګنده کول پښتو ژبې ته خاص او لوړ مقام ورکول او دا په نورو ژبو کښې ممتازکول تردې چې د پښتو ژبې یک دود په نوې انداز کښې نیکل ددې هر څهٔ فخر او ویاړ یو داسې کورنۍ ته حاصل دے چې هغه کورنۍ تر ننه پورې پښتو ېې اسرې نهٔ کړه بلکه تر ننه ئې پښتو سره پښتو وکړه او کوې هغه کورنۍ د لوې خان بابا خوشحال خان کورنۍ ده لکه چې وائي -

ما خوشحال چې په پښتو شعر بیان کړو
د پښتو ژبه به اوس په آب و تاب شي

او دغه شان بل ځائے کښې وائي -

همېشه به پرې نارې وې د بلبلو
دا چې ساز کړه نن خوشحال په ویل باغ

او دغه وجه ده چې نن د پښتو نوم اخستو سره د لوستونکي او



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

یکونکي په ذهن کښې هم دغه یو نوم د لوی خان بابا خوشحال خان راځي - هغه ځکه چې لوی بابا خوشحال دا ډېر په پوره اب و تاب کړې ده د خوشحال بابا کورنۍ کښې ډېر لوی لوی ستر عالمان، شاعران ادیبان تېر شوي دي او اوس هم شته د سرو سره سره دي کورنۍ ښځې هم دغه میدان کښې دي لکه بي بي حلیمه - تاج بي بي وغیره د خوشحال بابا او د هغه د زامنو کتابونه د هر پښتون په کور او کتابتون کښې پراته دي خو زه نن د خوشحال بابا د کورنۍ د یو داسې فرد متعلق لیکم چې هغه هم عالم دی - هم ادیب دی هم شاعر دی او هم ولي الله دی خو لاتر اوسه په ادبي دنیا کښې گمنام دی او دچا ورته پام شوی نه دی البته په روحاني دنیا کښې لوی مقام لري او ډېر و کمو لیکوالو ته یې د ادب سره د تعلق معلومات او خبر شته -

دغه لویه هستي د لوی خان بابا خوشحال خان نیکه رور جمیل خان دی چې په ادب کښې جمال خان دی او په روحاني دنیا کښې د خواجه جمال الدین او فقیر بابا بابا باندې یاد شوی او زیات شهرت په فقیر بابا لري او د تصوف دغه نوم یې په دې تولو نوموړو غلبه مونده ده هغه ځکه چې دوي دنیاوي جاه و جلال بادشاهي نوابي ته لته ورکړه او د تصوف او سلوک منزلونه یې د ډېرو ریاضتونو او جذب و حال د کیفیتونو تېرېدونه پس موندلي وو او ځکه خو د قطب الاقطاب او غوث الزمان په درجو فائز شوی وو او د ابتک د حضرت جي بابا د شیخ یحیی (رح) لمونځ



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لویې پایې مریدان يې په سلسله چشتیه کښې پیدا کړي دي دغه لوړ مقام دے چې خپل سکه رور خوشحال بابا يې د فراق او غم په حالت کښې هم د فراقنامې په شعرونو کښې داسې ستائي -

چې مې رور په کښې طاعت کا

هغه غر دے خدائے جنت کا

خدائے دې غم ورځنې یوسي

خوښ خورم دے په کښې اوسي

چې د رور مې پرې مقام دے

په اغه غر دِ ما سلام دے

دغه وجه ده چې د خوشحال بابا د اولاد سلسلې ته خان خېل وئیلے شي او د فقیر بابا جمال خان سلسلې ته فقیر خېل میاں کان وئیلے شي دا قوم هم د دوي نمسے دے جمیل میاں د علم ظاهري او د علم خفي علمونه لرل او لیکل - لوستل - د ده به يې په ډېر ښکلي انداز کښې کول د دې متعلق په مناقب فقیر جمیل بېگ د شمش الدین کاکاخېل چاپ له اړخه انجمن اتحاد فقیر خېل په سریزه د میاں فردوس شاه فقیر خېل د چشمې اکوړه خټک په صفحه ۲۹ داسې لیکي

په مسجد کښې وو د شه

په شړي ناست وو مېنه

کتابونه ور ته جمع

ده کتل په خاطر جمع



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نهٔ صرف صوفي عالم - ولي الله وو بلکه په ادبي میدان کښې ئې د خپلې کورنۍ بېرغ جگ ساتلې دے او د وړخهٔ ئې په فارسي ژبه او پښتو ژبه کښې لیکلي او وشپني دي په فارسۍ ژبه کښې ئې ډېر غټ غټ علمي کتابونه لیکلي دي چې په پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي کښې د قلمي نسخو په شکل کښې خوندي دي چې نومونه ئې په دا رنگ دي -

۱- دل تـذکرة الاولیاؤ (۲) نور محمدیه

دل تذکرة الاولیاء تقریبًا د پنځو سو صفحو درونډ کتاب دے او س او س ئې پښتو اکېډمۍ پېښور یونیورسټي ترجمه چاپ کړې ده په دې کتاب کښې د لویو لویو اولیاء ذکر دے دغه شان ئې نور محمدیه نومې کتاب چې تقریبًا د څلور نیمو سوو صفحو غټ کتاب دے او په کښې ډېر عالمانه بحث په ۲۷ رشپږ ویشتو) بابونو کښې شوے دے او ددې نه د هغوئ د علم او پوهې اندازه لگېدے شي مېل درېم کتاب ئې د افغانستان په کابل ارشیف ملي کتابتون کښې د مناقب شیخ رحمکار په نوم فارسۍ کښې لیکلے چې او س او س ئې د اسد الله شعور په سرېزه سره د افغانستان د علومو اکېډمي په فارسۍ کښې چاپ کړے په دې کتاب کښې ئې د خپل مرشد حالات لیکلي - دا هم یو غټ کتاب دے - ددې نه علاوه ئې نور ډېر کتابونه په مجمع البرکات نومي قلمي نسخه کښې یاد شوي دي خو تر اوسه په لاس چا ته نهٔ دي راغلي کېدے شي چې چا سره وي یا ضائع شوي وي د مجمع البرکات فارسي قلمي نسخه چې عکسي نقل ئې د راقم سره



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

دے په صفحه ۳۰۱ باندې دد غه کتابونو نومونه دا رنګه دي.

۱- شمس العارفين ۲- قدوة العارفين ۳- زبدة السالكين ۴- سراج العاشقين ۵- خلاصة الطالبين ۶- تحفة المقربين.

کېدے شي چې دا کتابونه په دغه وخت کښې د مجمع البرکات ۱۲۸۵ ه د مولف محکبې په دغه زمانه کښې تېر شوي دي او هغوئ ترې استفاده کړې وي د دغه ږد شاعرۍ متعلق پوهنې څېړنه د افغانستان ستر محقيقينو- عالمانو اديبانو شاعرانو کړې ده چې په هغې کښې ستر محقيق ارواښاد عبدالحی حبيبي- دکتور عارف عثمان- عبدالله بختاني خدمتګار زلمي هېوادمل غونډې ستر څېړندوال شامل دي غواړم چې د هغوي د څېړنو نه پرده اوچته کړم او دلته يې اوليکم ولې چې بيا زما مقصد به واضحه شي.

په کتاب "پښتانه شعراء" درېم ټوک د پښتو ټولنې د تاريخ او اديبانو له څانګې کال ۱۳۴۲ ه ش کښې په صفحه ۹۰۳ باندې ليکي.

جمال خان د خوشحال خټک مشر ورور وو او لوی ولي او صوفي تېر شوے دے د پښتو شاعر هم وو ديوان لري.

په کتاب "خوشحال خان خټک او دده ادبي مکتب" د افغانستان د علومو اکېډمي چاپ د دکتور عارف عثمان په ليک سره کال ۱۳۶۱ ه ش او ۱۹۸۲ء صفحه ۱۸۲ باندې دکتور عارف عثمان د جميل خان باره کښې ليکي.

د غه شاعر د خوشحال خان خټک کشر ورور دے او په پښتو کلاسيکو ادبياتو کښې د اديب- عالم او متصوف په حيث



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

یادېږي او د علاقه لرونکو د احترام وړ ګڼل کېدلې دې
دغه پوهه شاعر چې تر اوسه پورې یې دیوان نهٔ
دې چاپ شوې د ځوانۍ په وخت د جمیل بېګ په نامه
مشهور وو -

دغه شاغلي ستر محقق عبدالله خدمتګار بختاني په خپل تالیف پښتانهٔ شعراء پنځم ټوک له اړخه د علومو اکېډمۍ افغانستان کال ۱۴۰۷ه ش کښې په صفحه ۳ باندې لیکي -

فقیر جمیل بېګ د مستۍ او جذبې په وخت کښې منظومې
ټوټې وئیلې دي -

د دې وینا نه پس یې د فقیر بابا رحمان خان ، هغه منظومې ټوټې لیکلې دي چې هغه به د دې مقالې په آخر کښې د هغې نه پس راوړو -

په دې دول شیخ جمیل بېګ یا فقیر جمیل بېګ یو روحاني
شخصیت وو چې په نظم او نثر کښې یې لیکنې کړې دي -

د دې د دنې هستۍ باره کښې ګران ستر محقق زلمي هېوادمل په خپل تالیف فرهنګ زبان و ادبیات پښتو (فارسي) د علومو اکېډمي افغانستان له اړخه کښې په صفحه ۱۱۷ لیکي -

جمیل بیګ فرزند دوم شهباز خان خټک به فقیر بابا شهرت داشت
جمیل بیګ مرد صوفي مشرب و فقیر قائم اللیل و صائم الدهر بود در
حلقه مریدان شیخ رحمکار شمولیت داشت -

جمیل بیګ مناقب مرشدش را به زبان فارسي نوشت و به زبان
پشتو شعر سرود -



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

ددې وېنانه پس ئې د فقير بابا (رحيم خان) دوه درې شعرونه يېکل چې د کلام په نمونه کښې به راشي په پښتو اکېډمۍ پېښور يونيورسټۍ کښې د زړو شاعرانو د کلامونو يو قلمي نسخه پرته ده چې په هغې کښې د دوې يو څو غزلې هم شته د غه غزلې زمونږ د سيمې د اکوړي ګړان محقيق پروفيسر محمد افضل رضا په خپل تاليف پټ ستوري چاپ له اړخه پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټۍ کال ۱۹۸۷ء په صفحه ۲۵ - ۲۶ - ۲۷ سره ددې الفاظو محفوظ کړي دي

د جمال خان رح بابا په کلام کښې د متقدمينو شاعرانو د کلام ګڼې خوبۍ شته فکر ئې ژور او الفاظ ئې خوا ږه دي-

## د کلام نمونه :-

ددوې که غزل دے او که ټوټې هر لفظ ئې د موقع مناسبت سره په ډېر ښکلي انداز کښې په اسانه او روانه پښتو کښې ليکلي ټوټې ئې د بيلې بيلې واقعې سره وېلي دي که هغه واقعات په تفصيل سره ليکم نو بيا به دا ليکل ډېر طوالت اوليږي په دې وجه صرف لږ غوندې د واقعې تعارف به ليکم چې معلومه شي چې هغوي هم د شاعرۍ ګلستان په ډېرو ښکلو ښکلو رنګارنګ ګلونو سره تازه او معطر ساتلے دے او د خپلې کورنۍ روايات ئې ژوندي ساتلي او د غه شان زامنو ئې هم لکه صديق بابا رح ظفر بابا رح محمد ابراهيم رح بابا وغيره په دغه ميدان کښې د خپل تره زامنو اشرف خان، عبد القادر خان، صدر خان سکندر خان سره ملګرتيا کړې ده-

(c) ketabton.com: The Digital Library

اول به هغه غزلي چې په پټ ستوري تاليف پروفيسر محمد افضل رضا له اړخه د پښتو اکېډمي پېښور يونيورسټي کښې راغلې دلته نقل کړم چې هغه دا رنګه دي -

# غزل

خپل خانه به دې ترڅهٔ حده همراه وي
يو ورځ به دې سفر شي په ويجاړې

مور پلار زامن نمسي د کورېڅهٔ شو
خلقي کړي داجل سورو ستاړې

بناشته بتهٔ چونې زلمي شو تورې خاورې
برې پرتي دي د لحد خاورې تو داړې

جماعت څخه تېرېږې مخ ترې پټ کړې
وېجړې وته تهٔ يون کړې دحراړې

درسته ورځ سکه سپک ناستې په صحراکښې
بل خندا په قهقهه کړې سکه خرناړې

يو ذره د لاَاله ويره نهٔ شي
نهٔ پوهېږم چې را جېوت يُ که کماړې

چې نيکي در څخه نشته بد څو مهٔ کړه
راشه مهٔ تو که په ځېله بېره لاړې



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

د سپرلي څو يو نه يو درځخه نيشته
وچ لاندهٔ سره سپين چي سپيره اهاړي
سم له لاسه کار هر کور ډېر مشکل دے
جمال خانه وقت دې داده که ځان ژاړي

## دویم غزل

خراب زړهٔ چې مې بيمار وو هغه نهٔ دے
چې مدام په انتظار وو هغه نهٔ دے
چې مې ستر ګې ديدار لور وسته نيولې
تش ديدن ئې په بار بار وو هغه نهٔ دے
چې به ستا په غم کښې شب و روز جليا وم
بل په زړهٔ کښې مې انګار وو هغه نهٔ دے
چې بندي د ستا په زلفو په کمند ووم
پروت ګردن ته مې زنار وو هغه نهٔ دے
چې مې سرو مال تالا ستا په وصلت وو
چې په ما د فلک وار وو هغه نهٔ دے
شام و شنګ چې ستا په تور وو له ماتلي
چرې ماته چې ازار وو هغه نهٔ دے
ستا له غمه چې يو دم په قلندرنهٔ ووم
چې په سترګو کښې مې خار وو هغه نهٔ دے



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې مې ستا د حسن خیال چېرې لیده
تازه ګل چې په شمار وو هغه نه دی
جمال ستا له مخه نورو ته سلام که
چې غلام او خدمتګار وو هغه نه دی

## دریم غزل

د ښکلو سپین سترګې تیارې چینګې دارې
ته لا ګورې خپل پردي په ختن نغارې
خدایه طاعت د یاره ورځ له تا نه غواړي
ته د کالو ځړي ځي نن له خدایه غواړي
شوې په کوم عمل غره چې خوشحال کړې
سخې خو هم د موږ یې په زور کړا رې
ستا په سر باندې بې ترس جلات ولاړ دی
کوم زمان به دې سر پرې کړه په ولاړې

دې غزلو باره کښې د ځینو محترمو لیکوالو دا خیال دی چې دا غزلې د جمیل بېګ نه دي او هغه وائي چې د جمیل بېګ نوم جمال خان نه وو دا چرته د سیکانو د وخت د شاعر کلام دی، دا صحي ده چې د فقیر بابا نوم جمیل خان وو خو هغه تر اوسه پورې په جمیل خان نه یادېږي



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

بلکه په خپل خاندان کښې هم په جمال خان شهرت لري لکه څنګه چې ما مخکښې لیکلي چې په ادبي دنیا کښې ئې جمال یا جمال خان نوم لیکلو او یادېدلو او په روحاني دنیا کښې فقیر بابا او خواجه جمال الدّین په نومونو یاد شوے دے او دغه شان ئې په خپلو غزلو کښې جمال خان د تخلص په توګه استعمال کړے دے چونکه ددوي دیوان لا تر اوسه په لاس نهٔ دے راغلے نو ځکه دا خبره کېږي چې هر کله چې دغه قلمي نسخه د زړو شاعرانو په اکېډمۍ کښې موجود ده او په هغې کښې د عبدالقادر خان خټک چې د دوي ورارهٔ کېږي دَ غزلو سره پیوست دا غزلې لیکلي شوي دي نو ددې نه معلومېږي چې دا هم ددغه زماني شاعر دے او تر اوسه په دې نوم بل شاعر نهٔ دے تعارف شوے ددې خبرې هم څهٔ ثبوت او شهادت نهٔ دے پیدا شوے چې دا شاعر د سیکانو د دور شاعر دے دا خبره هم په اټکل سره کېږي چې د سیکانو د دور شاعر دے حالانکه د سیکانو دور خو وس تېر شوے او د جمال خان بابا دور ډېر مخکښې دور دے بله خبره دا ده چې دا کلام صوفیانه کلام دے او موږ دا په دعوه وېلے شو چې هغوي به خامخا صوفیانه کلام لیکلے او وېلے وي هر کله چې ددغه نزدو شاعرانو سره دا نوم راغلے نو دا واضحه ده چې دا هم جمال خان د خوشحال بابا ورور دے بل څوک نهٔ شي کېدے ۔

وس را ځو هغه منظومو ته تو طرف ته چې دوي په بیلو بیلو موقعو وېلي هر کله چې د دوي مرشد حضرت شیخ رحمکار کاکا صاحب

وفات شو نو فقیر جمیل بېګ (جمال خان) هغوي لحد ته کوز کړل او هغه وخت ئې د دېره غمه چغه کړه -

پـه بوی دې ټول عالم خوشبوي شو
امیل چـنـدنـه پـه تـاپـو پـوټـل کـړدونـه

د دې شعر پـه باره کښې پـه تـذکـره شېخ رحمکار د سیّد سباح الـدّین کاکاخېل اداره اشاعت العلوم جامع مسجد (انګپوره فیصل آباد) کښې هم د غه شان واقعه لیک ده -

دغه شان چې هر کله بهاکوخان د یوسفزو سردار او لوي ولی الله اخون ځالاک بابا د خېل ښنکو ځخه د دوماکا فروسره جنګ وو نوپـه د غه وخت کښې اخون ځالاک بابا د دوي په خدمت کښې د امـداد او تعاون حاصلو د پاره حاضر شول نو فقیر بابا د مستۍ او جذب په حالت کښې ورته په دې منظومو الفاظ کښې اوو ئـېـل -

پـه دې خوړ کښې سره او سپین انبار انبار دي
فقیر نهٔ اخلي او نهٔ ئې څهٔ پکار دي
اخون ځالاک څومره چې اخلي وادې خلي
کهٔ خواري نهٔ وي دی د ے نهٔ وي

دا مشهوره واقعه یا کرامت چې قاضي میر احمد شاه رضواني پـه تحفة الاولیاء او پـه مناقب فـقیر جمیل بېګ کښې شمس الـدّین کاکاخېل راخستې ده وائي چې د غه وخت د خوړ کانېي د فقیر بابا



(c) ketabton.com: The Digital Library
www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کرامت سره سره او سپین شو د فقیر بابا د عبادت ځائے د غه وخت کښې د تنکارو غرو نه وو چې د هغې سره لوې ځوړونه وچ پراته وو۔

یو ورځ فقیر بابا ؒ خپلو زامنو د لښکرې اخوند احمد صیب چې ډېر لوې عالم فاضل او بزرګ وو ته د شریعت دپاره بوتلو چې زموږ پلار ځان ملنګ او فقیر کړے دے سماع ئې شروع کړے هر وخت د جذب ومستۍ په حالت کښې وي د شریعت نه خلاف کارونه کوي اخوند صیب چې د فقیر بابا جذب ومستي ولیدله نو دې فرمائیل چې دوي فنا فی الله دي د معرفت او سلوک د لاره خبردار دے او د شریعت خلاف نه دي فقیر بابا هغه ځائے کښې داسې وائي۔

که قاضي صیب زما په شانې مست شي
تو ددۀ زما به هله شریعت شي
خار کېږي که نۀ وي نۀ وي
د فقیر به څۀ وي څۀ وي

وائي چې هر کله د فقیر جمیل بیګ د اشرف خان د زوې اود خوشحال د نمسي محمد افضل خان خټک سره ذړۀ بدا وے را غلو نو هغه وخت هغوي د افضل خان د مدافعت په غرض سوات ته لاړو اود حمزه خان بایزي چې ډېر لوې سردار وو د تهانه سوات



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوسپدو ښکے وو د خوشحال بابا ا خښیے وو زامنو ته یې خپله
ګرانه ښکاره کړه چې نو وا یې چې جلال خان او جمال خان ورته امداد
ورکړو او ورته یې او وے چې دې وخت کښې مهران نه روګنې
ورکړې یې په مووو قتلان خان چې د دوې رود وو د هغوي دَ
امداد نه انکار اوکړو په دغه وخت جمال خان بابا د مستۍ او
جوش نه دا سې اووئیل -

اس دې وې په ښ دې وې
مهران کۀ نۀ وي نۀ دې وې
جلال دې وی جمال دې وې
قتلان کۀ نۀ وی نۀ دې وې

او دغه وجه ده چې نن د تهانړې سوات د خانانو کورنۍ د
فقیر بابا په دُعا رنګ ده او د جمال خان او جلال د اولاده نوڼ
شوه ترقي یې اوکړه
وائي چې یو ورځ د مغلو په وخت کښې د اټک صوبیدار ډېر
ظلم کړے وو تول علاقه یې لوټلې وه د هزارې نه خلق دَ
قافلې په شکل کښې راغلل چې ده بندیوان کړل او تول مال حال
یې ترې وا خستو - خلق فقیر بابا ته په ژړا ا ښګولا را غلل
چې د صوبیدار نه زمونږ مال حال او خلق را خلاص کړي هغه
وخت جمال خان بابا په بېړۍ رکښتۍ کښې سورېدو نو دا
اشعار یې اوو ئیل -

~



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

څوک به دروي خدای د پاره
فقیر دروي خدای د پاره
پاک رسول ورسره مل دے
بدرګه له څلور یاره

او هر کله چي ببري ته سور شو نو داسي وائي -

ببریه څه د خدای په حکم
څه به ظالم څه به ده بندي کوونه
فقیر شو مل د مظلومانو
خدای يې وی مل چي بنديوان آزادو

او هغوي چي د غه ظالم صوبیدار ته مخامخ شول نو په صوبیدار رپیدل او ښکیدل او تي بوتي يې شروع کړي ټول مال حال او خلق يې ترې راخلاص کړل ده سره به اکثر په ګڼ تعداد کښي مریدان ګرځیدل دے به ترې مخکښي دو مریدان به ورپسي وو او دا اشعار به یې ویل -

دور دور د فقیر دے
د غافل په صورت ویر دے
د غافل په صورت ویر دے
دور دور د فقیر دے

وائي چي یو وخت داسي راغلو چي باران نه شول فصلونه او چیدل قحط سالي شوه خلق تنګ شول او فقیر بابا ته په ژړا انګولا راغلل چي خدای پاک ته سوال اوکړه چي باران شي هغوي هغه



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

وخت د جلال په حالت کښې چغه کړه.

تخط سالي ډېره په زور ده
پړ پوستلي کور په کور ده
باران دے وروېښه
څوک کړه که نهٔ وي نهٔ وي
تنګارو باندې باران دے
فقير نن ورځ مهربان دے
و ارمان پلې ارمان دے
ورپسې لے نن باران دے

د الله پاک کارونه ګوره هغه خلق چې واپس شول نو په
دغه ورځ لوي الله باران اوکړو د فقير بابا سوال قبول شو
او فصلونه بنېرازه شول دا هم يو روايت دے چې هر کله فقير
جميل بېګ خپلو زامنو اخون احمد صيب ته شريعت د پاره بوتلو
نو هغه وخت کښې دا اشعار هم ويلي وُو.

موټه چنې دې راکړے شه
چې درسته شپه مې چنګه وي لکه چرچنې
د نيمې شپې راتلل دې روک شه
چې چرچنې برچه دې خوب نهٔ راکوينه

هر کله چې د لوي خدائے پاک په عشق کښې به ترلړې لاړو فنا
في الله به شو د جذب او مستۍ حال به پرې داغلو نو چغه به



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

به یې کړه دا شعر به یې وېشلو -

هغه موزیان به د نیا غواړي
دې عاشقانو ستا په لار کښې او بازله
سرومال ټول عاشقان داؤ کا
دا موذي تش لاښي کوي چې مېښ ټه

دا وه دد غه لوي ولي الله - صوفي - عالم د شاعرۍ متعلق څېړنه چې د لته وا ضحه شوه چې د خوشحال بابا نهٔ صرف زامن شاعران وو بلکه د هغوي زوړ چې د معرفت لار یې خپله کړې او هر وخت به په جذب و مستۍ کښې وو خوخپل خاندانې روایات یې چرې هم هم مرکون ته نهٔ دي ورکړي او ژوندي یې ساتلي او دې منظومو ټو ټو نه دا هم معلومه شوه چې دوي د جلال تخلص سره د فقیر تخلص یې هم خپل کړې دے او په منظومو ټو ټو کښې یې استعمال کړے دے لوي الله دې اوکړي چې دده د ژوند ټول حالات او دیوان او نور کتابونه د تیارونه رڼا ته شي او نوے معلومات دا ښکاره شي د دوي د پیدائش کال نهٔ دے معلوم البته د وفات کال یې معلوم دے دا بجد و په حساب یې دا رنګه دے

چون رفت از جهان این کرامت خدیو
به "جزق" اموز عالم " غریو"

ددې نه ۱۱۱۶ هـ جوړیږي ځنې محققین یې په قیاس څخه زیږیدنه ۱۰۷۲هـ ښائي اولاد یې د پښتونخوا په ګوټ ګوټ کښې پروت دے په



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تنکارو کېږي چې د جهانګیرۍ او اکوړي نه سهیل په لور د غرونو په منځ کښې کلي دے هلته ئې مزار دے د پښتو نخواه د لرې لرې نه ورته عقیدتمند راځي او فیض ترې اخلي د صفرې په میاشت کښې پرې عرس او میله کېږي -

## کتابونه


۱- پښتانهٔ شعراء دریم ټوک د افغانستان د پښتو ټولنې د ادبیاتو او تاریخ د څانګې له اړخه ۱۳۴۲ ه ش -

۲- کاکاخېل شمس الدین میاں مناقب فقیر جمیل بېګ د میاں فردوس شاه فقیرخېل په سریزه د انجمن اتحاد فقیرخېل جهان آباد اکوړه خټک له اړخه ۱۹۷۹ء

۳- خدمتګار بختانے عبدالله پښتانهٔ شعراء پنځم ټوک د افغانستان د علومو اکېډمي ۱۳۰۷ ه ش -

۴- رضا محمد افضل پروفیسر پټ ستورې پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي کال ۱۹۸۲ء

۵- خټک خوشحال خان فراقنامه د ژبو او ادبیاتو پوهنځي کابل ۱۳۶۳ ه ش

۶- عارف عثمان دکتور خوشحال خان خټک او ددهٔ ادبي مکتب د افغانستان د علومو اکېډمي ۱۳۶۱ ه

۷- کاکاخېل سیاح الدین تذکره شیخ رحمکار اداره اشاعت العلوم جامع مسجد لائلپور




www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۸- مجله پښتو پښتو اکېډمي پېښور یونیورسټي سټمبر ۱۹۷۱م
۹- هېواد مل ز لمی فرهنګ زبان وادبیات پښتو دافغانستان د علومو اکېډمي ۱۹۷۷م
۱۰- ماهنامه الحق دارالعلوم حقانیه اکوړه خټک اکتوبر ۱۹۸۰م او اکتوبر ۱۹۸۱م

---



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# په تحقیق کښې د ماخذ اهمیت

تحقیق د عربۍ ژبې لفظ دے په پښتو ژبه کښې د څېړنې- لټون- چاڼول د څهٔ څیز بنیادي حقیقت معلومول. دیو څیز پوره کره کتنه معنی لري په انګریزۍ ژبه کښې ورته ریسرچ (RESEARCH) وئیلے شي چې معنی ترې پخپله ظاهرېږي. په نورو معنو کښې د تحقیق مقصد دا دے چې په علم وادب کښې سوچه جوته جدا کول د پوستکي نه مغز راویستل- حق د باطل نه جدا کول- تحقیق د مخصوصو حالاتو او مخصوصو شهادتونو او روایاتو په رڼا کښې د یو حقیقت تلاش دے- او په اصطلاحي توګه د تحقیق مطلب دا شو چې یا خو دې نوي حقائق وړاندې کړے شي او یا دې د معلوم شوي حقائقو نور زیاته تشریح او تفسیر او شي او وسعت دې په کښې پیدا کړې شي چې په علم او معلوماتو کښې اضافه اوکړي- تحقیق په هر میدان کښې کېدے شي کهٔ هغه سائنسي ځائګه وي او کهٔ ادبي کهٔ تاریخي ځائګه وي او کهٔ جغرافیائي ځائګه تحقیق په هره ځائګه هر اړخ هره موضوع او کهٔ په هرمیدان کښې وي دا د پرګسان



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

اوکړکېږي کار دے د تحقیق میدان ډېر ارت میدان دے په دې میدان کښې د محقیق اسونه ستړي شي محقیق په کښې بې‌ساه شي وارخطا هم شي خو سره د دې به حوصله نهٔ بائیلي خپل مرام ته به ځان رسوي د دې شال د سمندر هم دے چې په سمندر کښې د ملغلرو موندلو دپاره لامبو وهل وي او دغه لامبو دومره په مشکله اوګرانه وهلے شي چې کله کله په کښې د ډوبېدو ېره هم وي خو دغه ملغلرو پسې به ځان د سمندر تل ته رسول وي او دغه ملغلرې به د دغه تل نه را ویستل وي نو هله به لامبوزن خپل مقصد کښې کامیابي مومي داسې د پښتو ناک او دلچسپ علم دے تر اوسه چې چا هم تحقیق کړے نو خپل تحقیق ته ئې ختمي نهٔ دے وئیلے او نهٔ تحقیق ختمي کېدے شي د تحقیق دپاسه تحقیق کېږي - د تحقیق دپاره د خارجي او داخلي شهادتونو ضرورت وي که چرې مونږ په یو شاعر تحقیق کوُو نو د هغهٔ د زمانې تیاکل د هغهٔ د نیک او د هغهٔ د شاعرۍ په انداز بیانې ژور نظر اچول او بیا د تحقیق په قالب کښې اچول پکار دي دغه شان د هغهٔ شخصیت د هغهٔ وخت د ژوند حالات - زېږېدنه - استوګنه وغیره د هغهٔ د خپل کلام په رڼا کښې او د هغه زمانې د نورو پوهانو د لیکونو او کلامونو په رڼا کښې به ئې رایې قائمول وي د هغې نه پس چې هرکله دغه مواد پیدا نهٔ شي نو بیا به د چاپېرچل نه حالات معلومات حاصلول وي که په هغهٔ نور چا په روستو زمانه کښې څهٔ لیکل کړي وي د هغې په رڼا کښې به رایې قائمول وي - په تحقیق د پرلوے بحث کېدے شي او د دغه بحث په رڼا کښې پرې کتابونه لیکلي



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم شي نو دلته چې کومه موضوع ده هغه د ماخذ اهميت دے د تحقيق دپاره به د روښني هغه ماخذ ذرائع - مصادر تلاش کول ي او جمع کول ي چې د کوم په بنياد چې به محقيق خپله را ټې پېش کوي او يا د کوم په بنياد - به محقيق د خپل تحقيق ابتدا کوي او خپل مرام ته به ځان رسوي د تحقيق دپاره چې کوم ذرائع - ماخذات او مصادر استعمالول دي د هغې ډېر زيات په دې ميدان کښې اهميت او ضرورت دے ولې چې بغير د دې نه تحقيق نه شي کېدے د دې مثال د يو عمارت بنياد وي ترڅو چې د عمارت بنياد دپاره کانړے خته - او نور لوازمات نه وي تيار نو عمارت نه شي جوړېدے د غه شان د تحقيق دپاره ماخذونه او ذرائع د کانړي او خښتې کار ورکوي -

د ماخذونه ذرائع په دوه قسمه تخنه دي چې يو ته بنيادي يا ابتدائي ذرائع - ماخذات - مصادر وئيلے شي او دويمه ته ثانوي ماخذ يا ذرائع وئيلے شي - چې په انګرېزۍ کښې ورته دا رنګه تکي استعمالېږي -

۱- بنيادي ماخذ (PRIMARY SOURCES)

۲- ثانوي ماخذ (SECONDARY SOURCES)

دلته به لږ تشريح يا تفصيل بيا نول پکار دي چې لوستونکي ته اسانه شي -

## ۱- بنيادي ماخذ يا ذرائع :-

محقيق چې هر کله په يو موضوع تحقيق کوي



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو د هغې موضوع سره تعلق لرونکي پیوست ماخذونه بنیادي ماخذ کنړلے شي او په دې کښې هغه دستاوېزات شامل دي چې په هغې کښې د هغه واقعاتو ریکارډ موجود وي چې تحقیق کونکي یا نیکونکي په خپله لیدلي اورېدلي وي یعنې په بنیادي ذرائعو کښې د موقع شهادت زیات اهمیت لري چې په هغې سره د تاریخ په معقولیت کښې اضافه وشي او هر قسمه شک شبه ختمه شي د " بجے - یونس د بیټس " په وېنا سره مؤرخینو بنیادي ماخذ یا مصادر په دوو قسمونو کښې تقسیم کړي -

## ۱- بنیادي مخطوطات:-

په دې کښې ذاتي کاغذونه - دستاوېزې ریکارډونه مرکې او نور متفرقه څیزونه شامل دي -

## ۲- د مرکزي حکومت مطبوعات:-

په دې کښې د صوبائي حکومت مطبوعات خود نوشت سوانح عمري یادداشتونه تقریرونه د خطونو مجموعې او نور معاصر مضمونونه شامل دي -

د بنیادي ماخذ شال ګران او محترم محقیق - نقاد - شاعر - ډرامه نګار پوهان همایون صاحب په خپل تالیف د تحقیق فن کښې په صفحه ۵۶ داسې رنګ کښې ورکوي -

ډاکټر جمیل جالبي پخپل تصنیف تاریخ ادب اردو جلد اول کښې د قطب شاهي دور د شاعرانو د قلمي نسخو او مطبوعه تصانیفو ذکر کړے دے د دې کښې څنې

www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

تصانیف د صفحه د نظره تېر شوي دي او د ځینو ذکر یې د قطب شاهي دور د نورو محققینو د تحقیقي مقالو په حواله کړے دے. د دې سلسله کښې ډاکټر جمیل جالبي د قطب شاهي دور د معراج نامو، وفات نامو او قلندر نامو هم ذکر کوي لکه د خپل کتاب تاریخ ادب اردو جلد اول په صفحه ۲۹۲ - ۲۹۳ لیکي - " سید بلاقي په ۱۰۵۳ھ/۱۶۴۳ء کښې د معراج نامې په نامه کتاب اولیکلو. "

د دې معراج نامې نسخه ډاکټر صیب په خپلو ستنکو لیدلې ده چې حواله دا ئې ورکوي -

معراج نامه (قلمي) د انجمن ترقي اردو پاکستان نه علاوه اته نورې قلمي نسخې زما تر نظره تېرې شوې دي چې د تصنیف سن په کښې ۱۰۵۲ھ ورکړے شوے دے.

په دې عبارت کښې د سید بلاقي د معراج نامې ذکر د بنیادي ماخذ حېثیت لري دا څو د بنیادي ماخذ یو مثال چې د ته پېش کړے شو.

## ۲- ثانوي ماخذونه:-

کله چرې یو لیکونکي یا محقق په خپله مقاله کښې د حوالې په توګه د بل دویم لیکونکي په حواله اقتباس درج کړي نو دا سې حواله یا اقتباس ثانوي ماخذ په حېثیت کښلے شي په دې کښې نصابي کتابونه جنتري یانې قیمي سرکاري اطلاعات - ذاتي بیانونه - تصویري مجموعې وغیره د ثانوي ماخذ حېثیت لري د دې ماخذ مثال به په دې دول ورکړو د افغانستان سر محقق ګران او محترم زلمے هیوادمل د خپل تالیف "په هند کښې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه"



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په صفحه ۱۰۷ باندې یې اقتباس دبل په حواله ورکوي -

"دیوان ریخته په پارسۍ او هندۍ ژبو دده دیوان دے چې هندي تذکرو ئې هم یادونه کړي او مفتي ولي الله وایي دي چې نواب محبت خان په پارسۍ ژبه یو قومي دیوان لري "

په دې اقتباس کښې دا ظاهرېږي چې د غه دیوان زلمي هیوادمل په خپله نۀ وو لیدلے بلکه د مُفتي ولي الله په حواله او د گلستان رحمت په حواله د اقتباس نیکل دا وُو د ثانوي ماخذ شال حُنې محققین د اقتباس حواله نۀ ورکوي د مصنف چا چې اقتباس لیکلې وي نوم هم نۀ ورکوي بلکه دا سې تړې ښکاري چې دا دده خپل معلومات دي دا یو ډېر غلط کار او غلطه طریقه ده په دې د تحقیق مقصد ختم شي -

## کتابونه


۱- ایم سلطانه بخش ډاکټر- اُردو میں اُصول تحقیق (انتخاب مقالات) جلد اول -مقتدره قومی زبان اسلام آباد ستمبر ۱۹۸۹ء

۲- ایم سلطانه بخش ډاکټر- اردو میں اصول تحقیق (انتخاب مقالات) جلد دوم مقتدره قومي زبان اسلام آباد ۱۹۸۸ء

۳- هما محمد همایون - د تحقیق فن
اداره فکر و ادب مردان ۱۹۹۲ء

۴- هیواد مل زلمے - په هند کښې د پښتو ژبې او ادبیاتو دریجاد او ودې پړاوونه - شرکت پرنټنگ پریس لاهور ۱۹۹۲ء

۵- کاشمیری تبسم ډاکټر " ادبی تحقیق کے اُصول مقتدره قومی زبان اسلام آباد.




www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

# پښتو نثري ادب

پښتو ژبه په ادبي لحاظ سره عالمان او پوهان په دوو حصو کښې تقسیموي چې یوه نظم ده او بله نثر پښتو ادب کښې نظم ډېر لویه حصه لري او نثري ادب ته ډېره کمه توجه ورکړې شوې ده د امیر کروړ نظم د شیخ متیؒ مناجات د بیټ نیکه دعا او د غه شان نور ډېر اشارچې په نظم سره دي او ښکاره دي دغه سلسله تر اوسه جاري ده چې نثر کم او نظم زیات لیکلې شي ددې وجه دا هم کېدے شي چې په نظم کښې کوم خوږ والے او سرور دے هغه په نثر کښې نیشته د نظم په ذریعه شاعر خپل خیالات نظریات د بل ذهن ته ډېر په اسانه رسولے شي او تر ډېره وخته پورې په زړه کښې ساتلے شي نظم ډېر زر د انسان جذبات او احساسات را ولړځوي او د نظم ویونکي خیالات خپل کړي دا هم څه د نثر په ذریعه هم کېدے شي خو نثر د انسان ذهن ته ډېر په اسانه نه پرېوځي خو ادب چې څومره زیاته ترقي موي نو هغه د نثر په ذریعه کېدے شي نثر یو ډېر وسیع او فراخه میدان دے په دې کښې د ادب هر یو صنف ځائېدے



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

شي او دا د نثر کمال دے چې موږ د افسانې - ناول - ډرامې په ذریعه د معاشرې اصلاح په ښهٔ طریقه کولے شو او د دغه تخلیقي اقدارو په وجه موږ خپل ادب ژوندے او ښېرازه ساتلے شو په بل اړخ په تحقیقي او تاریخي مېدان کښې د نثر ډېر لوے مقام دے د دې په ذریعه موږ د خپلو اسلافو کارنامې او خپل دیني اقدار هم بل ته په سرلوړۍ سره وړاندې کولے شو نثر ډیکل ډېر ګران اود سرخوږي کار دے نثر څهٔ ته وائي د نثر تعریف څهٔ دے د نثر تعریف ستر محقق ارواښاد عبدالحلیم اثر افغاني په خپل کتاب پښتو ادب چاپ اداره اشاعت سرحد پېښور ۱۳۷۰ھ په صـ۲ څهٔ دا رنګه کوي -

نثر په لغت کښې ښندلو - پاشلو او خورولو ته وائي او په اصطلاح کښې هغه کلام دے چې د وزن د قېد نه خالي او آزاد وي -

ستر محقق ارواښاد ډاکټر سید انوارالحق په درې میاشتینۍ مجله پښتو جلد اول ګڼه ۲ کال ۱۹۵۸ء صـ۹۶ باندې د نثر تعریف داسې کوي -

نثر په اصل کښې د عربۍ ټکے دے او معنائې نوستل خورول او شیندل دي اصطلاحي معنائې ده د نظم ضد نحو ادیبانو او عالمانو د نثر دپاره علمي تعریف دا مقرر کړے کلام چې په څهٔ وزن یا بحر کښې تړلے نهٔ وي نثر دې یا داسې او وائي چې د وښلو - ډیکلو



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د لوستلو عامه هيغه ټيغه ساده او بې تکلفه ژبه چې
د وزن او قافيو د ترون نه آزاده وي او سړے په
کښې د هر قسم مفهوم او مطلب په ډېر اسانۍ او
ازادۍ سره بيانولے شي نثر دے

دا څو وو د پښتو ادب د محققينو او پوهانو د نثر باره کښې
تعريفونه او س گورو چې د خارج پوهان (مستشرقين) د نثر
متعلق څۀ وائي د پښتو نثر ته کوم کښې نومې کتاب تاليف د ستر
محقق او وا بناد عبد الحی حبيبي د افغانستان د علوموا کېډمي
له خوا په ۱۳۶۰ ه ش کښې چاپ په صفحه ۳ باندې ليکي -

۱- ملټون وائي : چې نثر هر څو مره ساده او دلکش
وي هغه مفيد وي -

۲- کالوج ليکي : فصيح او مناسب الفاظ چې وزن نۀ
لري نثر دے -

۳- موسيو روزوان وائي :- دانسان په ژبه يا قلم
کۀ کوم خيالات ښکاره شي او بې وزنه وي هغه
نثر دے -

د دې تعريفونو نه معلومه شوه چې نثر هغه دے چې د قافيې
او د وزن يا بحر د قيد نه آزاد وي او نظم په وزن - قافيه
رديف پوره وي -

## د نثر قسمونه :-

نثر په دوه قسمه دے (الف) د معنا په لحاظ (ب) د لفظ



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرليکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

په لحاظ - (الف) د معنا په لحاظ نثر درې قسمه دے چې هغه په دا رنګه دے -

۱- موږ چې د یو بل د پوهولو د پاره کومې خبرې اترې کوو یو قسم دا دي

۲- دویم قسم ته خطابه یا وینا وېلے شي په دې کښې تقریرونه - بیانونه - د وینا کانې چې عالمان او پوهان یې په جرګو - غونډو محفلونو او ټولنو کښې کوي دا هم د نثر په قسمونو کښې شمارلے شي په لیکلو کښې کم او په وېلو کښې زیات وي -

۳- تحریري نثر هم د نثر یو اهم قسم دے لکه چې د نوم نه ظاهره ده چې دا نثر د لیک لاسې راځي او په کتابونو رسالو - اخبارونو د نورو علمونو د مطلبونو د پاره په تحریر یا لیکلو کښې چې کومه وینا راځي دا تحریري نثر دے دا نثر د مطلب او مضمون په لحاظ سره مختلف قسمونه لري او د ډېرو نثر د مختلفو اړخونو سره تعلق لري لکه تاریخي - مذهبي - اخلاقي - سیاسي - تحقیقي - اجتماعي ادبي وغیره دا نثر د معنا په لحاظ دوه قسمه لري -

یو ته ساده سلیس نثر وایي دویم شاعرانه او د انشاء پردازۍ نثر دے د دویم قسم نثر ته ادب لطیف او منثور ادب هم وېلے شي -

(ب) نثر د لفظ په لحاظ دوه قسمه دي چې هغه دا رنګه دي

۱- قافیه دار او مُسَجَّع او مرصع نثر -



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

۲- ساده نثر چې قافیه نهٔ لري په دې وخت چې کوم نثر په اخبارونو - رسالو کتابونو کښې چاپ کېږي دا په دې نثر کښې لیکلے شي-

## پښتو ژبه کښې د نثر ابتداء:-

پښتو ادب کښې په نظم کښې ډېر کتابونه لیکلي شوي او نظم د نثر نه مخکښې وجود کښې را غلے - په پښتو ژبه نظم د امیرکروړ (۱۳۹هـ) نه راوُشا شروع کېږي او د پښتو نثر متعلق معلومات په امکاناتو او قیاساتو مبني دي پوره معلومه نهٔ ده چې ابتداء کله او شوه عالمان او پوهان د افغانستان د ستر محقق اروا ښاد عبدالحی حبیبي مونږ له کتاب "پټه خزانه" چې د محمد هوتک تالیف دے او په ادبي حلقو کښې متنازعه حیثیت لري د هغې په واۍ چې د پښتو د نثر ابتداء د ابو محمد هاشم سرواني (۲۲۳هـ - ۲۹۷م) نه راوُشا شوې ده او دهٔ د عربۍ د اشعارو فصاحت او بلاغت په پښتو ژبه کښې په نثري توګه یو کتاب د "سالو وږمه" په نوم او لیکلو معنائې ده "ریګستاني نیمځ" دا کتاب ورک دے او محمد هوتک په پټه خزانه کښې د لرغوني پښتانهٔ" چې د شیخ کټه" تالیف دے نه روایت راخستے دے نو دا مونږ په یقین سره نهٔ شو وئیلے چې دا به د نثر رومبنې کتاب وي ولې چې چاپېد له نهٔ دے او وجود ئې



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

نیشته په قیاس او امکان دا خبره مبني ده - د غه شان د
دې نه پس یو بل کتاب د تذکرة الاولیاء د سلیمان ماکو چې
په ۶۱۲ هـ کې خواوشا کښې تیر شوی دی . د قندهار سره نژدې په
ارغسان کښې اوسېدو ځینې عالمان وائي چې دا کتاب د پښتو نثر د وهمې کتاب
دی وائي چې څو پاڼې یې ارواښاد حبیبي موندلې دي او په د غه
پاڼو کښې د شیخ بیټنی . شیخ ملکیار، شیخ اسمعیل، شیخ بختیار
غوندې د لویو ولیانو ذکر شوی دی دا کتاب د فرید الدین عطار د
فارسي د تذکرة الاولیاء غوندې یو تذکره ده چې په کښې د غه
وخت د لویو لویو ولیانو ذکر شوی څو ځینې عالمان او پوهان دا
کتاب د پښتو نثر د وهمې کتاب نه مني ځکه چې دا مکمل کتاب نه
دی موندلی شوی بلکه څو پاڼې موندلې شوي زما په خیال که
دا څو پاڼې هم په پښتو نثر کښې شته نو دا د نثر ابتدا او وه په
اکثریتي توګه چې عالمان او پوهان په کوم کتاب متفق دي چې
دا د نثر او لنی کتاب دی هغه د سترصو في مبارز . تودیال پیر روښان
عبدالله ارمړ بایزید انصاري کتاب "خیر البیان" دی چې د موندلو
اعزاز یې د پښتو اکېډیمۍ پښتو یونیورسټۍ دا ټوپکتي ارواښاد
مولانا عبدالقادر ته حاصل دی چې د جرمني د کتابتون نه یې مایکرو
فلم په شکل راوړو او چاپ یې کړو ددې نه معلومه شوه چې د
پښتو نثر ابتدا د سلیمان ماکو د تذکرة الاولیاء دد غه موندلو شوو
پاڼو نه شوی او د نثر د وهمې کتاب خیر البیان دی ددې کتاب
نه پس په پښتو نثر کښې د بایزید روښان مخالف ستر عالم اخوند



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

درویزه مخزن الاسلام ولیکلو د اکتابونه په مسجّع او مرصّع نثر کښې لیکلې شوي دا د نهمې صدۍ نه تر یولسمې صدۍ پورې دور وو ددې نه پس په دې دور کښې نورو عالمانو هم لکه کریمداد دَ اخوند درویزه زوی - بابوجان ، ملا مست زمند ، الله یار - اخون قاسم هم په پښتو نثر کښې کتابونه اولیکل نو یو اځې بایزید روښان د پښتو نثر ډیر ښه کتاب اولیکلو بلکه د پښتو رسم الخط خاص الفاظ ئې هم وضع کړل د غه دور کښې ټول کتابونه په مسجّع او مرصّع نثر کښې لیکلې شوي په دې دور پسې د خوشحال بابا دور را ځي چې په دغه دور کښې نثر ساده سلیس او په خوږ انداز کښې شروع شو او د خوشحال بابا کورنۍ ددې نثر ابتداء اوکړه د خوشحال بابا دستارنامه او دَ زامنو عبدالقادر خان خټک ګلدسته - ګوهر خان خټک قلب السّیر دَ افضل خان خټک چې د خوشحال بابا نمسے وو تاریخ مرصّع - علم خانه دانش وساده نثر ابتدائي خوښ ناکې نمونې دي او تر اوسه د خان بابا خاندان د پښتو ژبې خدمت ته ملا تړلې ده او پښتو ژبه ئې په هر میدان کښې ځلنده او ښکاره کړې او ژوندۍ ساتلې ده ددې دور نه پس چې کوم دور را ځي په د غه دور کښې نثر هم مخ په وړاندې ځي او ترقي کوي په کښې محاورې - متلونه ښائسته او خوښ ناکې لنډې جملې استعمال شوي د غه او سنے دور دے په افغانستان کښې ددې دور د نثر د میدان نوموړي مولوي صالح محمد غلام محي الدین افغان ، مولوي عبدالرؤف قانع - زمریالے - خادم دے او په شمالي پښتونخوا کښې مولوي سید احمد شاه رضواني ، منشي احمد جان ، سید راحت زاخیلي



www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library

مولوي احمد د تنګي او داسې نور پېښاوري پوهان عالمان تر اوسه پورې د پښتو نثر ته بشکلا او ځلا ورکوي خو بیا هم په روایتي توګه نظم د نثر نه په پښتو ادب کښې مخکښې او زیات دے او نثر کم پوهانو ته پسکاردي چې نثر ته زیاته توجه او پام را وګرځوي که هغه افسانه وي که ډرامه که ناول وي او که تکل تحقیق وي او که تاریخ په هر صنف او اړخ دې په نثر کښې زیات پکل او کړے شي

## کتابونه:


۱- اثر عبدالحلیم پښتو ادب اداره اشاعت سرحد پېښور ۱۳۷۰ه

۲- رښتین صدیق الله د پښتو نثر هنداره یونیورسټي بک ایجنسي پېښور -

۳- د افغان یا د کابل پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي ۱۳۶۰ه ش

۴- رضا محمد افضل د پښتو نثر تاریخ عظیم پبلشنګ هاؤس پېښور ۱۹۶۸ ع

۵- رفیع حبیب الله د پښتو نثر خوانۍ رتنه کوي د افغانستان اکاډمي د تاریخ او ادب ټولنه ۱۳۵۰ه ش -

۶- مریم بي بي د پښتو نثر تاریخي او تنقیدي جایزه - تاج کتب خانه پېښور ۱۹۸۶ ع

۷- حبیبي عبدالحی پښتو نثر ته کره کتنې پښتو ټولنه افغانستان علومو اکېډمي ۱۳۶۰ه ش -




www.ketabton.com : د پښتو کتابونو پرلیکه نړۍ

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**